Jalil Dadman



Peace Publish Center

دا د افغانستان د اوبو حقوقي، اقتصادي او سیاسي ماهیت رانښیي.

# د افغانستان د اوبو حقوق

## «نړیوال قواعد او د ګاونډیو اندیښنې»

لیکوال: استاد برکت الله اریوبي
د پوهنتون استاد

# تقریظ

په نړۍ کې دا مهال اوبه او نفت (تېل) يو شان ارزښت لري. په متحده عربي اماراتو کې د يو ليتر تېلو قيمت له يو ليتر اوبو څخه ارزانه دی. په متحده ايالاتو کې تېل او اوبه کابو په يو نرخ پلور کېږي. نو پر همدې بنسټ اوبه مهمې دي او د اوبو په اړه مطالعه او څېړنه خورا مهمه. د باثباتې پراختيا يا Sustainable Development مفهوم دا دی چې په هېوادونو کې میشت نسلونه له خپلو منابعو څخه داسې ګټنه وکړي چې د راروانو نسلونو حقوقو ته زيان ونه رسوي. په منابعو کې اوبه هم راځي. په دې مانا چې موږ بايد د افغانستان له اوبو څخه داسې استفاده وکړو چې د راروانو نسلونو له اوبو څخه د استفادې حق ته مو زيان نه وي رسولای، که موږ په دې چاره کې بريالي يوو، نو موږ په حقيقت کې له باثباتې پراختيا څخه خوند اخلو.

د اوبو پر اهميت او ارزښت ګڼ ديني او فلسفي نقلونه شته دي او په هر عصر کې د نظر خاوندانو د اوبو پر ارزښت نظريات څرګند کړي دي. تر کومه چې په سياست او نړيوالو اړيکو کې د اوبو رول دی، نو په اوسنيو نړيوالو اړيکو او نړيوال سياست کې اوبه د يو مهم فکتور په توګه مطرح دي. افغانستان ته ګاونډيو هېوادونو د بدنيتۍ يو لوی لامل ښايي د افغانستان پريمانه اوبه دي چې ګاونډيو هېوادونو ته ور رواني دي. د ګاونډيانو بدنيتي ښايي د افغانستان پر بې ثباته کولو هم تمامه نه شي، ځکه چې که دې هېواد د ثبات او ارامی ساه واخيسته، نو خپلې اوبه پر خپلو دښتو وربرابروي او بيا به ګاونډيانو ته وړيا نه ورتوييږي.

مخکې له دې چې د اوبو د مديريت لپاره ستراتيژي او پاليسانې جوړې شي، د افغانستان اوبه او د اوبو سرچينې پېژندل په کار دي. په دې اړه څېړنه په کار ده چې د افغانستان د اوبو مديريت د کومو ملي او نړيوالو قواعدو تر چتر لاندې راتلای شي او په دې اړه عام نړيوال اصول څه شی دي؟ د افغانستان د اوبو مديريت يوه آني او

Jalil Dadman



ضروري اړتیا ده چې د ملي او نړیوالو اصولو په رڼا کې به حل کېږي. له نېکه مرغه دا موضوع زموږ ځوان علمي کادر ښاغلي استاد برکت الله اریوبي په دې کتاب کې څېړلې ده. ښاغلي اریوبي د یو مهار څېړونکي په توګه لومړی د افغانستان د اوبو د مدیریت مسئله د یوې ستونزې په توګه د لوستونکو مخې ته ایښې ده. بیا یې د دې ستونزې د ممکنه حل لپاره ملي او نړیوال اصول مطرح کړي دي او په پای کې د همدې اصولو په رڼا کې ستونزه تحلیلوي او ځان یوې نتیجې ته رسوي.

ښاغلي اریوبي په خپله دې څېړنیزه رساله کې له معتبرو منابعو څخه استفاده کړې ده، د لیکنې ژبه یې دقیقه او علمي ده. زه د دې کتاب لیکنې او چاپ ته له دې امله هم خوشحاله یم چې تر دې دمه د افغانستان د اوبو حقوقو په اړه ما داسې کوم مستند کتاب یا حتا مقاله هم نه وه لوستې. په دې اړه ښایي نورې ډېرې دقیقې او مشخصې څېړنې تر سره شي، خو له نېکه مرغه چې دا ور ښاغلي اریوبي پرانیست. زه د ننګرهار پوهنتون، د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د یو ډېر کشر علمي کادر په توګه د ښاغلي اریوبي دا کړی کار د سرو زرو په تله تلم او ویاړم چې موږ په خپل هېواد کې داسې علمي کادرونه لرو چې د خپلې څېړنې لپاره داسې ارزښتمنې موضوعګانې ټاکي او په خپله خوښه پرې لیکل کوي. د ښاغلي اریوبي د دغسې نورو ارزښتمنو څېړنو په هیله.

درنښت

پوهنیار هجرت الله اختیار

۱۳۹۶، دلوه، څلورمه

# لنډيز

د ملګرو ملتونو د خوراک پروګرام د څېړنو لمخې افغانستان هغه هېواد دی، چې د اوبو کافي سرچينې لري، خو په دې برخه کې د اوبو شته زېربناوې د چټکې اقتصادي ودې لپاره بسنه نه کوي. دا په داسي حال کې ده، چې افغانستان په کال کې په منځني ډول د ۷۵ مليارده متر مکعبه اوبو ظرفيت لري، خو نړۍ کې په کمه درجه اوبه زېرمه کوي.

د کابل له سيند پرته چې ځينې برخې يې له چتراله د کونړ سيند ته بهيږي، نورې ټولې اوبېزې حوزې د هېواد له دننه سرچينه اخلي او له هېواده بهر نورو ته بهيږي. دغه حوزې له پاکستان، ايران، ازبکستان، ترکمنستان او تاجکستان سره ګډه پوله جوړوي.

د پولې ها خوا اوبو په اړه افغانستان له ايران پرته، له بل هېواد سره هوکړه ليک نه لري. پر دې سربېره افغانستان د پولې هاخوا اوبو په اړه د ۱۹۹۲ او ۱۹۹۷ کال کنوانسيونونو غړيتوب هم نه لري.

د هېواد ټول پام تروريزم، امنيت، سولې او نشه يي توکو ته دی. د اوبو سرچينې هېره شوې موضوع ده. دا په داسي حال کې ده، چې د ځمکې تودوخه په لوړېدو ده او په سيمه ييزه او نړيواله کچه پر هېوادونو نېغ په نېغه اغېز کوي. پر دې مسايلو سربيره په هېواد کې د اوبو د سکتور د بهبود لپاره اغېزمن ګامونه کم تر سترګو کېږي. د ځمکې پېژندنې، اقليم او اوبو پېژندنې په اړه کافي او د اعتماد وړ اطلاعات نشته. لسيزې جګړې د دې لامل شوې، چې د اوبو پر سکتور د حکومت د تمرکز د ظرفيت کچه ټيټه شي.

د اوبو د سرچینې په پراختیا او مدیریت کې د افغان حکومت ناکامي په سیمه کې د بې ثباتۍ او ۲۰ تر ۳۰ سلنه په ملي عوایدو کې د کمښت سبب شوې، خو په دې وروستیو کې د حکومت لخوا د پام وړ ګامونه اخیستل شوي.

افغان حکومت د اوبو عالي شورا ترڅنګ، د اوبو منابعو په اړه د ملي پراختیایي ستراتیژۍ په چوکاټ کې پلانونه او اړوند مقررې شتون لري او د دې پلانونو په عملي کولو کې بیلابیل دولتي بنسټونه، مدني ټولنې او اړوندې نړیوالې مراجع دخیلې دي.

د دې سربېره د پولې هاخوا اوبو په اړه په تېرو کلونو کې کم توم پام شوی او د سیاسي حساسیت سره یوځای دا چاره پرمخ لاړه. دا چې افغانستان په ایران او پاکستان پورې له ډېرو اړخونو په تېره په اقتصادي لحاظ تړلی دی، دې موضوع هم پر دې برخې سیوری غوړولی او تراوسه افغان حکومت نه دی توانیدلی، چې ګاونډیانو سره په دې اړه یوې مشخصې او هراړخیزې حللارې ته ورسېږي.

له فني او تخنیکي اړخه د تېرو ۳۰ کلونو معلوماتي تشو ډکولو لپاره ښه فرصت دی، چې په دې اړه څېړنې وشي او حکومت پر دې برخه پانګونه وکړي. افغان حکومت ته په کار ده چې د کارپوهانو او متخصصینو روزلو ترڅنګ، نړیوالو معتبرو بنسټونو ته د اوبو د مدیریت او پراختیا په برخه کې خپلې هڅې لا ډېرې او د ملي او نړیوالو څېړنیزو بنسټونو ترمنځ د اړیکو په جوړولو سره د افغاني ظرفیتونو پر لوړولو کار وکړي.

مهم مفاهیم: کورنۍ اوبه، د پولې هاخوا اوبه، نړیوال قواعد، حاکمیت، حقوقي چوکاټ او نړیوال کنوانسیونونه

# څېړنيزه طرحه

## الف ـ د مسلې بيان

د افغانستان د اوبو له حقه موخه هغه حق دى، چې د نړيوالو اصولو او قواعدو لمخې افغانستان ته له خپلو اوبو د ګټنې په موخه ورکړل شوى دى. د افغانستان ډيرى اوبه له ډېر پخوا راهيسي له ګټنې پرته نورو ګاونډيو هېوادونه ته ځي: نو که اوس افغانستان غواړي دا اوبه مهار کړي، ګاونډيان به حتماً اندېښنه لري او خپل ملاحظات به په نظر کې نيسي.

په نننۍ نړۍ کې اوبه مهمه موضوع ده. د هېوادونو ترمنځ په اقتصادي، تجارتي، سياسي، فرهنګي او آن نظامي اړيکو اغېز لرلاى شي.

له اوبو ځخه ګټنه د يو لړ اصولو او قواعدو لمخې کېږي، چې د دغو قواعدو وړاندوينه د هېوادونو ترمنځ په دوه اړخيزو، څو اړخيزو او نړيوالو کنوانيسيونونو کې شوې وي.

البته اوبه هم په بېلابېلو برخو وېشل کېږي، چې داخلي اوبه، د ځمکې د مخ اوبه، ساحلي اوبه او د آزاد بحر اوبه، چې د ټولو دولونو ترمنځ يې توپير شته يا په ټوله کې اوبه د پولې له حيثه په دوه برخو وېشو: ملي اوبه او نړيوالې اوبه.

په افغانستان کې هم ملي او هم نړيوالې اوبه شته، چې زموږ ډېر تمرکز به پر نړيوالو اوبو وي؛ ځکه په دې اړه موږ له ګاونډيو سره ځينې اختلافات لرو، چې د نړيوالو قواعدو تابع دي.

د افغانستان د اوبو مسله له ګاونډيو سره د پولو په تثبيتولو پورې هم اړه لري؛ ځکه چې له مرکزي آسيا هېوادونو سره زموږ سرحد د آمو سيند دى. همداراز د هلمند سيند په اړه د ايران ادعا هم د تاريخي عواملو زيږنده ده، چې د اميرشېرعلي خان، عبدالرحمن خان او محمد ظاهر شاه په وخت کې له ګاونډيو

سره په دې اړه هوکړه لیکونه شتون لري.
له یوې خوا اوبه د ژوند لپاره اساسي توکی دی، د هېوادونو په پرمختګ، هوساینه او رفاه کې اغېز لري، بل پلو د اوبو مسله او کمښت په نړیوال سرخوږي اوښتی. اوبه اوس هغه د پخوانیو پیړیو کم ارزښته ماده نه ده، بلکې اوس اوبه رانه تیل هم ګڼل کېږي. په دې دلیل، چې د اوبو د کمښت ستونزه ورځ تر بلې مخ په زیاتېدو ده. وېره شته چې د لویو وچو ترمنځ د تېرو تاریخي دښمنیو او شخړو د بیا را تازه کیدو لامل شي.
دا چې افغانستان هم د یوه مستقل او خپلواک هېواد په توګه حق لري، چې له خپلو داخلي اوبو څخه ګټه واخلي او ګاونډیان هم خپلې اندېښنې لري.
د افغانستان د اوبو حق هم د ځانګړیو شرایطو او آثارو درلودونکی دی، چې په اړه به یې څېړنه وکړو.

## ب - څېړنیزې پوښتنې:

۱ - اصلي پوښتنه: د افغانستان د دولت لخوا د اوبو مهارول ولې د ګاونډیو اندېښنې راپاروي او په دې اړه نړیوال اصول او قواعد څه دي؟

۲ - فرعي پوښتنې:
د افغانستان د اوبو په اړه ګاونډیان ولې اندېښنه لري؟
د افغانستان د اوبو مهارولو توجیه کوونکي حقوقي اصول کوم دي؟
څېړنیزه فرضیه: ګمان کېږي چې د افغانستان د اوبو مسئله ګاونډیو سره د اړیکو پر څرنګوالي ژور اغېز کوي او د افغانستان لخوا د اوبو د مدیریت هڅې یاد هېوادونه اندېښمنوي.
افغانستان کې په لومړي ځل د سیاسي قدرت له سوله ییز لېږد وروسته او کله چې د اشرف غني په مشرۍ د ملي وحدت حکومت رامنځته شو، یو نوی فصل

پرانیستل شو.
ولسمشر په ځلونو ویلي، چې د افغانستان اوبه کنټرولوي. د افغانستان لخوا د دې تعهد تکرارول د داسې هېواد په توګه چې د نړیوالې ټولنې پر مرسته تکیه لري او د نړۍ او سیمې د بدلون لپاره د ځوړخېزې همکارۍ غوښتونونکی دی ، خورا اغېز لري.
په یو اړخیزه توګه د اوبو کنټرول او مدیریت ممکن افغانستان لا بې ثباته کړي او ګاونډیان د امنیت له پلوه پر افغان حکومت فشار راوړي، چې د دوی اندېښنې رفع کړي.

## ت - د څېړنې شالید( نظري ادبیات)

له کله چې افغانستان د یوه خپلواک او مستقل هېواد په توګه رامنځته شوی او ځینې پولې یې تثبیت شوې دي، له هماغه وخته یې د اوبو مسئله پر ستونزه اوښتې. تر دې را وروسته په دې اړه ډېر کتابونه او لیکنې شوې دي او دې مسئلې د ډېرو لیکواو پام جذب کړی.
د آلماني بنسټ( هاینریشن بل) لخوا د افغانستان د اوبو په اړه یو کتاب لیکل شوی، چې عنوان یې د منځنۍ اسیا د منابع دی. دا کتاب په کابل کې د ۱۳۹۴ په چنګابش کې د سعادت مطبعې لخوا خپور شوی دی.
یاد کتاب د ټولو اوبو په اړه تاریخي څېړنه ده. د اوبو د مدیریت په اړه ننګونو ته یې اشاره کړې، ملي او نړیوالو غبرګونونو ته یې اشاره کړې، د سیمه ییزو هېوادونو سره شته هوکړه لیکونه یې څېړلي او د افغانستان د اوبو د ښه مدیریت لپاره یې حللارې وړاندې کړې دي.
موضوع یې تر ډېره بریده په عام ډول څېړلې، سیاسي اړخ او د ګاونډیو په اړه یې څه نه دي ویلي او په دې اړه یې د نړیوالو قواعدو یادونه نه ده کړې.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستې رسونې دفتر(یوناما) هم د ۲۰۱۶ کال په اکتوبر کې د اوبو د حقوقو تر عنوان لاندې رساله خپره کړه.

یاده څېړنه چې په یوناما کې د قانون د حاکمیت څانګې له لوري ترسره شوې ده، تر ډېره یې د افغانستان پر کرنیزو اوبو حاکم قانوني چوکاټ ارزولی، د افغانستان د اوبو د حقوقو قانوني بنسټ یې را سپړلی، د اوبو د مدیریت هر اړخیزه تګلاره یې څېړلې او په پای کې یې د اوبو د شخړو قانوني ماهیت بیان کړی دی.

یاده څېړنه تر ډېره د داخلي اوبو په اړه بحث کوي او ګاونډیو سره د اوبو شخړې او نړیوال حقوقي چوکاټ پکې نه دی یاد شوی.

د علومو اکاډمی د سیمه ییزو څېړنو مرکز هم په ۱۳۹۰ کال کې د افغانستان د روانو اوبو او زېرمو تر عنوان لاندې په خپله ۱۵ ګڼه کې د اوبو په اړه بیلابیلې مقالې راټولې کړې. په مقالو کې د اوبو د ارزښت، د هلمند د اوبو د هایدرو پولتیک، د سویل ختیزو ولایتونو د اوبو، د فرعي حوزو د اوبو او په افغانستان کې د موجوده اوبو د زېرمو په اړه بحث شوی.

څېړنه تر ډېره عامه ده او پر جزیاتو یې بحث نه دی کړی.

د هلمند سیند په اړه د ایران او افغانستان د دولتونو ترمنځ اختلاف په نوم کتاب، غلام رضا فخاري لیکلی، عبدالقیوم زاهد مشواني پښتو کړی او په ۱۳۸۹ کال کې په جلال آباد کې د همدرد خپرندویه ټولنې لخوا خپور شوی دی.

یاد کتاب په دوو فصلونو کې رانغاړل شوی. په اول څپرکي کې د افغانستان او ایران ترمنځ تاریخي مسایلو ته کتنه کوي، د انګلیس او روسیې رول ارزوي او د دواړو هېوادونو د پولو تثبیتولو پر وړاندې شته خنډونو او ستونزو ته اشاره کوي.

په دویم فصل کې یې د هلمند د سیند په اړه تاریخي ارزونه شوې، له ایران سره شته هوکړې او په دې اړه یې سیمه ییزو ناندریو نغوته کړې.

د څېړنې روش:

تر ډېره توصيفي دی، موږ ارزونه کوو چې څنګه او د کومو عواملو لمخې د اوبو کنټرول د سيمې له هېوادونو سره پر اړيکو اغېز کوي.

## د څېړنې موخې:

- ✓ د افغان دولت لخوا د اوبو د سرچينو د مديريت او کنټرول پاليسي واضح کول
- ✓ پر ګاونډيو هېوادونو د اوبو د مديريت د اغېز څېړل
- ✓ د ګاونډيو د احتمالي غبرګون روښانول
- ✓ د هېواد پر اقتصادي وضع د اوبو مهارولو اغېز څېړل
- ✓ د سيمې پر ثبات د اوبو د مديريت اغېز څېړل
- ✓ په سيمه ييزو همکاريو يې د اغېز څېړل
- ✓ د اوبو د منابعو د مديريت په هکله نيمګړتياوې په ګوته کول
- ✓ د يادو نيمګړتياوو د سمون لپاره مشخص وړانديزونه

د څېړنې سازماندهي: پورتنۍ‌څېړنه په درېو برخو کې ترتيبېږي، چې اول به يې مفاهيم، کليات او په دې اړه نړيوال قواعد مطرح شي؛ په دويمه برخه کې به د افغان دولت لخوا د اوبو ستراتيژي په بيلا بېلو وختونو کې و ارزول شي، د ضعف او قوت ټکي به يې بيان شي او په درېيمه برخه کې به د افغان دولت لخوا د اوبو مهارول او سيمه ييزې کشالې تر څېړنې لاندې ونيول شي.

د څېړنې ستونزې: د ډېرو نورو څېړنو په شان په دې څېړنه کې هم له بېلابېلو ستونزو سره مخ کېږو. پر ملي ژبو د معتبرو کتابونو، رسالو او مقالو نه شتون، د وخت کموالی او تر ټولو مهمه يې؛ افغان حکومت د اوبو اړوند مسايل او مواد محرم بولي او په دې اړه د اړوندو دولتي ادارو نه همکاري هغه ستونزې وې، چې څېړنه يې يو څه پيکه کړې ده.

# لومړی برخه

## مفاهیم:

1 - په کور دننه اوبه: - د نړیوالو حقوقو لمخې کورنی اوبه د یوه هېواد په داخلي پولو کې له تولو سیندونو، ویالو او کانالونو څخه عبارت دي[1] او یا په بل عبارت، هغه اوبه دي، چې له سرچینې راوځي او تر لویو سیندونو د هېواد دننه رواني وي.

له دې امله نوموړی هېواد له دې اوبو څخه د هر ډول استفادې حق لري او کولای شي په هر ډول چې یې وغواړي ورڅخه ګټه پورته کړي.[2]

2 - د پولې ها خوا اوبه: هغه اوبه دي چې د دوه هېوادونو ترمنځ پوله جوړه کړي او یا د دوه یا څو هېوادونو په قلمرو کې وبهیږي.[3]

3 - حاکمیت: حاکمیت هغه کلمه ده چې په اړه یې فیلسوفانو، علماوو او د نړیوالو چارو کارپوهانو بېلابېل تعریفونه وړاندې کړي دي. په لنډه توګه ویلای شو، چې حاکمیت د هېواد او دولت عالي سیاسي اقتدار دی، چې لمخې یې پر داخلي او بهرنیو چارو کې خپلواک عمل کوي.

4 - نړیوال کنوانسیونونه: په بېلابېلو برخو کې د دوه یا څو دولتونو لخوا

---

[1] د نړیوالو بحري حقوقو ۱۹۸۲ کال کنوانسیون، اتمه ماده

[2] دکتر رضا ضیا بیگدلی، حقوق بین المللی عمومی، ۱۳۵۷، ۳۳۰ مخ

حسینی اشکوری، صادق ۱۳۹۰، «سند گزارش کارشناسی، تقسیم رود هیرمند و مشکلات خط سرحدی [4] ایران و افغانستان»، اسناد بهارستان، ۳ گنه.

تدوین شویو توافقاتو او هوکړه لیکونو ته نړیوال کنوانسیون ویل کیږي.

5 - نړیوال قواعد: یو سلسله اصول، مقررات او تګلارې دي، چې د ویتو حق لرونکو هېوادونو ته په بېلابېلو برخو کې د منلو وړ وي.

په اوبو حاکم نړیوال قواعد: په نړیواله کچه هغه اصول دي، چې د نړیوالو، سیمه ییزو او ملي سیندونو او سمندرونو څخه د ګټنې لارې چارې تنظیموي او د دیخلو هېوادونو حقوق او وجایب ټاکي.

6 - حاکم حقوقي نظام: د هغو اصولو، پرنسیپونو او حقوقي نورمونو ټولګه ده، چې پر یوه ځانګړې برخه حاکمه وي او لمخې یې د طرفینو حقوق او وجایب تنظیمیږي. د مثال په توګه، د هلمند د سیند په اړه حاکم حقوقي نظام، یانې چې ددې سیند له اوبو استفاده د کومو اصولو او هوکړه لیکونو لمخې کېږي؟ پدې اړه نړیوال قواعد څه وایي او څنګه د طرفینو حقوق او امتیازات ټاکي.

## اوبه، ژوند او زمونږ غفلت

استاد الفت کلونه پخوا لیکلي وو:

« د وچو ډاګونو ،دښتو او میرو له څنګه لوی سیند بهیږي، مګر دغې وچې بیدیا ته اوبه نه ورکوي. په دغسې وچکالی کې چې په اوبو سرونه ماتېږي، سیند لکه شوم په شتاب درومي او زموږ تندې ته نه ګوري.

کله چې سیند په خپو راشي کورونه او آباد پټي هم له ځان سره یوسي. همدغه سیند له موږ هغه خوا بل راز روان دی او له نورو سره یې رویه بل راز ده. هلته دغسې ورانی نه کوي، دومره بخل نه لري او دغه راز بې رحمي پکې نشته. هلته د سیند پر غاړه زرشویان د سیند له شګو نه زر راباسي.

ماهیګیران په کې په خروارو کبان نیسي او ښکاریان یې په لوی او ستر ډنډ کې هیلۍ ولي. هلته له سیند نه ډېرې لویې ویالې بیلې شوې دي، لوی لوی ډاګونه تر

اوبو لاندې شوه، کلي او ښارونه اباد شول.

ښارې ځمکې په ثمر راغلې، د غلو او میوو پکې څه کمی نشته. هلته د سیند په مخکې لوی، لوی بندونه جوړ شوه، د برېښنا ماشینونه ودرېده، دا سیند ولې دلته دغسې او هلته هغسې دی؟

موږ ته په قهر دی او پر هغوی پېروزوینه لري، دلته ډېر تُند او په خېزونو روان دی، هلته غلی او آرام بهېږي، دلته کوږ وږ ځي، په رښتیا چې سیند دلته ډېر ورانی کوي او هلته د یوه نظام او قانون تابع دی، چې وراني ته یې نه پرېږدي.

زموږ گناه د سیند پر غاړه ده، سیند له موږ نه ډېر څه وړي او ډېر یې رانه وژلي دي. دا سیند خوني سیند دی او له موږ سره یې زړه دښمني ده. څو ځله یې زموږ کورونه وران کړي او اباد پټي یې رانه په وار وار وړي دي.

زموږ ټوله گناه د سیند پر غاړه ده، سیند زورور دی او پر موږ باندې هر وخت ظلم او تیری کوي.

آه - موږ څومره ناپوه یو، چې دغه راز فکر کوو او ېخپله گناه نه پوهېږو. موږ رښتیا خپله گناه د سیند پر غاړه اچوو، د سیند پر غاړه خو موږ پراته یو، دا زموږ گناه ده، د سیند نه ده:

سیند له چا سره دښمني نه لري، سیند هر تږي ته اوبه ورکوي او د هر چا خیرنې جامې پاکوي، سیند پوخ کار غواړي او پاخه بندونه ورته پکار دي.

که زموږ کار پوخ وای او زموږ بندونه پاخه وای، زموږ ویالې نه وچېدې او زموږ پټي اوبو نه وړل.

موږ د سیند په بند وبست پوه نه شو او له سیند نه مو کار وانخیست. دا سیند د ژوند او حیات سیند دی. په ده کې د ورانۍ او ودانۍ دواړه قوتونه موجود دي. سیند د هر چا ظرفیت او استعداد ته گوري هغو ته اوبه ورکوي. د منگي خاوند او د منگوټي خاوند ته سیند برابره برخه نه ورکوي او نه وړو لښتیو ته د لویو ویالو په

اندازه څه ورکولای شي.

سیند د هر چا کار ته ګوري او هغسې ورسره کوي، یانې خام بندونه ورانوي او پاخه بند ته ځان تسلیموي. هغه څوک چې د ژوندانه سیند پخپل سر پرېږدي او یوه سمه مجرا ورته نه شي ټاکلی، له ژوند نه استفاده نه شي کولای.[٣]

## 1- د اوبو ارزښت

اوبه د انسان په ژوند کې د پام وړ رول لوبوي، د بشر لومړی راغونډېدنه هم سیندونو ته په ورځېرمه سیمو کې وه. ستر تمدنونه د اوبو او سیندونو په څنډو کې رامنځته شوي او همدا اوبه د دغو تمدنونو د را پنځېدو اصلي لامل ګڼل کېږي. آن ځینې مدنیتونه د سیندونو په نومونو یاد شوي، د دجلې او فرات مدنیت د اورال مدنیت او ...

قرآنکریم د انسان برخلیک له اوبو سره تړلی(وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَاءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ) (انبیا سورت ۳۰ آیت)

زموږ په ننني نړۍ کې د پرمختګ له کبله اوس اوبه د بشري ودې مهم عنصر بلل کېږي. هېوادونه هڅې کوي، چې د اوبو پراخې زېرمې په واک کې ولري، په نړیوال سیاست کې د ستراتیژیک عنصر په توګه د اوبو له مطرح کېدو سره سم د اوبو پر سر کړکېچ او شخړو حقیقي بڼه خپله کړې؛ ځکه خو اوبه او پر سرچینو یې د ولکې هڅې په نړۍ کې دېرې شوې دي. یو شمېر شنوونکي اوسنی پېړۍ ته د اوبو پېړۍ هم وايي. همدا اوبه دي، چې د انسان په ژوند کې محوري رول لوبوي.[٤]

ځینې لیکوالان اوبو ته د رڼو تېلو نوم هم ورکوي او دغه اصطلاح د لومړي ځل

---

[٤] مرکزمطالعات منطقه یی اکادمی علوم افغانستان، آب های جاری افغانستان و منابع آن، ۱۳۹۰، کابل، ۳ مخ

[٥] حمیدالله محمد شاه: پوویشتمه پیړی لو اوبه، مجموعه مقالات سیمینار آب های جاری افغانستان، مرکز مطالعات منطقه یی اکادمی علوم، ۱۳۹۰، مطبعه بهیر. شماره مسلسل ۱۵، ص ۱۰

لپاره هینک دونکرس کارولي، هغه غوښتل ووایي، چې اوبه اوس په نړیواله کچه هومره ستراتیژیک لامل بلل کېدای شي؛ لکه پترول.

بي بي سي د ۱۹۹۳ ز په مارچ کې د اوبو جګړې تر سرلیک لاندې فلم خپور کړ، فلم پر هغو ورځپاڼو او د کارپوهانو پر وړاندوینو ډېره لګوله، چې د اوبو د جګړو په اړه یې خبرې کولې. د( اوبو جګړې) د نوې اصطلاح په اړه، څېړنیزو مرکزونو خپلې څېړنې پیل کړې او هغه سیمې یې په ګوته کړې، چې هلته د اوبو پر سر د نښتو او جګړو وېره وه. دغه راز دغو مرکزونو د هغو سیندونو نومونه هم په ډاګه کړل، چې له څو هېوادونو تېرېدل او د اوبو د وېش په اړه خبره پر ستونزه بدلیدای شوه. اوس پوښتنه داده چې اوبه ولې له یوې طبیعي زېرمې، چې د ټولو لاسرسی ورته کېده، پر یوې ستراتیژیکې، خو اغېزناکې سرچینې بدلې شوې دي؟

د اوبو په اړه دغه ستراتیژیک اوښتون لاندې لاملونه لري:

1. د اوبو کمښت او اقلیم: دا دوې هغه ستونزې دي، چې له ۱۹۹۹ ز څخه را پدېخوا د ملګرو ملتونو د راپور پر بنسټ نړۍ ورسره مخ ده.

د اوبو د کمښت ستونزه داده، چې په اوبو کې به د هر وګړي برخه د کال ۱۰۰۰ متر مکعب ته راټیټه شي او په راتلونکو کلونو کې به د water refugees( د اوبو کډوالي) په نوم نوې اصطلاح رامنځته شي. په بیوزلو او مخ پر ودې هېوادونو کې به په ملیونونو وګړي اړ شي، چې د وچکالۍ له امله هجرت وکړي.

2. د نړۍ په کچه د خوړو اوبو اړتیا: د ملګرو ملتونو د احصایې لمخې هر کال ۹۰ ملیارده لیتره خوړو اوبو ته اړتیا پیښیږي؛ ځکه هر کال ۹۰ ملیونه وګړي زیاتیږي، خو د خوړو اوبو زېرمې ثابتې دي.

3. کېدای شي د تېلو او نورو اړتیاوو بدیل وموندل شي، خو د خوړو اوبو په څېر مهمې سرچینې ته تر اوسه د نړۍ په کچه د پام وړ بدیل نه دی موندل شوی.

4. لږ تر لږه درې ملیارده وګړي په هغو سیمو کې استوګن دي، چې د اوبو له ستونزو سره مخ دي او د ۲۰۲۵ز کال په رارسېدو به دغه شمېره درې بیلیونو ته پورته شي.
5. په نړۍ کې د ټولو اوبو په پرتله د خوږو اوبو اندازه ۱ اسلنه ده.
6. هره ورځ نږدې ۹۵۰۰ ماشومان د اوبو د کمښت یا پاکو اوبو ته د نه لاسرسي لامله مري.
7. د اوبو په درېیم کنفرانس، چې په توکیو کې جوړ شوی و، د پخواني شوروي اتحاد ولسمشر میخاییل ګورباچوف په ګرده نړۍ کې د اوبو پر سر د نښتو او جګړو سیمې په نښه کړې. نوموړي زیاته کړه، چې تر اوسه په نړۍ کې د اوبو پر سر ۲۱ وسله والې شخړې شوې دي، چې ۱۸یې د اسرایلو وې.
8. یو شمېر راپورونه وایي، چې د شلمې پېړۍ په وروستیو پنځوسو کلونو کې د اوبو پر سر نږدې ۵۰۰ نظامي او سیاسي ستونزې راپورته شوې دي.
9. د اوبو په اړه د نویو اصطلاحاتو؛ لکه د اوبو نرخ او د اوبو د بانک جوړونې وړاندیزونه هغه څه دي، چې په نړیواله کچه د خوږو اوبو ستراتیژیک ارزښت په ډاګه کوي.

په تېره پېړۍ کې د اوبو د کارونې کچه زیاته شوې ده او داسې اټکل کېږي، چې په راتلونکو شلو کلونو کې به ۴۰ سلنې ته پورته شي.¹

## 2- د اوبو اقتصاد

اوبه د هېوادونو په ملي اقتصاد کې حیاتي ماده ده، هغه هېوادونه چې سمندرونو سره ګډې پولې لري، د هغوی د پلان، ترانسپورت، اقتصاد،

---

¹ هماغه اثر، ص ۱۱-۱۳

سوداګرۍ او حتا دفاع او د بهرنیو چارو په وزارتونو کې د اوبو د کار څانګې شته. د افغانستان په شان هېوادونو ته، چې سمندر سره ګډه پوله نه لري، هم اوبه خورا ارزښت لري. په تېره زموږ د ملي اقتصاد په دوو مهمو او سترو سکتورونو یانې کرنې او صنعت کې زموږ سیندونه خورا ارزښت لري، چې په نباتي تولیداتو، مالدارۍ، کب روزنې، د برېښنا تولید او د څښلو لپاره ارزښت لري. په ځینو هېوادونو کې د اوبو په خاطر ډېر لوړ لګښتونه کېږي؛ لکه کویټ، چې هر کال د ملیونونو ډالرو په بیه له ایرانه اوبه پېري. په متحده ایالاتو کې په یو کال کې سل ملیونه ډالره یواځې د څښلو اوبو پر چمتو کولو لګېږي. د یوویشتمې پېړۍ له پیل راهیسې د دوبل نړیوال کنفرانس چې د اوبو اقتصاد تر عنوان لاندې جوړ شوی و، پکې اوبه د اقتصادي مادې په توګه وپېژندل شوې او د دغې پېړۍ په اجنډا کې شامله موضوع وپېژندل شوه.[7]

په افغانستان کې له ۸۱ څخه تر ۸۵ سلنه وګړي په مستقیمه او غیر مستقیمه توګه پر کرنه او مالدارۍ بوخت دي. د کرنې پرمختیا او پراختیا مستقیماً هغوی په اوبو پورې تړلې، چې د « بوټو اوبیبز لګښت» په نامه یادېږي. سیندونه او ویالې لږې دي یا د اوبو چمتو کول ورته ګران تمامېږي، خو اړتیا ورته ډېره ده. له همدې امله وایو چې اوبه او سرچینې یې محدودې، مګر اړتیا ورته ډېره ده؛ نو ځکه د اقتصادي مادې په توګه پېژندل کېږي، چې باید د اړتیاوو پوره کولو (کرنې، صنایعو، د برېښنا تولید..) ته یې په ښه ډول تخصیص کړو. کله چې د منبع محدودوالی او د اړتیاوو زیاتوالی او د هغو د تخصیص موضوع رامنځته شوه؛ د څه لپاره، چېرته، چاته، ولې او د... پوښتنې باید ځواب شي. د دې لپاره یو شمېر تدابیر؛ لکه د اوبو د منابعو پېژندنه، زون

[7] پوهاند بشیر دودیال، د اوبو اقتصادي ارزښت، د افغانستان دعلومو اکاډمۍ د سیمه ایزو څېړنو خپرونه، ۱۳۹۰، ۱۵ ګڼه، ۳۶مخ

بندي، سروې، تخصيص، ساتنه، د سيندونو د جريان مهارول، د بندونو او کانالونو کيندل، د ځمکنيو زېرمو کابو کولو ته پاملرنه او نور ضرور دي.[٥]

خوړې او تازه اوبه د ټول هايدروسفير په مجموعه کې ډېره کمه برخه جوړوي، دغه خوړې او تازه اوبه «Fresh water»ډېرې په سيندونو کې بهېږي. زموږ په هېواد کې هم اوبه دغه ډول چې کرنې، مالدارۍ او نورو اقتصادي مواردو کې ارزښت لري، په سيندونو کې دي. حتا زيات شمېر سيمو کې وګړي د څښلو لپاره هم له سينده ګټه اخلي. د کروندو خړوبولو ۸۴ سلنه له سيندونو او ويالو، ۸سلنه چينې، ۷سلنه کارېزونه، ۱سلنه څاګانې جوړوي. له دې امله چې زموږ په هېواد کې زياتې کرنيزې ځمکې له سيندونو خړوبېږي؛ نو خلکو د سيندونو په امتداد کې کرنې ته ښه وده ورکړې. عموماً د هېواد د کرنيزو سيمو حاصلخېزې سيمې او ځمکې د همدغو سيندونو غاړو ته پرتې دي، چې د سيندونو او کرنيزو ځمکو دغه ارتباط د اوبو لګولو حوزې جوړوي.

پرته له موسمي خوړونو د دغو سيندونو شمېر نږدې ۲۵ ته رسېږي، چې يو شمېر يې اصلي او نور يې فرعي مرستيالان دي او د اوبو ټوليز کلنی جريان يې په يوه ثانيه کې پنځوس مليارده متر مکعبه کېږي، چې په ډېرو هېوادونو کې يې سارى نشته. د افغانستان سيندونه له سرچينې تر پولو ډېر مخ په ځوړ بهېږي؛ نو ځکه يې د اوبو جريان ډېر ګړندی دی. له جګړو څخه مخکې څېړنو ښودلې، چې له هغو څخه يواځې ۳۰سلنه استفاده کېده او پاتې ۷۰ سلنه يې ضايع کېدلې. له جګړو وروسته دغې استفادې نور هم کمښت وموند.[٦]

---

[٥] هماغه

[٦] همغه ۳۷ مخ

Jalil Dadman



## ۳- له سیاسي مسایلو سره د اوبو د سرچینو تړاو:

د سیاسي ګوندونو او حکومت رسمي پالیسی او تګلارې ته سیاست ویل کیږي. ځینو پوهانو سیاست د هېواد او سیاسي واحد د اداره کولو هنر بللی دی. په هغه صورت کې حکومت د سیاست د علم د پاملرنې مهم مرکز ګرځېدلی. مګر سیاست له دې موضوعاتو ډېر پراخ دی.[10]

له هغه ځایه چې اقتصادي پراختیا او صنعتي وده په طبیعي سرچینو پورې تړلې ده، طبیعي سرچینو ته لاسرسی او واک د قدرت ساتنې او پراخونې مهم شاخصونه په نظر کې نیول شوي دي.[11] له همدې کبله د اوبو منابعو ته لاسرسی په راتلونکي کې د قدرت د اعتماد وړ سرچینه ګڼل کېږي. نن ورځ د اوبو سرچینې د هېوادونو په داخل او نړیواله کچه د اختلافاتو سبب ګرځېدلې دي. په واقعیت کې اوبه د هېوادونو په داخلي او نړۍ والو سیاسي مسایلو کې مهم اغېزلرونکی عنصر ګڼل شوی دی. د اوبو او سیاسي مسایلو ترمنځ اړیکه داسې څېړو:[12]

### الف: په سیمه ییزه کچه د اوبو او سیاست اړیکه:

په سیمه ییزه کچه د سیاسي تحلیل د قدرت بنه په پام کې نیسي. په دې برخه کې اصلي مسئله داده، چې د اوبو د سرچینو مدیریت او ورپورې اړوند سیاستونه څنګه په ټولنیزو اړیکو او منازعاتو اغېز لري. په ډېری کمزورو هېوادونو کې د اوبو د سرچینو د مدیریت پر سر د بېلابېلو ډلو او پرګنو ترمنځ شدید رقابت او شخړه چې هره ډله یې خاص علایق او ګټې لري، رامنځته کېږي.

---

[10] عبدالرحمن عالم، ۱۳۸۰، بینادهای علم سیاست، اووم چاپ، تهران، ۲۹ مخ

[11] محمود عسکری، ۱۳۸۱، نسبت نوین بین منابع آبی - امنیت ملی، فصلنامه مطالعات راهبردی، ۱۶ گنه، ۵۰۲ مخ

[12] داکتر جعفر مهدوی، هیدروپولتیک هیرمند، مرکز مطالعات منطقه یی اکادمی علوم افغانستان، مجموعه مقالات سیمینار آب های جاری افغانستان و منابع آن، ۱۳۹۰ ۱۵ گنه، ۴۹ مخ.

په سیمه ییزه کچه د اوبو په اداره او مدیریت کې د سیمه ییز ګډون بحث هم ډېر مهم دی.

## ب: په ملي کچه د اوبو او سیاست اړیکه:

د اوبو د سرچینو مدیریت په ملي کچه د بېلابېلو سطحو، حکومت، دولتي دستګاه د تګلارو او سیاستونو د اجرا په برخه کې اصلي نقش لري. هر هېواد د صنعت، کرنې او اوبو څښلو په برخو کې ځانګړي سیاستونه او تګلارې لري او د اوبو د زېرمونې، تصفیې، د سیلابونو د مخنیوي لپاره پلان جوړونه او پانګونه کوي. دغه راز د اوبو د سرچینو د مدیریت لپاره تاسیسات او موسسات جوړوي. د سیاست د تنظیم په مرحله کې سیاسیون د پارلمان او نورو سیاسي چوکاټونو په بهیر کې د سیاسي لومړیتوبونو او برنامو د رامنځته کېدو لپاره لاس په کار کېږي او د اداري مراحلو تر خلاصون وروسته دا تصمیمونه په عمل بدلوي.

د اوبو د سرچینو په اړه د سیاست جوړولو او تنظیم مرحله د منازعاتو سره مله ده او بېلابېلې ډلې د مختلفو علایقو لمخې هڅه کوي، د مختلفو سیاسي دستګاوو له لارې پر اړونده تصامیمو اغېز وکړي.[۵] حکومتونه د بېلابېلو دلایلو لمخې د اوبو د سرچینو پر پراختیا پانګونه کوي، چې دا دي: د درېیمې نړۍ هېوادونو ته د غذایي امنیت تامین، د اجتماعي او سیاسي ثبات ساتنه، د تولنیزې سوکالۍ رامنځته کول، د خلکو هوساینه او ...

## ج: په سیمه ییزه کچه د اوبو او سیاست اړیکه:

ځینې پوهان هیدروپولتیک په سیمه ییزه کچه د اوبو او سیاست اړېکې ته کاروي، چې د هېوادونو ترمنځ د نړیوالو اوبو او سیندونو اړوند مختلفې پروسې او د

---

[۵] هماغه ۵۱ مخ

ګټې اخیستنې بنه یې مشخصوي. البته دا باید درک کړای شي، چې هیدروپولتیک مفهوم تر دې هم پراخ دی.

په حقیقت کې په سیمه ییزه کچه د اوبو او سیاست اړیکه د اوبو د منابعو د تخصیص، توزیع او کنټرول لپاره د هېوادونو نړیوال سیاستونه دي، چې د اختلاف او همغږۍ سبب کېدای شي. ځینې پوهان دغه اړیکه د اوبو د سرچینو د تامین په اړه د هېوادونو بهرنی سیاست بولي.[14] د اوبو او سیاست په اړیکه کې په سیمه ییزه کچه د اوبو د منابعو د پولې دواړه لوري تر بحث لاندې نیول کېږي او د اوبو د مدیریت په اړه تر ټولو لوی اختلاف د سیندونو او نړیوالو اوبو په اړه رامنځته کېږي.

په دې اړه د ګډ کار لپاره د اوبو د منابعو د مدیریت په برخه کې د د هېوادونو واحد چلن ته اړتیا ده. په دې برخه کې مهم بحث دادی چې آیا هېوادونه د اوبیزو منابعو د مدیریت او ګټنې په برخه کې یوې هوکړې ته رسېږي او که نه رسیږي؟ او په دې ټکي تاکید کېږي، چې څنګه له اختلاف او منازعې ډډه وشي او په دې برخه کې د همکارۍ لپاره هوکړې ته ورسیږي؟

په دې ټولو بحثونو کې اصلي موضوع داده، چې له کومو میکانیزمونو ګټه اخیستنه اوبه مدیریت او کنټرولوي. په دې ډله کې یو هم د حقوقي سیستم څرنګوالی دی، چې د هېوادونو ترمنځ منل شوی دی. بله موضوع د طرفینو د ګټې او زیان د ارزولو ده، چې په ترڅ کې یې خپلې ګټې خوندي کړي. په ټولیز ډول ډېر عوامل دي، چې د مذاکراتو په ناکامۍ او بریالیتوب تمامېږي.[15]

## د: په نړیواله کچه د اوبو او سیاست اړیکه:

د ۲۰ پېړۍ په وروستیو کې اوبو په نړیوالو خبرو اترو کې مهم ځای ونیو او کابو

[14] محمود عسکری مخکینی اثر ۴۹۷ مخ
[15] داکتر جعفر مهدوی، مخکینی، ۵۲ مخ

هيڅ داسې غونډه نه ده، چې د نړۍ د راتلونکي په اړه جوړه شوې وي او د اوبو او مديريت ذکر پکې نه وي شوی.[16] په ۱۹۹۲ کې د ريو په غونډه کې پر اوبو د يوې مهمې موضوع په توګه بحث وشو او د همدې ناستې په پای کې د اوبو پر سالم مديريت او کنټرول ټينګار وشو. همداراز ډير نور نړيوال کنفرانسونه په دې اړه جوړ شول، چې بېلا بېل عنوانونه (چاپېريال او اوبه، د منځني ختيځ هېوادونو په پراختيا او همکارۍ کې د اوبو نقش، ..) يې لرل.

په نړيواله کچه د اوبو نړيوال سياست د چاپېريال او طبيعي سرچينو په اړه د نړيوالو کنفرانسونو رابلل دي، چې موخه يې په دې اړه د نړيوالو حقوقو او اصولو په تدوين سره د شخړو کمول او د هېوادونو نږدې کول دي.

د اوبو او سياست تر منځ اړيکه په سيمه ييزه او نړيواله کچه د هغو سياستونو راسپړل دي، چې موخه يې د اوبو ګډ مديريت او د هېوادونو ترمنځ د يووالي او اشتراکيت سبب ګرځي.

البته دا سياستونه توصيوي بڼه لري او په ملي کچه د پلي کېدو وړ دي. په سيمه ييزه او ملي کچه د اوبو او سياست ترمنځ اړيکه هم د پورتنيو موخو لپاره رامنځته کيږي، خو په دې کچه کې د مديريت او کنټرول پر سر شخړه او منازعه رامنځته کېدلای شي. له همدې کبله هيدرو پولتيک د دوه لغاتو اوبه او سياست ترکيب دی او پر ملي، سيمه ييزه او نړيواله کچه پر سياسي پرېکړو د اوبو د سرچينو د مديريت اغېز مطالعه کوي.[17]

## ۴ - له امنيتي مسايلو سره د اوبو د سرچينو تړاو

اوبه هغه ماده ده، چې تصفيه او لېږد يې ستونزمن او بديل يې ناشونی دی؛ د ژوند

---

[16] بهروز ساری صراف، ۱۳۸۱، بحران آب و نقش همکاريها و گفتمان بن الملل، ۲۲۹ مخ

[17] داکتر جعفر مهدوی، مخکينی، ۵۴ مخ

د ادامې، د خوراک تولید، د اقتصادي پراختیا لپاره او د کرنې، صنعت او ښښلو لپاره مهم توکی دی. همدې ارزښت ته په پام اوبه هغه ماده ده، چې د زېرمې لپاره یې خلک اندېښمن وي او ښایي خلک او هېوادونه پرې شخړې وکړي. په هغه ځای کې چې اوبه کمې دي، د محدودو زېرمو پر سر رقابت ښایي ملتونو ته دا ذهنیت ورکړي، چې د اوبو سرچینو ته لاسرسی د ملي امنیت اړوند موضوع ده.

ډېر هېوادونه د اوبو د کموالي ستونزه په لویه کې له امنیت سره تړي. دا ستونزې هغه وخت لا کره کېږي، چې یو هېواد له ساحوي اوبو پرته نورو سیندونو سره سخت تړلی وي. په دې صورت کې د سیند برنی هېواد کولای شي ښکتني هېواد پر اوبو تهدید کړي او دا مسله کیدای شي، د دوو یا څو هېوادونو ترمنځ په جګړه واوړي.

هغه هېوادونه چې د اوبو منابع یې له پولو څخه د باندې وي اړ دي، چې د ملي امنیت لپاره د اوبېزو سرچینو ملاتړ او ساتنې ته اندېښمن واوسي. د اوبو ډېره تقاضا له یوه او له بله اړخه د سطحي او ځمکې لاندې اوبو ککړتیا د دې سبب شوې، چې د اوبو مسئله په ملي او نړۍ واله کچه د امنیت په مسلې پورې وتړل شي. په ټوله کې د اوبو مدیریت او د منابعو د تخصیص ډول یې د چاپیریال لپاره مهمه موضوع ده، چې په سیاسي بحثونو او ستراتیژیکو لیدلوریو کې یې رول ورځ تربلې زیاتېږي. په ډېری هېوادونو کې د اوبو پر سر د خلکو ترمنځ شدید رقابت رامنځته شوی او د پولې ها خوا اوبو پر سر د هېوادونو ترمنځ همدا مسئله شتون لري. همداراز د اوبو منابعو د مدیریت ضعف د یو هېواد لپاره د اقتصادي ودې له اړخه بدې پایلې درلودلی شي، دغه وضعیت مخالفینو ته موکه ورکوي چې د نظام

پیترهاګت، ۱۳۷۹، جغرافیای ترکیبی نو، ترجمه: شاپورګودرزی نژاد، جلد دوم، چاپ دوم، سمت، تهران، ۳۰۶مخ

محمود عسکری، مخکینی، ۵۰۰ مخ

مشروعیت تر سوال لاندې راولي.[20]

اوبو ته لاسرسي د ځینو هېوادونو د ملي امنیت لپاره لوی سرخوږی جوړ کړی، چې نمونه یې کولای شو د هماغه هېوادونو د سیاسي مقاماتو په خبرو او بیانیو کې ولټوو. په ۱۹۶۷ کال د عربو او اسرایلو په جګړه کې د اسرایلو لومړي وزیر(لوی اشکول) اعلان وکړ، چې:« اوبه د اسرایلو لپاره حیاتي ارزښت لري. نو د همدې لپاره په کار ده چې اسراییل د اوبو د امنیت تامین لپاره لازم او کوټلي ګامونه پورته کړي».

د مصر پخواني جمهور ریس انور سادات په ۱۹۷۹ کې د کمپ ډیویډ تړون تر لاسلیک وروسته وویل:

« یواځېنی شی چې کولای شي مصر جګړې ته اړباسي، اوبه دي». نو د نیل سیند ساتنه د مصر لپاره یوه جدي اندېښنه ده. د اردن ولیعهد په ۱۹۶۷ کې وویل چې د اسرایلو او عربو جګړه تر ډېره د اوبو پر سر وه.

د کمي او کیفي اړخه د اعتماد وړ اوبو منابعو ته لاسرسی، د اقتصادي پراختیا لپاره د لازم ظرفیت او پوتانشیل درلودلو په معنا دی او د سوکاله ژوند اساسي معیار دی. د دا ډول وضعیت نتیجه هم د سیاسي نظام تحکیم او هم د ملي امنیت ضریب لوړېدل دي.[21]

## د اوبو سرچینې، سیاست او نړیوالې شخړې

اوس د نړۍ زیاتره هېوادونه نږدې ۵۰ سلنه اوبه له نورو هېوادونو څخه پوره کوي د دې ترڅنګ ډېری هېوادونه داسې دي، چې په خپلو منځونو کې د سترو

---

[20] حجت افغانی، ۱۳۷۸، ابعاد سیاسی- امنیتی بحران آب در خاورمیانه عربی و آینده مذاکرات اعراب و اسراییل، تهران، دفتر مطالعات سیاسی و بین المللی ۴ مخ

[21] داکتر جعفر مهدوی، مخکنینی، ۵۶ مخ

سیندونو اوبه وېشي د سلا مشورې نړیوالې مؤسسې ( برایس واټر هاوس کوبرز) د راپور لمخې د اوبو د کمښت له کبله به په ۲۰۰۵ ز کال کې د نړۍ د رېیمه برخه له ستونزو سره مخ شي او د اوبو پر سر به کړکېچ لا زیات شي. یادې مؤسسې په نړۍ کې ۱۱ سیمې په ګوته کړي، چې د اوبو د سرچینو د ترلاسه کولو له کبله به ستونزې پر وسله والو نښتو واړوي، د دغو سیمو په سر کې د منځنې ختیځ سیمه ده.

- ترکیه - سوریه - عراق: ترکیه غواړې چې د دجلې او فرات له اوبو پراخه ګټه پورته کړي. د ترکیې دغه ډول ګام سوریه او عراق له ستونزو سره مخ کولای شي.
- ایران - عراق: دواړه هېوادونه د شط العرب پر سر، چې د دجلې او فرات اوبه سره یوځای کېږي سیالي کوي.
- مصر- سوډان - لیبیا- چاد- نیجیر: دغه هېوادونه د ۸۰۰ مترو په ژوروالي د اوبو په اړه ستونزه لري، لیبیا غواړي، چې د خپلو خوړو اوبو د زیاتونې په موخه له دغو اوبو څخه سیند تېر کړي.
- موریتانیه - سینیګال: دا دواړه هېوادونه د سینیګال د اوبو پر سر ستونزه لري.
- هندوستان او بنګلادېش د ګنګا او براهماپوترا سیندونو پر سر ستونزه لري.
- هندوستان او پاکستان د اندوس سیند( سند) پر سر ستونزه لري.
- ازبکستان- قرغزستان- تاجکستان د آمو او اورال پر سر ستونزه لري.
- مجارستان او چک د دانیوب سیند پر اوبو د برېښنا بند جوړنې پر سر ستونزه لري.
- سربیا او کوروشیا د اوبو د کمښت او د دانیوب سیند د ککړتیا پر سر ستونزه لري.

- سوريه - اردن - اسرايل - لبنان د اردن، الحصباني او الوزاني سيندونو د اوبو د ويش په اړه ستونزه لري."

د اوبو د چارو کارپوهانو د څېړنې لمخې، په منځني ختيځ کې هغه سيمې، چې د اوبو له کړکېچ سره مخ کېداى شي، پر دريوو برخو وېشلي:

1. هغه سيمې، چې جګړه په کې پيښېداى شي: اردن، فلسطين او اسرايل دي.
2. هغه سيمې، چې له ګواښه ډکې دي او يا کېداى شي اوس هم له ګواښ سره مخ وي. د دجلې، فرات او عربي خليج سيمې دي.
3. هغه سيمې چې په راتلونکو۲۰ - ۲۵ کلونو کې د اوبو له امله نارامه کېږي، بېلګه يې مصر او سوډان په ګوته شوي دي.

اوس هم يو شمير هېوادونه د اوبو پر سر په خپلو کې ستونزه لري، هندوستان او پاکستان د اندوس سيند په اړه اختلاف لري، په ۱۹۶۰ ز کې دواړه د اوبو د ويش تړون ته ورسيدل، هند او بنګلاديش هم د ( جانګز سيند) په اړه تړون لاسليک کړى. کمبوديا، ويتنام او لاوس هم د ( ميکونک) سيند په اړه ستونزې لري. د منځنۍ اسيا هېوادونه هم له ورته ستونزو سره مخ دي، دغه هېوادونه په داسي سيمه کې پراته دي، چې اورال بحيرې ته ترې اوبه تيريږي. اورال بحيره کې هم د ۲۰ مترو په اندازه اوبه کمې شوي او په وروستيو ۵۰ کلونو کې يې ۳۰ سلنه مساحت له لاسه ورکړى دى.

[22] اوبه د نړېوالو ستونزو سرچينه. ليک هينک دونکرس ژباړه: ډاکټر بيوار خنسي




په نړۍ کې ۲۱۴ سیندونه داسې دي، چې له څو هېوادونو تېرېږي او نږدې ۲ ملیارده انسانان یا په بله مانا د نړۍ ۴۰ سلنه وګړي ورڅخه ګټه پورته کوي په دغو سیمو کې هر وخت د اوبو پر سر د ستونزو را منځته کېدو احتمال شته؛ څکه اوس نړۍ د کال ۹۰ ملیارده مترمکعب اوبو ته اړتیا لري.[23]

## د افغانستان د سیندنیو حوزو طبیعي ځانګړنې

افغانستان پنځه سترې او ۳۶ فرعي سیندنۍ حوزې لري، چې درې مهمې حوزې ( کابل ایندوس، هلمند او هریرود) د ګاونډیو هېوادونو پاکستان، ایران، تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان سره ګډ سرحد لري. په لویه کې د افغانستان ډېرې اوبه ګاونډیو ته بهیږي او یا ورسره ګډې دي.

1. **آمو سیند حوزه:** دغه حوزه چې یونانیان ورته اکسوس او اعراب ورته

[23] اکادمي علوم، آب های جاری افغانستان ومنابع آن، ۱۵ ګڼه، ۱۳۹۰، ۱۵ مخ

جیحون هم وايي، په هېواد کې يې ۹۰۶۹۲ کیلومتره مربع ځمکه نېولې او د دې سیمې ۱۴ سلنه برخه سیندنۍ حوزه نیسي. د افغانستان ۱۴ سلنه وګړي ترې ګټه اخلي او په ټوله کې ۲۳ سلنه کرنیزه ځمکه خړوبوي.

د آمو سیند حوزه د پامیر له غرونو سرچینه اخلي او دوه اصلي څانګې لري. د پامیر سیند شمالي برخه د زرقول له فرعي سینده سرچینه اخلي، چې د افغانستان او تاجکستان ترمنځ ګډه ده. د واخان سیند جنوبي برخه د چکمتین له فرعي سینده بېلېږي، دغه دوه څانګې په پنجه کلا کې سره یوځای کېږي او تر آی خانم پورې پنج سیند ورته وايي،تر دې سیمې وروسته کله چې له کوکچې سره یوځای شي، د امو سیند په نوم یادېږي. دغه سیند د شمال ختیځ پر لور له تګ او له خم آب سیمې وروسته بالاخره آرال سیند ته بهیږي.

د آمو سیند جریان په اړه بیلابیلې شمیرې شته، خو په ازبکستان کې يې متوسط جریان ۵،۱ ملیارد مترمکعب، په تاجکستان کې ۴۹،۶ ملیارد مترمکعب او په ترکمنستان کې ۱،۵ ملیارد متر مکعب اټکل شوی دی. د کافرنهان، د قیزل او وخش واړه سیندونه د امو سیند لوی حجم جوړوي او همداراز د پنج، کندز او کوکچې سیندونه يې لويه برخه جوړوي.»[24]

## د پنج - آمو سیندنۍ حوزې جدول

[24] Maood ahmad and mahwash waseq, water resources development in northern Afghanistan and its implications for amu darya basin, worl bank working paper36, 2004.

| پنج آمو | د افغانستان اوبیز اطلس اطلاعات ۲۰۰۴ | | د ۲۰۰۸ کال اوبو ستراتیژۍ اړوند معلومات | | د ملګرو ملتونو د انساني پراختیا د ۲۰۱۱ کال راپور[25] | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ولایتونه بدخشان، تخار، کندوز، بغلان، بامیان | تر پوښښ لاندې حوزه | ۹۰،۶۹۲ کیلومتر مربع | تر پوښښ لاندې حوزه | ۹۱،۵۰۰ کیلو متر مربع | | |
| | د سطحي اوبو سلنه | ۵۷ | د سطحي اوبو سلنه | ۳۹ | | |
| | د ټول سیند د حوزې سلنه | ۱۴ | | | | |
| | | | | | د مترمربع لمخې اوبو ته لاسرسی | ۷،۴۱۲ |
| | | | | | د ګټنې سلنه | ۲۴ |
| | حجم/ د کلنیو اوبو جریان | | | | ۲۲ کیلو متره مربع | |
| | تر پوښښ لاندې ټولنه | ۳ ملیون | تر پوښښ لاندې ټولنه | ۳ ملیون | | |
| | د خلکو تراکم | ۳۲،۷۳ کیلومتره مربع | د خلکو تراکم | ۳۲،۷۳ کیلومتره مربع | | |
| | د پولې د ها خوا اوبو خانګړنې | | دغه اوبیزه حوزه له ۱۲۰۰ څخه تر ۱۸۰۰ کیلومترو پورې له تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان سره ګډه پوله لري.[26] | | | |

[25] National human development report, united nation development program, 2011

[26] په مختلفو منابعو کې بیلابیل ارقام ارایه شوي دي.

| | | |
|---|---|---|
| | نظارتي ځانګړنې | د ۱۹۵۸ کال شورې اتحاد سره پروتوکول[27]، د تاجکستان سره د ۲۰۰۷ کال پروتوکول. |

## د آمو سیند د حوزې ځانګې

| شمیره | د ځانګې نوم | پوښښن لاندې ساحه | سلنه | هر کیلو متر کې میشت وګړي | هر کیلو متر کې د وګړو تراکم |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د رستاق اوبه | ۳،۶۷۰ | ۴ | ۳۵۸،۷۴۹ | ۹۷،۷۵ |
| ۲ | خان آباد | ۱۱،۹۹۴ | ۱۳ | ۶۶۸،۹۳۸ | ۵۵،۷۷ |
| ۳ | کوکچه | ۲۲،۳۶۸ | ۲۵ | ۷۱۵،۲۳۶ | ۳۱،۹۸ |
| ۴ | کندز | ۲۸،۰۲۴ | ۳۱ | ۱،۰۹۰،۶۳۹ | ۳۸،۹۲ |
| ۵ | پنجاب | ۲۴،۶۳۷ | ۲۷ | ۱۳۴،۵۶۰ | ۵،۴۶ |
| د آمو سیندنی‌حوزې تولټال | | ۹۰،۶۹۲ | ۱۰۰ | ۲،۹۶۸،۱۲۲ | ۳۲،۷۳ |

## ب -کابل ایندوس سیندنی حوزه

دا سیند په تولیزه توګه ۵۰۰ کیلومتره اوږدوالی لري، چې ۳۶۰ کیلومتره یې په

[27] د افغانستان او شوروي اتحاد ترمنځ یوترون رامنځته شوچې د اوبو منابعو په اړه په همغږی ګټه واخیستل شي، البته د ۱۹۹۲ - ۲۰۰۱ کال پورې لس نورې هوکړې هم رامنځته شوې دي چې افغانستان یې غړیتوب نه لري.

افغانستان او نور په پښتونخوا او پاکستان کې بهېږي. دغه سیندنۍ حوزه د افغانستان د ټولو اوبیزو حوزو ۱۲ سلنه جوړوي او ۷۶۹۰۸ کیلومتره مربع د هېواد ۳۵ سلنه وګړي او ۲۰ سلنه کرنیزه ځمکه خړوبوي.

د کنړ په شمال کې شیبر کوتل، د بابا د غرونو سویل ختیزې سیمې، د کابل اونۍ دره او د سپین غره شمالي برخې د کابل ایندوس سیندنۍ حوزې اوبیزې سرچینې دي. دا سیند له پلازمېنې کابل څخه په تېرېدو په بګرامیو کې لوګر سیند، په نغلو کې له پنجشیر سیند، د قرغیو په جنوب کې له علینګار سیند او په کامه کې له کنړ سیند سره یوځای کېږي. د دې سیندنۍ حوزې ځینې برخې د هېواد په سویل ختیځ کې د سلیمان غرونو په لمنو کې د پکتیکا ولایت په ګومل او نورو سیمو کې دي.[28]

دا سیند پښتونخوا او په پای کې پاکستان ته بهېږي او له ایندوس لوی سیند سره تر یوځای کیدو وروسته د عربو د بحیرې یا سمندرګي پر لور د هند په اوقیانوس کې ورتویېږي. په ټولیز ډول د ایندوس څانګې د ۶،۳۳ سلنې په اندازه او د ۱۱۳۸۸۰۰ کیلومتره مربع په اوږدوالي سره د نورو ساحلي هېوادونو په پرتله پاکستان، نیپال، هند او چین کې بهېږي.

[28] موسسه تحقیقاتي دران،مخکینی، ۶ مخ




| | | | |
|---|---|---|---|
| کابل- اینډوس | د افغانستان د ۲۰۰۴ د اوبیېز اطلس لمخي معلومات** | د اوبو سکتور په ستراتیژی کې مندرج معلومات** | د ملګرو ملتونو د انساني پراختیا پروګرام لمخي معلومات** |

[29] Raphy favre, golam monowar kamal, watershed atlas of Afghanistan, AIMS– UNDP, Kabul , January, 2011

[30] Government of Afghanistan, Afghanistan national development strategy ANDS, water resource management( water sector strategy) Kabul, 2008, p.8

[31] National human development report, United nation development program, 2011

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ولایاتونه<br>کابل<br>پنجشیر<br>کاپیسا<br>پروان<br>لغمان<br>وردګ<br>ننګرهار<br>نورستان<br>کنړ<br>خوست<br>پکتیا<br>پکتیکا | د پوښښ حوزه | ۷۶،۹۰۸ کیلومتر مربع | د پوښښ حوزه | ۷۷،۷۰۰ کیلومتر مربع | | |
| | د سطحي اوبو سلنه | ۲۶ | د سطحي اوبو سلنه | ۳۶ | | |
| | د سیندنۍ حوزې تولیزه سلنه | ۱۲ | | | | |
| | | | | | د متر مربع پر بنسټ اوبو ته د لاسرسي سلنه | ۲،۸۸۹ |
| | | | | | اوبو څخه د ګتې اخیستنې سلنه | ۲۵ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| حجم / د اوبو کلنی جریان | | | | | ۲۰،۷۶ بیلیون متر مکعب |
| پوښښ لاندې وګړي | ۷ ملیون | پوښښ لاندې وګړي | ۹ ملیون | | |
| د جمعیت تراکم | ۹۳،۴۲ فی کیلومتر مربع | د وګړو تراکم | ۹۳،۴۲ فی کیلومتر مربع | | |
| له پولې ها خوا ځانګړنې | | پاکستان ته بهیږي | | | |
| نظارتي ځانګړنې | | شتون نه لري | | | |
| زیربنا | | نوم | موقعیت | | وضعیت |
| | | درونټه | کابل سیند | | تکمیل |
| | | نغلو | کابل سیند | | تکمیل |
| | | ماهیپر | کابل سیند | | تکمیل |
| | | سروبي | کابل سیند | | تکمیل |
| | | شاه و عروس | شکردره | | په جریان کې |
| | | شاه | میدان سیند<br>پنجشیر سیند | | په راتلونکي |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | توت | پنجشیر سیند | کې |
| | | ګلبهار | چترال- کونړ سیند | په راتلونکي کې |
| | | باغ دره | چترال- کونړسیند | په راتلونکي کې |
| | | شال | کابل سیند | په راتلونکي کې |
| | | کنړ | | په راتلونکي کې |
| | | سروبی ۲ | | په راتلونکي کې |

پاکستان ته په اوښتو بالاخره دا سیند د ایندوس لوی سیند ته بهېږي، چې بیا عربو سمندرګي او هند اوقیانوس باندې پای ته رسېږي. د ایندوس اوبیزه حوزه په مجموعي توګه ۱۱۳۸۸۰۰ کیلومتره مربع سیمه رانغاړي، چې د کابل حوزه یې ۶،۳۳ سلنه جوړوي. د کابل سیند په لاندې وړو برخو وېشل کېږي.

| شمېره | د خانګي نوم | ساحه په کیلومتر | سلنه | په هر کیلومتر کې مېشت وګړي | په هر کیلو متر کې د وګړو تراکم |
|---|---|---|---|---|---|

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | الینګار | ۶،۲۳۹ | ۸ | ۲۸۷،۰۸۹ | ۴۶،۰۲ |
| ۲ | لوګر | ۹،۹۶۸ | ۱۳ | ۶۰۷،۲۸۳ | ۶۰،۹۲ |
| ۳ | غوربند او پنجشیر | ۱۲،۹۶۴ | ۱۷ | ۱،۴۴۰،۷۷۵ | ۱۱۱،۱۴ |
| ۴ | ګومل | ۹،۰۱۴ | ۱۲ | ۱۶،۳۱۶ | 1،81 |
| ۵ | کابل | ۱۲،۹۹۷ | ۱۷ | ۳،۵۹۱،۸۲۰ | ۲۷۶،۳۶ |
| ۶ | کنړ | ۱۱،۶۶۴ | ۱۵ | ۶۰۰،۲۳۷ | ۵۱،۴۶ |
| ۷ | پشین لوره | ۴،۲۰۶ | ۵ | ۱۱،۳۲۰ | ۲،۶۹ |
| ۸ | شمال | ۹،۸۵۶ | ۱۳ | ۶۳۰،۱۵۲ | ۶۳،۹۴ |
| د کابل سیند مجموعي اوبیزه حوزه | | ۷۶،۹۰۸ | ۱۰۰ | ۷،۱۸۵،۹۷۴ | ۹۳،۴۲ |

## ج -د هلمند سیند حوزه

دا تر ټولو لویه اوبیزه حوزه ده، د هیواد په جنوبي برخه کې موقعیت لري، چې ۲۶۲۳۴۱ کیلومتره مربع سیمه یې نیولې. دغه حوزه د افغانستان ۴۱ سلنه اوبیزه حوزه تشکیلوي، ۳۱ سلنه زراعتي ځمکه او ۲۸ سلنه وګړي تر پوښښ لاندې راولي. کلنی جریان یې ۹،۳۰ ملیارد متر مکعب اټکل شوی دی. د انرژۍ تولید او

[32] د افغانستان د اوبیز اطلس د معلوماتو لمخې، چې په ۲۰۰۴ کې نشر او د مرکزي دفتر ارقام د کوچیانو د ۲۰۰۳ او ۲۰۰۴ کلونو ارقام پرې علاوه شوي نه دي.

دخړوبولو لوی ظرفیت لري.[33] په دې هېواد کې ورځخه ۹۷ سلنه د کرنې په حوضه کې او ایران کې ترې ۸۰سلنه ګټه اخیستل کیږي.

د هلمند سیند د بابا غر له جنوبي لمنو سرچینه اخلي. عادي جریان یې ختیځ ځخه تر لویدیځه ادامه لري، د میدان وردګو غربي پوله تر پوښښ لاندې راولي او وروسته جنوبي ولایاتو بامیان او ارزګان ته درومي. دغه سیند د اونۍ درې ځخه د هلمند کجکي ولسوالۍ پر خوا ډېر تېز درومي. له کجکي تر تېرېدو وروسته یې سور زیاتېږي او د انرژۍ تولید لپاره ور شرایط برابروي. تر دې وروسته د هلمند سیند خپله لاره بدلوي، د کمال خان پر لور ځي او د ایران پولې ته رسیږي. وروسته دا سیند په دوه برخو وېشل کیږي، د سیستان رود په چپه خوا درومي او د ایران خاورې ته ننوځي. د نادعلي ځانګه یې ښي خواته درومي او ایران سره ګډه پوله جوړوي.[34]

[33] United nation environment program.2008.(Afghanistan's enviroment2008), un environment program, p.11

[34] آب های فرامرزی افغانستان، مخکینی، ۸ مخ




| هلمند | د افغانستان د اوبېز اطلس معلومات[35] | | د افغانستان د اوبو سکتور د پالیسی معلومات[36] | | د ملګرو ملتونو د انساني پراختیا سازمان معلومات[37] | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ولایات | آوبیزه حوزه | ۲۶۲،۳۴۱ کیلومتر | اوبیزه حوزه | ۲۶۴،۹۰۰ کیلومترمربع | | |

[35] Raphe Favre, ibid.

[36] Government of afghanisntan, ibid.

[37] National human development report, ibid.

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| نیمروز | | مربع | | | | |
| فراه<br>هلمند<br>کندهار | د سطحي اوبو سلنه | ۱۱ | د سطحي اوبو سلنه | ۱۶ | | |
| زابل<br>ارزګان<br>دایکندي | د اوبیزو حوزې سلنه | ۴۱ | | | | |
| غزني<br>هرات<br>غور<br>بامیان<br>میدان | | | | | د متر مکعب پر اساس اوبو ته د لاسرسي کچه | ۱،۵۸۱ |
| وردګ<br>پکتیکا | | | | | اوبو څخه د ګټنې کچه | ۸۵ |
| | د وګړو | ۹۳،۴۲ د کیلو متر | د وګړو | ۹۳،۴۲ سلنه د هر کیلو متر مربع | | |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| تراکم | مربع لمخې سلنه | تراکم | لمخې | | |
| تر پوښښ لاندې وګړي | ۶ ملیون | تر پوښښ لاندې وګړي | ۶ ملیون | | |
| تر پولې هاخوا ځانګړنې | ایران | | | | |
| نظارتي ځانګړنې | د ۱۹۷۳ کال معاهده د افغانستان او ایران ترمنځ، هره ثانیه کې ۲۲،۴ مترمکعب | | | | |
| زیربنا | نوم | موقعیت | وضعیت | | |
| | دهله | ارغنداب سیند | تکمیل | | |
| | کجکي | هلمند سیند | تکمیل | | |
| | کمال خان | هلمند سیند | کار په جریان کې دی | | |
| | بخش | فراه سیند | کار په جریان کې | | |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | آباد | | دی |
| | | | | |

د هلمند سیند چې په پورتني جدول کې ورته نغوته وشوه، په لاندې ۱۵ فرعي برخو وېشل کېږي.

| شمېره | د برخې نوم | د کیلومتر پر اساس اوبیزه حوزه | سلنه | د مېشت وګړو في نفر | د وګړو تراکم |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ادرسکن رود | ۲۱،۲۶۶ | ۸ | ۱۶۸،۴۴۶ | ۸،۷۷ |
| ۲ | ارغستان رود | ۲۰،۲۱۹ | ۸ | ۲۰۸،۹۳۲ | ۱۰،۳۳ |
| ۳ | چکی | ۹،۳۱۹ | ۴ | ۹۴۲ | ۰،۰۷ |
| ۴ | ناهور دښته | ۱،۶۱۸ | ۱ | ۱۰،۹۸۷ | ۶،۷۹ |
| ۵ | فراه رود | ۳۲،۸۰۹ | ۱۳ | ۳۸۱،۲۸۱ | ۱۱،۶۲ |
| ۶ | خاش رود | ۲۱،۸۴۰ | ۸ | ۹۲،۳۷۹ | ۴،۲۳ |
| ۷ | خوسپا رود | ۹،۴۲۸ | ۴ | ۳۸،۹۸۷ | ۴،۱۴ |
| ۸ | ښکتنی ارغنداب | ۷،۳۰۰ | ۳ | ۷۳۲،۰۵۶ | ۱۰۰،۲۸ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۹ | بنکتنی هلمند | ۱۴،۱۴۷ | ۵ | ۳۱۷،۲۷۵ | ۲۲،۴۳ |
| ۱۰ | منځنی هلمند | ۱۶،۴۴۱ | ۶ | ۳۲۶،۸۹۷ | ۱۹،۸۸ |
| ۱۱ | د سرده غزني رود | ۱۷،۲۵۲ | ۷ | ۱،۸۶۸،۳۴۲ | ۱۰۸،۳۰ |
| ۱۲ | سیستان - هلمند | ۲۱،۵۷۵ | ۸ | ۹۱،۹۸۶ | ۴،۲۶ |
| ۱۳ | ترنک رود | ۹،۰۷۶ | ۳ | ۲۶۱،۶۰۲ | ۲۸،۸۲ |
| ۱۴ | علیا ارغنداب | ۱۳،۱۷۰ | ۵ | ۳۱۶،۷۹۰ | ۲۴،۰۵ |
| ۱۵ | علیا هلمند | ۴۶،۸۸۲ | ۱۸ | ۱،۰۴۶،۹۹۰ | ۲۲،۳۳ |
| د هلمند سیند تولیزه اوبیزه حوزه | | ۲۶۲،۳۴۱ | ۱۰۰ | ۵،۸۸۱،۵۷۴ | ۲۲،۴۲ |

## د - د هریرود مرغاب سیندنی حوزه

د هریرود سیندنی حوزه په کال کې ۳،۰۶ ملیارد مترمکعب اوبه لري، اوبیزه حوزه یې ۷۷۶۰۴ کیلومتره مربع ځمکه رانغاړي او د هېواد د سیندنی حوزې ۱۲

سلنه جوړوي. د هېواد ۸ سلنه وګړي او ۱۱ سلنه زراعتي ځمکې ورڅخه ګټه اخلي. د دې حوزې دوه اصلي سيندونه هريرود او مرغاب دي. هريرود سيند د بابا له غرونو سرچينه اخلي. ختيځ لور ته بهېږي او وروسته شمال لوري ته تېز راګرځي. له اسلام کلا او ذوالفقار څخه تر سرخس پورې د افغانستان او ايران او د ايران او ترکمنستان ګډه پوله جوړوي او په پای کې د قراقرم په دښته ( ترکمنستان) کې ختمېږي. مرغاب سيند د هريرود په ښکتنۍ برخه کې روان دی او د ترکستان د تيربند له ختيزو غرونو او د سپين غره له شمالي لمنو سرچينه اخلي، چې په تدريجي توګه شمال خواته درومي. دا دواړه رودونه په ترکمنستان کې د اوسس سيمې کانالونه خړوبوي.[38]



| هريرود | د افغانستان د | د افغانستان د اوبو سکتور | د ملګرو ملتونو |
|---|---|---|---|

[38] Matthew king and Benjamin sturtewagen, making most of Afghanistan's river basin: opportunities for regional cooperation, east west institute, 2010

| مرغاب | اوبېز اطلس معلومات39 | | پالیسی معلومات40 | | انساني پراختیا سازمان د معلوماتو لمخې41 | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ولایات بادغیس هرات غور فاریاب سرپل | اوبیزه حوزه | ۷۷،۶۰۴ کیلومتر مربع | اوبیزه حوزه | ۷۸،۴۰۰ کیلو مترمربع | | |
| | د سطحي اوبو سلنه | ۴ | د سطحي اوبو سلنه | ۵ | | |
| | د اوبېزو حوزې سلنه | ۱۲ | | | | |
| | | | | | د متر مکعب پر اساس اوبو ته د | ۱،۷۷۷ |

[39] Raphe Favre, ibid.

[40] Government of afghanisntan, ibid.

[41] National human development report, ibid.

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | لاسرسي کچه | |
| | د کلنیو اوبو د جریان حجم | | ۳،۰۶ ملیارد مترمکعب | | اوبو څخه د ګټنې کچه | ۴۲ |
| | د وګړو تراکم | ۹۳،۴۲ د هر کیلومتر مربع سلنه | د وګړو تراکم | ۹۳،۴۲ د هر کیلومتر مربع سلنه | | |
| | تر پوښش لاندې وګړي | ۶ ملیون | تر پوښښ لاندې وګړي | ۶ ملیون | | |
| | له پولي هاخوا ځانګړني | | د ایران او ترکمنستان پر لور | | | |
| | نظارتي ځانګړني | | نشته | | | |
| | زیربنا | | نوم | موقعیت | وضعیت | |
| | | | سلما | هریرود | کار په جریان کې دی | |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | پاشتان | هریرود | کار په جریان کې دی |

د هریرود مرغاب سیند لکه څه ډول چې په پورتني جدول کې ذکر شوي دي، پر څنورو فرعي حوزو وېشل کېږي.

| شمېره | د برخې نوم | د کیلومتر پر اساس اوبیزه حوزه | سلنه | د مېشتو وګړو سرانه | د وګړو تراکم |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | بالامرغاب | ۲۵،۳۵۳ | ۳۳ | ۳۰۱،۳۸۰ | ۱۱،۸۹ |
| ۲ | د خشک او کاشان رود | ۱۳،۱۹۱ | ۱۷ | ۲۸۷،۸۲۹ | ۲۱،۸۲ |
| ۳ | سفلی هریرود | ۱۷،۹۳۶ | ۲۳ | ۸۲۴،۴۵۶ | ۴۵،۹۷ |
| ۱۵ | علیا هریرود | ۲۱،۱۲۴ | ۲۷ | ۳۰۸،۶۱۰ | ۱۴،۶۱ |
| دهریرو د او مرغاب تولیزه اوبیزه حوزه | | ۷۷،۶۰۴ | ۱۰۰ | ۱،۷۲۲،۲۷۵ | ۲۲،۱۹ |

## هـ - د شمال سيند حوزه

د شمال سیند حوزه، د افغانستان د نورو اوبېزو حوزو په پرتله هیڅ بل هېواد ته نه بهېږي. دغه حوزه په کال کې د ۱،۸۸ ملیارد متر مکعب په اندازه د هېواد د رودخانو په څرووبولو کې تر ټولو کمه ونډه لري او ډېری ځانګې او برخې یې د مرکزي سیمو له جګو څوکو څخه سرچینه اخلي. د دې حوزې مجموعي اوبو رسولو اندازه ۷۰۹۰۱ کیلومتره مربع ده. د هېواد ۱۳ سلنه وګړي ترخپل پوښښ لاندې راولي او د ټول هېواد په کچه ۱۱ سلنه د اوبېزو حوزو ۱۱ سلنه جوړوي، همداراز ۱۳ سلنه کرنیزې ځمکې خړووبوي.[42]



[42] د افغانستان اوبېز اطلس، چې په ۲۰۰۴ کال او د اوبو سکتور ستراتیژي چې پ ۲۰۰۸ کې نشر، د افغانستان ملي جغرافيه د ظريف تنيوال ليکنه او د افغانستان ملي جغرافيه د پروفيسور عارض او د داکتر اندرياس ديتمن ليکنې

| شمالي | د افغانستان د اوبېز اطلس معلومات43 | | د افغانستان د اوبو سکتور پالیسي معلومات44 | | د ملګرو ملتونو انساني پراختیا سازمان د معلوماتو لمخې45 | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ولایتونه بلخ جوزجان سرپل فاریاب سمنګان | اوبیزې حوزه | ۷۰،۹۰۰کیلومتر مربع | اوبیزې حوزه | ۷۱،۷۰۰کیلومترمربع | | |
| | د سطحي اوبو سلنه | ۲ | د سطحي اوبو سلنه | ۳ | | |
| | د اوبیزو حوزې سلنه | ۱۱ | | | | |
| | | | | | د متر مکعب | ۶۷۶ |

[43] Raphe Favre, ibid.

[44] Government of afghanisntan, ibid.

[45] National human development report, ibid.

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | پر اساس اوبو ته د لاسرسي کچه | |
| | د کلنیو اوبو د جریان حجم | | ۱،۸۸ ملیارد مترمکعب | | اوبو خخه د ګټني کچه | ۱۰۰ |
| | د وګړو تراکم | ۳۹،۲۵سلنه په هر کیلومتر مربع کې | د وګړو تراکم | ۳۹،۲۵ سلنه هرکیلو متر مربع کې | | |
| | پوښښ لاندې وګړي | ۳ ملیون | پوښښ لاندې وګړي | ۳ ملیون | | |
| | له پولي هاخوا ځانګړني | | نشته | | | |
| | نظارتي ځانګړني | | نشته | | | |
| | زیربنا | | نشته | | | |

شمالي سيندنى حوزه لاندې فرعي څانګې لري

| شمېره | د برخې نوم | د کیلومتر پر اساس اوبیزه حوزه | سلنه | د مېشتو وګړو سرانه | د وګړو تراکم |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | بلخاب | ۲۸،۸۳۵ | ۴۱ | ۱،۳۴۴،۲۰۲ | ۴٦،٦۲ |
| ۲ | خلم | ۱۰،۲۳۰ | ۱۴ | ۲۵۹،۴۱۰ | ۲۵،۳٦ |
| ۳ | سرپل | ۱٦،۷۴۳ | ۲۴ | ۵۷۳،۴۴۹ | ۳۴،۲۵ |
| ۴ | شرین تګاب | ۱۵،۰۹۲ | ۲۱ | ٦۰۵،۹۷۲ | ۴۰،۱۵ |
| د شمال سیند ټولیزه اوبیزه حوزه | | ۷۰،۹۰۱ | ۱۰۰ | ۲،۷۸۳،۰۳۳ | ۳۹،۲۵ |

## ۵ - له پولې ها خوا اوبو په اړه نړیوال حقوقي چوکاټ

په کُلي ډول حقوقپوهان د نړیوالو اوبو په اړه په څلور ډلو وېشل کېږي.

### الف) د مطلق ساحوي حاکمیت اصل

د دې روش لمخې هغه اوبه چې د یو هېواد په داخل کې بهېږي، د ملي اوبو په شکل دي او دولت کولای شي هر ډول تصرف پکې وکړي، د اوبو جریان په خپله خوښه پرې کړي او په هر ډول یې چې وغواړي، تصرف پکې وکړي. پورتنی اصل برلاسو هېوادونو ته د منلو وړ دی. په بل عبارت، دا ډول هېوادونه بل هېواد ته چې د اوبو په مسیر کې پروت وي کوم حق نشي ورکولای؛ دغه اصل د هارمن په

دکتورینو» مشهور دی. د دې اصل پر اساس هېوادونه په هغو اوبو چې د قلمرو په داخل کې یې جریان لري، نامحدود حاکمیت درلودونکي دي».

پر دې سربېره ځینې حقوقپوهان لکه کالوبر[48]، هوفر[49]، بوسک، فن ویک ددې نظریې پلویان دي او ځینو یې لکه سیسماریان، شید، مک کی، دغه اصل د ځینو ملاحظاتو سره منلی دی.

نو د دې اصل پر بنیاد هغه هېواد چې په خاوره کې یې نړېوالې اوبه جریان لري، کولای شي د خپلو اتباعو لپاره یې هر ډول استعمال کړي، پرته له دې چې اغېزې یې په نظر کې ونیسي او یا له کوم بل هېواد سره مشوره او مذاکره وکړي. په حقیقت کې دا اصل د هېوادونو مطلق حاکمیت تعریفوي.

د دې اصل سره، سره په نړیوالو حقوقو کې د ځینو علماو لخوا په شدت رد شوی او اوپنهایم په دې باور دی چې د اوبو جریان تغیرول د هیڅ یو هېواد صلاحیت نه دی او هیڅ دولت نه شي کولای نورو هېوادونو ته زیان واړوي.[50]

## ب) د محدود ساحوي تمامیت اصل:

د دې اصل لمخې هغه سیمه چې د سیند ښکتنی برخه جوړوي، د اوبو طبیعي جریان د تقاضا لمخې چې له پورته څخه راښکته کیږي، حق لري، خو نه شي کولای د اوبو هغه برخه کې چې د پولو دننه جریان لري، محدودیت ایجاد کړي. دغه نظریه د آلمان فدرالي محکمې د ۱۹۴۷ کال حکم لمخې تقویه شوې چې د

---

[46] Harmon Doctrine

[47] رضا موسی زاده و مرتضی عباس زاده، ابعاد حقوقی بهره برداری از رود خانه مرزی هیرمند توسط ایران و افغانستان، تهران، ۱۳۹۴، دانشکده روابط بین الملل وزارت امور خارجه، ص ۱۶۳

[48] kalober

[49] hoffer

[50] رضا موسی زاده و مرتضی عباسزاده، مخکنی ، ص ۱۶۴

آلمان د دوه ایالاتونو ترمنځ اختلاف د همدې نظريې لمخې حل شو.[51]

په حقیقت کې هغه هېوادونه چې د نړیوالو اوبو لاندې پراته دي، د دې اصل ملاتړ کوي، ځکه چې د هارمون دکتورینو خلاف دا هېوادونه د دې اصل لمخې کولای شي اوبو څخه ګټه واخلي.[52]

د سویس فدرالي محکمې هم دا اصل منلی او د ټولو کانتونونو لخوا د اوبو مساوي ګټه اخیستل یې تایید کړي دي. په همدي حال کې د دې اصل لمخې د سیند ساحلي هېوادونه اړ دي چې د اوبو طبیعي جریان پریږدي او هیچا ته دا حق نه ورکوي چې د اوبو مسیر بدل کړي. ماکس وېبر او اوپنهایم د سویس او ناروې، عراق او ترکیې ترمنځ قراردادونه چې په ترتیب په ۱۹۰۵ او ۱۹۴۶ کې رامنځته شول، د دې اصل تقویه کېدو پر لور مهم ګام بولي.[53]

## ج) په نړیوالو سیندونو کې د دخیلو هېوادونو د ګډون اصل:

د دې اصل موخه داده، چې د نړیوالو اوبو په خواوشا کې پراته هېوادونه کولای شي په ګډه له اوبو څخه ګټه واخلي. دا اصل په حقیقت کې د بې ضرره عبور له اصل سره هم مهاله رامنځته شو. ګروسیوس[54] باور درلود چې سیندونه د بحرونو په شان آزاد نه دي او باید د هېوادونو ګډ حاکمیت لاندې واقع شي، فارم هام نوموړی اصل دا ډول تعریفوي« هغه سیندونه چې د څو هېوادونو له سیمو څخه تیریږي، د ګډ مالکیت لرونکي دي.»[55]

---

[51] هماغه اثر ۱۶۴

[52] Barnie, p. and Boyle, A.(2002), international law and the inviroment, new York,: oxfor university press, 132

[53] رضا موسی زاده و مرتضی عباسزاده، مخکینی، ص ۱۶۶

[54] Grosious

[55] رضا موسی زاده او مرتضی موسی زاده، مخکینی، ۱۶۶مخ

د لاهي نړيوالې محکمې هم دا اصل منلی دی او په یوه قضيه کې دا ډول حکم کوي: «هغه سیند چې د یو او یا څو هېوادونو له پولو تیرېږي او یا هم د دوه یا څو هېوادونو پولې ټاکي، د عدالت د تطبیق او د سالمې ګټې اخیستنې په موخه دا سمه نه ده، چې یوازې برنی هېواد ترې ګټه واخلي، بلکې د ټولو دخیلو هېوادونو ګټې پکې نغښتې دي او د ګټو اشتراک په سیندونو کې د یو قانوني ګډ حق اساس او بنسټ تشکیلوي.»[56]

په نړېوالو حقوقو کې د ګډې ګټې اخیستنې اصل فلسفه داده، چې د تجارت، کب نیونې، کشتۍ چلونې، بر بښنا تولید او .. نورو ګټو اخیستلو لپاره تضمین واقع شي، څو هېوادونه باید دا ګټه اخیستنه په ښه نیت او د ښه ګاونډیتوب اصل په نظر کې نیولو سره تر سره کړي.

## د) د محدود سیمه ییز حاکمیت اصل

دا اصل اوبو څخه د محدودې ګټې اخیستنې په نوم هم یادېږي. په حقیقت کې دا تکی په پام کې نیسي چې هېوادونه د خمکنۍ بشپړتیا او ساحوي حاکمیت په اړه مطلق واک نه لري ، دا حاکمیت محدود او په داسې ډول دی چې نورو ته یې زیان وانه وړي. دا اصل پر دې ټینګار کوي، چې هر دولت له ګډو اوبو په مطلق ډول ګټه نه شي اخیستلای او باید د نورو ساحلي هېوادونو ګټې هم په نظر کې ونیسي. له دې امله په ګډو اوبو د حاکمیت اصل نسبي دی.

په همدې ډول هغه هېوادونه چې ګډو اوبو ته څېرمه پراته دي، د نړیوالو اوبو اړوند ځینې حقوق او تعهدات ورته راجع کېږي ، هر یو اوبو څخه د یوشان ګټې اخیستنې حق لري.[57]

---

[56] هماغه

[57] Mizanur Rahman, Mohammad (2009) principles of trans boundary water development, vol. 25, no.1

## ٦ - له پولې هاخوا اوبو په اړه نړیوال کنوانسیونونه

د پولې ها خوا اوبو په اړه نړیوال حقوقي چوکاټ د اوبو د مدیریت او پراختیا لپاره په داسې حال کې تعین شو، چې ملي او سیمه ییز میکانیزمونه شتون نه لري یا هم موجوده ملي میکانیزمونه ضعیف دي او یا هم په انحصاري توګه عمل کوي او په دې توګه له پولې ها خوا د اوبو مسیر ته پروت هېواد نه ګنل کیږي. د پولې ها خوا اوبو په اړه نړیوال حقوقي چوکاټ د ملي او سیمه ییزو ترتیباتو او هوکړو ناظر نه دی.

د افغانستان د ګاونډیو څخه ازبکستان په ۲۰۰۷ کې دوه کنوانسیونونو( ۱۹۹۲ او ۱۹۹۷) سره یو ځای شو، په داسې حال کې چې ترکمنستان په ۲۰۱۲ کې د ۱۹۹۲ کال کنوانسیون سره یوځای شو. افغانستان له دې سره سره له هیڅ نړیوال کنوانسیون سره په دې اړه نه دی وصل شوی، خو هیله ده چې د افغان دولت لخوا له پولې د ها خوا اوبو په اړه د ستراتیژۍ تر جوړولو وروسته دې ټکي ته پام وشي.

### الف - د ملګرو ملتونو ۱۹۹۲ کنوانسیون

له «پولې ها خوا او د جهیل له اوبو څخه د ګټې اخیستنې او ساتنې کنوانسیون» یو بل نړیوال سند دی، چې نړیوالو اوبو څخه ګټه اخیستنه څاري. دا کنوانسیون ۱۹۹۲ د مارچ په ۱۷ د عمومي اسامبلۍ له لوري تصویب او د ۱۹۹۶ اکتوبر ۶مه د اجرا وړ شو. په لومړیو کې دا کنوانسیون د اروپا اقتصادي همکاریو سازمان او د ملګرو ملتونو لخوا اروپایي اقتصادي سازمان لپاره تدوین شوی و. ۲۰۰۳ کې تر بیا کتنې او سمونې وروسته نړیوال شو او په ۲۰۱۳ کال کې د ملګرو ملتونو ټولو غړو پر مخ پرانیستل شوه. د افغانستان د سرحد هاخوا د اوبو پر مسیر له پرتو هېوادونو څخه ترکمنستان په ۲۰۱۲ او ازبکستان په ۲۰۰۷ کې دې کنوانسیون سره یوځای شول.

دغه کنوانسیون غړي هېوادونه اړباسي چې د هېوادونو لخوا د اداري، قانوني، مالي، اقتصادي، تخنیکي، پراختیايي اقداماتو په ترڅ کې تر پولې ها خوا زیان اړولو اغېز کم کړي؛ د سرحد ها خوا اوبو د نظارت په اړه ځانګړي میکانیزمونه رامنځته، د څېړنو ، تخنیکي او فني پراختیا تحقق لپاره همکاري او په دې برخه کې له یو بل سره اطلاعات شریک کړي.[58]

هېوادونو ته سپارښتنه کوي، چې د اعتماد اصل او مسؤلیت منلو ته پام وکړي، په ښه نیت سره مشوره او یو بل ته ځواب ورکړي، د ملي امنیت په اړه اطلاعاتو ساتنې ته پام وکړي، د ګډو نهادونو رامنځته کولو لپاره دوه اړخیزه او څو اړخیزه مذاکرات ترسره کړي او په پای کې خپل اختلافات د مذاکرې له لارې حل او فصل کړي.[59]

## ب - د ملګرو ملتونو د ۱۹۹۷ کال کنوانسیون

له نړیوالو اوبو څخه د ګټنې قانون د ۱۹۹۷ دمی په ۲۱مه د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلې له لوري تصویب شو، چې د نړیوالو د ګټنې، مدیریت، محافظت او پراختیا په اړه یو مهم نړیوال سند دی، دې کنوانسیون د ککړتیا پر ننګونو او د اوبو لپاره مخ پر ورانډې تقاضا ټکو ته پوره پام کړی او په دې برخه کې یې پر نړیوالو همکاریو ټینګار کړی دی.

دې کنوانسیون توصیه کړې، چې د نړیوالو اوبو په جریان کې پراته هېوادونه باید کم تر کمه یو هوکړه لیک امضا کړي، چې د اوبو د سالم او سم مدیریت او پراختیا په لاره کې اسانتیا رامنځته کړي.[60]

[58] United nation, convention of the law of the sea, article 6

[59] Ibid, article 22

Article 3 of the convention of the protection and use of trans-boundary watercourses and international lakes 1997[60]

کنوانسیون غړیو هېوادونو ته دا اجازه ورکوي ،چې د نړیوالو اوبو په مسیر کې پراته هېوادونه هوکړې ته د رسیدو لپاره د دې کنوانسیون شرایطو څخه ګټه پورته کړي او یا یې د اړتیا پر مهال له خپلو ګټو سره همغږي کړي.

ښايي هېوادونه د مذاکرې یو اړخ واوسي، په تېره هغه مهال چې د اوبو له هوکړو څخه اغېزمنېږي.[61]

دا کنوانسیون پر دې ټینګار کوي، چې د نړیوالو اوبو په جریان پراته هېوادونه به، د ټولو هېوادونو ګټو او عادلانه مشارکت او د معقولې ګټې اخیستنې په منظور لازم اقدامات کوي. د دې کنوانسیون لمخې د هر هېواد دنده ده، چې اوبو څخه د ګټې اخیستنې او پراختیا محافظت لپاره مشخص کار وکړي.

د دې کنوانسیون لمخې هغه هېوادونه چې له اوبو څخه د ګټې اخیستنې په پار سره هوکړې ته رسیږي، بیلابیل موارد په پام کې ونیسي؛ لکه: جغرافیوي عوامل، اوبو پېژندنه، ټولنه، د یو هېواد لخوا د اوبو د استعمال اثرات په بل هېواد او یا هم نور موارد باید په هوکړه لیک کې ځای شي.[62]

دغه کنوانسیون هېوادونه اړباسي، چې د اوبو پر مسیر پراته هېوادونه د خپلو کړنو او برنامو په اړه مقابل لوری خبر کړي او د سیندونو د وضعیت په اړه اطلاعات له یو بل سره شریک کړي او پر دې مسیر بل پروت هېواد ته جدي زیان وانه ړوي. که بل هېواد ته جدي زیان اوړي باید له زیان لېدونکي هېواد سره مشوره وکړي او د دې ضرر د کمولو او یا له منځه وړلو لپاره اقدامات تر سره کړي او که مناسبه وي د خسارې جبران وکړي.

دا کنوانسیون د سیمه ییزو همکاریو په منظور د خاصو میکانیزمونو او یا د ګډو

[61]Ibid. articl 4

[62] Articl6

کمیسیونونو د جوړولو وړاندیز کوي."

په داسې حال کې چې د نړیوالو اوبو له مسیره د استفادې بنه پر یو بل هیڅ ذاتي برتري نه لري. د نه توافق او یا د اختلافاتو رامنځته کېدو په صورت کې د نړیوالو اوبو پر مسیر پراته هېوادونه باید هڅه وکړي، چې ستونزې د انساني- حیاتي اړتیاوو سره سمې هوارې کړي او ۳۳ مه ماده یې هم د هېوادونو ترمنځ د ستونزو هوارولو ته ځانګړې شوې ده."

## ج - نړیوال کنوانسیونونه په یوه لید کې

د ۱۹۹۷ کنوانسیون د اوبو په اړه اوسنیو هوکړو همغږۍ او د ګډو اوبو په اړه د نویو او مشترکو هوکړو او بنسټونو رامنځته کولو توصیه کوي، په داسې حال کې، چې د ۱۹۹۲ کنوانسیون هېوادونه مؤظفوي ،چې پورتني اقدامات تر سره کړي، یانې د یو بل بشپړوونکي دي.

د ۱۹۹۲ کنوانسیون په صراحت سره تر سرحد ها خوا اوبو معلوماتو ته لاسرسی د ټولو خلکو حق ګڼي او یا هم د لاس لاندې نیول شویو اقداماتو اغېزو ته اشاره کوي، چې پر اوبو او د سرحد ها خوا سیمه یې درلودلای شي، په داسې حال کې چې د ۱۹۹۷ کنوانسیون په دې اړه سکوت کړی. بل پلو د ۱۹۹۷ کال کنوانسیون د اوبو له زیرمو څخه د عادلانه او معقولې ګټې اخیستنې لپاره د عواملو یو اوږد او جامع لېست برابر کړی، په داسې حال کې چې د ۱۹۹۲ کال کنوانسیون په نظر کې نه دي نیولي. د ۱۹۹۲ کنوانسیون پر بنیادي جوړښت ډېره روښنايي اچوي په داسې حال کې چې د ۱۹۹۷ کنوانسیون د جوړښتي لارښود لپاره هیڅ رسمي خطوط نه لري.

[63] Article 24

[64] Article 33

د ۱۹۹۷کنوانسیون د ۲۷ کلونو لپاره تر ارزونې لاندې و او په همدې کال کې د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلې لخوا په لوی اکثریت تصویب شو. دا سند د ۲۰۱۴ د اګست په میاشت کې د اجرا مرحلې ته ورسېد او له همدې امله نسبتاً یو نوی سندګڼل کېږي. له دې سره سره د ۱۹۹۲ کال کنوانسیون د ۱۹۹۶ راهیسې د پلي کېدو وړ دی او په دې ترتیب یې د اوبو منابعو مدیریت او پراختیا لپاره یو اوږدمهالی بنسټ برابر کړی دی، که څه هم په ۱۹۹۲ کې یوازې داروپایي هېوادونو لپاره تنظیم شوی و.

د قانوني چارو د څېړونکو په اند، دواړه کنوانسیونونه د اصولو او قواعدو په حیث یو بل تکمیل او تقویه کوي او یو بل واقعیت راسپړي، چې ځینې دولتونه دواړو کنوانسیونونو پورې تړل شوي دي؛ ځکه چې د دې دواړو ترمنځ په یوه محدوده ساحه او جزیاتو کې توپیر لیدل کیږي.

په داسې حال کې چې دواړه کنوانسیونونه پر یوه موضوع راڅرخي، د ۱۹۹۲ کال کنوانسیون د مسالې سره انعطاف ناپذیره عمل کوي او د ۱۹۹۷ کال کنوانسیون اوبو څخه پر متعارفې ګټې اخیستنې ټینګار کوي. دا ټکی باید په نظر کې ونیسو چې د ۱۹۹۷ کنوانسیون د نړیوالو شرایطو په نظر کې نیولو سره تدوین شوی، په داسې حال کې چې د ۱۹۹۲ کنوانسیون اروپا څخه بهر کم نامتجانس وضعیت ته پام کوي.[85]

---

[85] موسسه تحقیقاتي دران، هماغه، ص ۳۷-۳۸

# دويمه برخه

## د اوبيزو سرچينو د مديريت او ساتنې په اړه د افغان حکومت پاليسي او ستراتيژيک چوکاټ

### ۱ - د اوبو پاليسي او قانون

**الف - مخينه:** د افغانستان په تاريخ کې د ولاياتو په کچه ښاروالۍ او حکومتولۍ نامرکزي بڼه وه. طبيعي منابع په تېره اوبه پر همدې شکل اداره شوې دي. معمولاً د اوبو منابع د ميرآب لخوا اداره کېدې، چې هغه شخص به د بزګرانو له لوري ټاکل کېده. د ميرآب دنده دا وه، چې اوبه توزيع، مصرف او په دې اړه بنسټيز تصاميم ونيسي او د دولت او بزګرانو ترمنځ يې د پل حيثيت درلود.

شديدو جګړو د حکومتي جوړښتونو دا دوديزه بڼه هم متضرره کړه. سربيره پر دې چې اتيا سلنه وګړي په کليو او بانډو کې ژوند کوي، خو جګړو پر دې چاره ډېر ناوړه اغېز پرې باسه.

### ب - د پاليسۍ چوکاټ

په ۲۰۰۲ يم کال کابل کې يو نړيوال کنفرانس د اوبو د انکشافي سکتور اساس او بنسټ کېښود. ددې کنفرانس يوه پايله دا وه، چې د اوبو د سکتور په مختلفو برخو کې پاليسۍ رامنځته شوې. د اوبو د سکتور لپاره مهمه او عمده پاليسي عبارت ده « د اوبو د پاليسۍ ستراتيژيک چوکاټ» چې د اوبو د عالي

شورا لخوا په ۲۰۰۶ نومبر کې رامنځته شو. ددې چوکاټ اصلي محتويات د اوبو سکتور په برخه کې د ځانګړيو قوانينو، پاليسيو، مقرراتو او کړنلارو لارښود دي."

1. د اوبيز سکتور د ستراتيژيکې پاليسۍ چوکاټ
2. په ۱۹۹۱ کې د اوبو تصويب شوي قانون بيا کتنه
3. د اوبيزو منابعو پاليسۍ او مقررې
4. له اوبو څخه د ګټه اخيستونکو انجمن مقرره
5. کليوالي او ښاري سيمو ته د اوبو رسولو ملي پاليسي
6. له ځمکې لاندې اوبېزو منابعو پاليسي او مقررره
7. د چاپېريالساتنې قانون
8. د اوبېزې بر بنسټا انکشافي پاليسي
9. د اوبو لګولو پاليسي او مقرره

د چاپېريالساتنې قانون د ملي شورا له لوري په ۲۰۰۷ کې تصويب او په دې ترتيب د اوبو عالي شورا لخوا ډېرى پاليسۍ او مقررې وضع او تصويب شوې او ځينې يې تر غور لاندې دي.

د اوبيزسکتور ستراتيژيکې پاليسۍ چوکاټ او د اوبو نوى قانون به دا سکتور رهبري کړي. د دې چوکاټ جزيات په مشخص ډول پاليسيو، مقرراتو او طرزالعمل کې راغلي دي. د اوبو قانون د پلي کېدو لپاره ۱۱ نور ځانګړي مقررات رامنځته شوي دي، چې څلور يې پخوا مطرح شوي دي.

- د سيندنيو حوزو شوراګانو رامنځته او اداره کول، د فرعي حوزو شوراګانې.
- له اوبو څخه ګټه اخيستونکي انجمنونه رامنځته کول.

[66] استراتيژى انكشاف ملى افغانستان - اداره منابع آب، ۱۳۹۱، جلد دوم، ركن سوم ۱۸ مخ

- د سیندنیو اصلي او فرعي حوزو اعلانول.
- اجازه نامې او جوازونه.

پر دې سربېره د تقنیني اړتیاوو پوره کول د دولت په سیاسي رضایت او تعهد پورې اړه لري. په ځانګړي ډول ، د ګټه اخیستونکو ترمنځ د اختلافاتو او چاپېریالي تاثیراتو کمولو په صورت کې د مطابقت نه شتون."

## ج - د سیندنیو حوزو ملي مدیریت

د اوبو په اړه نوې پالیسي او قانون عمدتاً څلور برخې رانغاړي:

1) د اوبیزو منابعو هر اړخیز مدیریت: په مختلفو سکتورونو (څښاک اوبه، کرنې، زراعت، معادن، صنعت او ...) کې پلانول، پراختیا او د اوبو منابعو اداره کول؛ په داسې ډول چې یو بل پورې اړوند وي.

2) د سیندنیو حوزو بنه: د اوبیزو منابعو مدیریت او د اړوندو ادارو ایجاد لپاره د سیندنیو طبیعي پولو څخه به ګټه واخیستل شي.

3) د دندو وېش: د اوبېزو منابعو مدیریت په درې اړخونو کې دندې وېشي: د وزارت په واسطه د تقنین او پالیسي اړوند دندې، د سیندنیو حوزو د ادارو لخوا د وظایفو تطبیق او د خدماتي مؤسسو او تصدیو لخوا عملیاتي دندې سرته رسول.

4) د اړوندو وګړو او ادارو ونډه اخیستل: په سیندنیو حوزو کې د اوبېزو منابعو مدیریت لپاره دا چاره حیاتي ارزښت لري.

دا موضوعات د نویو کاري اړخونو درلودونکي دي او د دې بنو پېژندنه کولای شي د تخریب شویو ساحو په جوړولو، د اوبو لګولو د زیربناوو په اصلاح او د ژوند د سطحې په لوړوالي کې اغېزمن تمام شي. د اروپایي ټولنې او آسیا پراختیایي

[67] هماغه، ۲۱ مخ

بانک لخوا په دې برخه کې فعالیتونه د پورتنۍ ادعا ښه بېلګه ده، چې په یوه برنامه کې بېلابېلې کړنې؛ لکه د اوبو مدیریت، د بنسټونو تشکیل، د اوبو لګونې زیربنایی سیستم جوړول، د اوبو تولنیز تنظیم او داسې نور تنظیم شوي دي. د دا ډول برنامو طرح او تطبیق د سیندنیو حوزو په مدیریت، د بنسټونو د تاسیس په موخه د طرزالعملونو په رامنځته کولو، له اوبو د ګټه اخیستونکیو انجمنونو په جوړولو او د سیمه ییزو استازیو په پوهاوي کې مهمه ونډه لري. د دې برنامو تجربې کېدای شي د مقررو، مسودو او لارښوونو په تهیه کولو کې مؤثر تمام شي.

په اړوند وزارتونو کې د سیندنیو حوزو ملي مدیریت مهم اقدامات تر لاس لاندې نیولي، چې د خلکو عکس العمل هم مثبت دی او خوښي ښکاره کوي، چې په دې ډول به دولتي کارکوونکي د خلکو پر وړاندې حساب ورکوونکي وي.

د اوبو زیربنایي پروژو د بنسټونو لپاره لازمه ده، چې د ټولنیز جنسیت او ښځو ونډه په نظر کې ونیول شي. دغه راز اړینه ده، چې د پروژو او برنامو تطبیق لپاره کافي منابع، وخت او ظرفیت شتون ولري.[68]"

## ۲ - افغانستان کې د اوبو مدیریت او پراختیا

مخکې له دې چې په افغانستان کې د اوبو مدیریت پراختیا ته کتنه وکړو، اړینه بولم، چې په دې هېواد کې د اوبو د مدیریت اړتیا ته نغوته وکړم.

### الف - افغانستان کې د اوبو د مدیریت اړتیا

د اوبو مدیریت او پر منابعو یې کامل تسلط د افغانستان لپاره د لاندې دلایلو پر اساس ډېره اړینه چاره ده.

الف: له ایران پرته د اوبو زیرمو په اړه افغانستان له بل ګاونډي سره ستونزه نه

[68] استراتیژی انکشاف ملی افغانستان - اداره منابع آب، ۱۳۹۱، جلد دوم، رکن سوم، ۴۲مخ

لري، یانې د افغانستان د اوبو ملکیت بلامنازعه دی."

بله دا چې د ګاونډیو په پرتله د افغانستان ستونزې د اوبو د مدیریت او سرچینې له پلوه ډېرې کوچنۍ دي. په ځانګړې ډول د مرکزي اسیا هېوادونه او د دوی برخلیک د اوبو په لحاظ کاملاً یو له بل سره تړلی دی، په داسې ډول، چې هیڅ یو هېواد د اوبو مدیریت په اړه خلاص لاس نه لري؛ نو مخکې له دې چې افغان دولت د مدیریت په اړه له ستونزو سره مخ شي، باید د اوبو سرچینې کنټرول او خپل ملکیت پرې تثبیت کړي.

ب: تړاو یو له هغو عواملو څخه دی، چې د یوه هېواد ټول نهادونه پر شاه تمبوي. افغانستان د تجارت او کرنې په لحاظ، ګاونډیو پورې تړلی دی او ګاونډي هېوادونه بیا په هغو اوبو پورې تړلي دي، چې ډېرې سرچینې یې په افغانستان کې دي.

دا تړلنه تر دې کچې ده، چې په افغانستان کې د هلمند اوبو بندول په سیستان او بلوچستان کې انساني ناورین رامنځته کولای شي، خو تر اوسه د افغانستان تړلتیا یواړخیزه ده؛ ځکه د افغانستان اوبه داخل کې پر ته له کومې موثرې ګټې اخیستنې ګاونډیو ته ورځي.

نړیوالو اړیکو کې دوه اصله شتون لري. یو داچې د یواړخیزې تړلتیا د ضعف ښکارندویې کوي او د سیاست په ډګر کې له ځان سره بې ثباتي راوړي او بل اصل دا دی چې متقابله وابستګي د قدرت منبع کیدای شي.

لومړی اصل افغانستان کې په ښه ډول تجربه شوی او تر اوسه هم دوام لري..یعني افغانستان د یو هېواد په توګه په نورو پورې تړلی دی. نو ددې

سمیربدرود، دیپلوماسی آب و تاثیرآن بر مناسبات افغانستان با همسایه گان، کابل، صفحه انترنیتی آسمایی، ۲۰۰۷.

http//www.aghanasmai.com/afghanasmai8/afghanasmai13/ab.htm[69]

لپاره چې افغان دولت وکولای شي له دغه یواړخیزوالي راووځي، پکار ده چې د اوبو منابع مدیریت شي، ترڅو د ګاونډیو سیاست په خپله ګټه راوګرځوي.

ج: افغانستان د تاریخي تجربو پر اساس تل د خپلو منابعو په وجه د زبرځواکو یرغل لاندې راغلی دی او اوبه اوس هغه ارزانه او آسانه ماده نه ده، اوس خو د رڼو تېلو حیثیت لري، نو ددې لپاره چې دا خپلې اوبه راته سرخوږی جوړ نه شي او د اوبو په لحاظ هم په بل پورې ونه تړل شو، پکار ده چې اوبه په ښه توګه مدیریت شي.

د: افغانستان د پراختیا لپاره داسې یوې وسیلې ته اړتیا لري، چې پر مټ یې وکولای شي دغه جریان کامل کړي او دغه چاره د اوبو د سرچینو پر بنسټ کیدای شي.[70]

## ب - د اوبو سکتور او پراختیا( په افغانستان کې د اوبو منابعو مدیرت)

د ملګرو ملتونو د خوراکي توکو د پروګرام راپور پر اساس(۲۰۱۴)، افغانستان ۲۸٫۷ سلنه پر اوبو تکیه هېواد دی، یانې افغانستان د اوبو اساسي منبع درلودونکی هېواد دی او ۸۰ سلنه یې د واورې ویلې کیدو او د ۲۰۰۰ مترو څخه لوړو ارتفاعاتو څخه لاسته راځي.[71]

خو د اوبو زیربناو جوړښت د هېواد د چټکې اقتصادي ودې لپاره مناسب نه دی. د کلنی منځنی کچې ورښت ۱۶۵۰۰۰ملیونه مترمکعب په تناسب، چې د دې سبب کیږي د اوبو سطحه ۵۷۰۰۰ملیونه متر مکعب ته ورسیږي، اوبو ته د لاسرسي کلنۍ کچه تر ۲۷۷۵ مترمکعبه پورې رسیږي.

[70] هماغه اثر ص۳

[71] موسسه تحقیقاتی دران، مروری بر آبهای فرامرزی افغانستان، کابل، چاپ دوم، مطبعه سادات، ص ۱

دا په دې ياني، چې افغانستان د اوبو ذخيره کولو وس نه لري، خو په کافي اندازه د اوبو د عرضې توان لري. په داسې حال کې چې د افغانستان بالقوه ظرفيت تر ۷۵ مليارد متر مکعبه اټکل شوی دی.

دغه هېواد په نړۍ کې تر ټولو کم د اوبو د ذخيره کولو ظرفيت لري."

۱.۱ جدول: په افغانستان کې د اوبو د توازن اټکل

| د اوبو منابع | د اوبو منابعو ظرفيت ( د مليارد مترمکعب پر اساس) | اوسنۍ ګټه اخيستنه د مليارد مترمکعب پر اساس | هغه منابع چې ګټه نه ترې اخيستل کيږي. |
|---|---|---|---|
| سطحي اوبه | ۵۷ | ۱۷ | ۴۰ |
| ځمکې لاندې اوبه | ۱۸ | ۳ | ۱۵ |
| ټولټال | ۷۵ | ۲۰ | ۵۵ |

په اوسني وخت کې يوه جدي ننګونه صحي اوبو ته نه لاسرسی دی. افغانستان د ۳,۳ مليونه هکتاره ځمکې څخه په ۱۹۷۰ کې يواځې ۱,۸ مليونه هکتاره ځمکه په ۲۰۰۸ کې کرلې وه چې له دې څخه يې يواځې ۱۰ سلنه په پرمختللي ډول د اوبخور سيستم څخه ګټه پورته شوې او نوره ټوله په پخواني سيستم چې معمولا د ژورو څاګانو کېندل دي، ګټه پورته کيږي؛ دا هغه طريقه ده چې د ځمکې لاندې اوبو ته نه جبرانيدونکی تاوان اړوي.

[72] هماغه اثر ص ۱

په هېواد کې د اوبو د مدیریت او ذخایرو د پراختیا پر سیستم پانګونه نه ده شوي. د اوبو، اقلیمي شرایطو، ځمک پېژندنې، د اوبو کیفیت په اړه د اطلاعاتو نه شتون بله ستونزه ده، چې د اوبو په برخه کې د زیربناوو جوړولو پر وړاندې لوی خنډ بلل کیږي.

۱۹۶۰ او ۷۰ لسیزې په دې برخه کې د لویو بالقوه پروژو مناسب کلونه وو، چې وروستیو مناقشو او شخړو دا برنامې هم له ځنډ سره مخ کړي او په نهایت کې له ۲۰۰۲تر ۲۰۱۴ پورې د نړیوالې ټولنې پر پروژوي پروګرامونو او مرستو تکیه وشوه.

که د افغانستان اوبه مدیریت او پراختیا ومومي، شته ذخېرې د دې هېواد لپاره بسنه کوي. د اوبو په برخه کې د کافي زیربناو نه شتون هغه څه دي چې د اوبو په برخه کې ظرفیت جوړونې او پراختیا ته لوی تاوان رسوي. افغانستان یواځې له ۲۵ څخه تر ۳۰ سلنه پورې د اوبو ذخیرو څخه ګټه اخلي او ناکامي یې د کافي منابعو په شتون کې ده او د مدیریت نه شتون یې د دې سبب کېږي چې ۲۰ څخه تر ۳۰ سلنه پورې نا خالص ملي تولید کم کړي.

د افغانستان ملي وحدت حکومت د اوبو مدیریت په برخه کې مهم ګامونه اخیستي دي، که څه هم د اوبو زیربناو په اړه مهم ګام لا نه دی اوچت شوی. د افغانستان د پراختیا ملي ستراتیژي دا مني چې اوبو ته لاسرسی د خلکو اساسي حق دی او د زیربناوو جوړول د حکومت له اصلي وظایفو څخه ګڼي."

ملګري ملتونه هم پروګرام لري هغه خلک چې پاکو اوبو ته لاسرسی نه لري تر ۲۰۲۰ کال پورې یې نیمایي ته راټیټ کړي. د اوبو عالي شورا جوړول او فني دفتر یې، د اوبو د منابعو لپاره د همغږۍ کونکې مدیریت سیستم منل او د لویو، منځنیو او کوچنیو پروژو د تطبیق او عملي کولو لپاره د مطالعاتو او څېړنو ترسره کول هغه

---

[٦] حکومت افغانستان، استراتیژی انکشاف ملی، کابل، ۲۰۰۸، ص ۵۱

مهم ګامونه دي چې په دي برخه کې حکومت اخيستي دي.

د ۱۹۹۶ کال څخه تر ۲۰۰۸ پورې د وچکالۍ او شخړو په دوام تر ځمکې لاندې اوبو څخه ګټه اخيستنه په اوسنيو حالاتو کې په بې باکه توګه دوام لري او دا د دې سبب کيږي چې د ځمکې لاندې اوبو سطحه ټيټه شي. د اوبو څخه په بېساري توګه ګټه اخيستنه، د نفوسو زياتيدو او کډوالو راستنېدو په صورت کې به سيالۍ رامنځته شي.

د رسمي او قانوني چوکاټ نه شتون، قانون او سياست نه شتون اوبو ته د زياتيدونکې تقاضا ځواب نه شي ويلای. له يوه اړخه د اوبو منابعو مديريت او پراختيا تر منځ د پيوند نه شتون او له بل پلوه د اقليم تغيرات تر غور او ارزونې لاندې نه دي نيول شوي او دې برخې ته لازمه توجه نه ده شوې.

د دوامدارې پراختيا، ټولنيز او اقتصادي ثبات لپاره اړينه ده، چې د اوبو منابعو مديريت ته توجه وشي او تر بل هر وخت زيات په پنځو حوزو کې د اوبېزو منابعو منسجم مديريت ته اړتيا ليدل کيږي.[74]

## ۳ - له پولې د اخوا اوبيزو سرچينو د مديريت تشکيلاتي جوړښت

**الف - حکومتي بنسټونه:** که څه هم د ۲۰۰۹ کال اوبو قانون د اوبو منابعو مديريت اصلي ماموريت د اوبو او انرژۍ وزارت ته ورکړی، خو د اوبو عالي شورا د سياستونو او پلانونو په جوړولو کې رغنده او مهم رول لوبوي، له تخنيکي پلوه هم شورا صلاحيتونه لري او هم اجرايي قدرت څخه برخمنه ده.

دا شورا چې په ۲۰۰۵ کې رامنځته شوې ده، د اوبو منابعو د مديريت په اړه د څو سکتورونو مشري کوي او د چارو تنظيم او همغږي يې د شورا په لاس کې ده.[75]

[74] موسسه تحقيقاتي دران،مخکينی، ص۳

[75] موسسه تحقيقاتي دران، مخکينی ۱۸ مخ

د اوبو عالي شورا چې مشري يې د ولسمشر دويم مرستيال پر غاړه لري،د پاليسی جوړولو، د قوانينو او مقررو څارل، د سياستونو اجرا او کنټرول د دې شورا له مهمو صلاحيتونو څخه ګڼل کيږي.

| شميره | دولتي بنسټ/ وزارت | ماموريت او دنده |
|---|---|---|
| ۱ | د اوبو او انرژی وزارت | د اوبو منابع مديريت، پراختيا او انکشاف او د اوبو زيربنا جوړول. بريښنا توليد/اوبيزه انرژي |
| ۲ | د کرنې، مالداری او اوبو لګولو وزارت | د اوبو لګولو سيستم پراختيا او د فارمونو د اوبو تامينول |
| ۳ | د ښاري پراختيا وزارت | د ښاري اوبو پراختيا او قانوني کول |
| ۴ | د کليو او پراختيا وزارت | د کليو او اوبو تامين، د بريښنا توليد وړو پروژو حمايت او په وړه کچه د اوبو لګولو سيستم پراختيا |
| ۵ | د کانونو وزارت | د ځمکې لاندې اوبيزو منابعو، مديريت، څارل، کشف، کنټرول او پراختيا |
| ٦ | د عامې روغتيا وزارت | د څښاک اوبو تنظيم او پر کيفيت يې نظارت |
| ۷ | د چاپېريال ساتنې ملي اداره | د چاپېريال په اړه د اوبو په ګډون ټولو فعاليتونو او چارو تنظيم او |

| | | |
|---|---|---|
| | | نظارت |
| ۸ | د اوبو عالي شورا | د اوبو له منابعو څخه د ګټې اخیستنې په منظور د پلانونو جوړول، انکشاف او پراختیا او د حکومتي نهادونو رهبري او همغږي کول |
| ۹ | د افغانستان د هایدرولوژي ملي کمیته | د اوبو په سکتور کې د ظرفیت جوړونې ترځنګ د مشورتي او تحقیقاتي فعالیتونو پرمخ بېول |
| ۱۰ | د هواپېژندنې اداره | د ورښت په اړه د معلوماتو راټولول |
| ۱۱ | د علومو اکاډمي | د اوبو سکتور په اړه تحقیق او مشوره ورکول |
| ۱۲ | بهرنیو چارو وزارت | د اوبو په اړه ټول هغه موضوعات چې په نړیوالو چارو پورې اړوند دي |
| ۱۳ | د عدلیې وزارت | د اوبو په اړه د قوانینو او مقرراتو توضیح او تشریح |
| ۱۴ | د مالیې وزارت | د اوبو د پروژو په اړه د برنامو تمویلول |
| ۱۵ | د کورنیو چارو وزارت | د اوبو د ټولو مسایلو په اړه محافظت، اختلافات او مناقشاتو ته رسیده ګي کول |

Government of Afghanistan, Afghanistan national development strategy,ANDS,Kabul, 2008, p.87

**ب - مدني ټولنې**: دا چې په افغانستان کې د اوبو مسله نسبتاً یوه نوې موضوع ده، نه حکومت او نه نړیوالې ټولنې دې برخې ته خاصه پاملرنه کړې ، په دې برخه کې د مدني ټولنو دخالت هم د پام وړ نه دی. پر دې سربېره د هاینریش بل بنسټ په هېواد کې د « طبیعي منابعو څخه د نظارت شبکې» تر عنوان لاندې د مدني ټولنې کړنې ارزولي دي. د ۲۰۰۲ کال راهیسې د دې ټولنو په ښساري کچې زیاتیدل د اوبو سکتور په اړه د دوی رول لوبول څو ځلې ډیر اهمیت لري.

یاده شبکه په ۲۰۱۲ کال کې د افغان او بهرنیو نهادونو سره تر مشورې وروسته رامنځته شوې ده. دا شبکه د ۶۲ مدني نهادونو او یو خپلواکو ارګانونو څخه جوړه شوې او موخه یې داده چې د افغانستان طبیعي منابعو څخه په شفافه اواغېزمنه توګه ګټه واخیستل شي.[76]

د «تحقیقاتو او سولې روزلو سازمان[77]» په بریتانیه کې د چتم هاوس تحقیقاتي مرکز همکاره ډله ده، په سویلې آسیا کې یې د اوبو مدیریت په اړه څیړنه ترسره کړې. دا راپور د مرکو، آنلاین څیړنو او مشاهدو پر بنسټ برابر شوی او دې پایلې ته رسیږې چې په دې سیمه کې د اوبو مدیریت ډیر ضعیف دی، د پولې هاخوا اوبو په اړه همغږې او ګډ لیدلوری شتون نه لري، د کافي او مؤثرو اطلاعاتو نه شتون بله ستونزه ده او د اوبو پېچلو شرایطو ته په پام باید په ښه نیت لاسرسی نه د رقابت لمخې.

سربیره پر دې د ملي کچې څخه ښکته د اوبو مدیریت په پخوانیو سیستمونو ترسره کیږې او د اوبو ټولنیز اجتماعي مدیریت بنیاد یې رامنځته کړی د میراب

---

[76] دران تحقیقاتي بنسټ، مخکینی، ۲۰ مخ

[77] http:// www.ptro.org.af/completed– projects.html

پخوانی سیستم،[79] د دوه لغاتو څخه جوړ دی چې میر رهبر او اوبه دي، دا کلمه خواوشاه ۲۰۰۰ کلن تاریخ لري چې د اوبو مدیریت به یې پرغاړه درلود. د ۶۰ تر ۷۰ سلنې پورې د اوبو مدیریت او اوبه لګول په همدې سیستم تر سره کیږي. د کارپوهانو په باور په اوسني وخت کې دا سیستم ځینې نیمګړتیاوې لري، خو د دې سره سره د میرآب رول حیاتي دی او له پامه نه شي غورځول کیدای. اما په دې وروستیو کې په دې پخواني سیستم کې د زورواکو لاسوهنې لیدل کیږي. د دې ستونزو سربېره د میرآب ، جرګې او مرکې نقش د اختلافاتو په حل کې ځانګړی ارزښت لري.[80]

د اوبو قانون ۱۸مه ماده اوبو څخه د ګټه اخیستونکو انجمنونو ته اشاره کوي او د اصلاح شویو سیستمونو له جملې څخه یې ګني، چې له دې لارې سیمه ییزې ټولنې د اصلي برخوالو او شریکانو په توګه د اوبو په مدیریت او اداره کولو کې ګډون کوي، یادونه باید وکړو چې د محلي ټولنې مشارکتي سیستم له میرآب سره په ټکر کې نه دہ، افغانستان د کلیوال اوسېدونکي ډیر لري او سیمه ییزې ټولنې په دې برخه کې ښه رول لوبوي.

د اوبو لګولو انجمنونه چې په ۲۶ مه ماده کې یې یادونه شوې د اوبو په ساتنه او کار کې مهمه ونډه لري. د محلي ټولنو پراختیایي شوراګانې چې د کلیو او پراختیا وزارت په چوکاټ کې فعالیت کوي، هم د اختلافاتو په سوله ایز حل کې مهم نقش لري.»

**ج- د اوبو سکتور او نړیوال مرستندویان:** د افغانستان د اوبو په سکتور کې د

[78] وکیل، میرباشی، کوکباشي، چکباشي او نور .. هم میرآب ته کارول کیږي.

[79] Hbs, in conversation with khwagakakar, http://www.boell.de/en/2014/03/10/civil- society-could-independently- proviede-analysis-and-information-policy-makers

[80] دران تحقیقاتي مؤسسه، مخکینی،۲۱ مخ

نړیوالي ټولنې په لسګونه نهادونو کار کوي ، چې په لاندې ډول ورته اشاره کوو:

| شمیره | نړیوال شریکان/ مرستندویه بنسټ | د مشارکت نقش او ډول یې |
|---|---|---|
| ۱ | نړیوال بانک | د افغانستان لپاره د بیارغونې صندوق ایجاد، د اوبو د سکتور لپاره مشورې، ظرفیت جوړونه، د کلیوالي او ښاري اوبو تامین او پراختیا |
| ۲ | اروپایي اتحادیه | د کندز او آمو سیندونو د برنامو څخه ملاتړ، پر دې سربیره د کلیوالي او ښاري پروژو او د ملي پیوستون په چوکاټ کې مرسته |
| ۳ | آسیا پراختیایي بانک | د طبیعي منابعو ملاتړ، د بلخ سیند او د غربي اوبیزو حوزو ملاتړ او د اوبو منابعو مدیریت |
| ۴ | د ملګرو ملتونو د کرنې او خوراکي توکو پروګرام | تحقیقاتي ملاتړ، د اوبو سکتور لپاره ظرفیت جوړونه او مشوره ورکول |
| ۵ | د آلمان تخنیکي مرستې( giz) | د اوبو د منابعو سکتور څخه قانوني او بنسټیز ملاتړ،په کابل، کندهار او هرات کې د انرژۍ او برېښنا تولید |
| ٦ | د آلمان پراختیایي بانک | په کابل، هرات، کندز کې مالي ملاتړ او د اوبو په سیستم کې بهبود رامنځته کول |
| ۷ | د متحده ایالاتو پراختیایي اداره(USAID) | د محلي، ښاري او کلیوالي اوبو تامینولو لپاره د برنامو ملاتړ، د هلمند کجکي برېښنا پروژې ملاتړ، |

| | | |
|---|---|---|
| | | د راتلونکو پروژو لپاره د ظرفیت او مهارت لوړول |
| ۸ | جایکا( جاپان) | د اوبو منابعو په اړه علمي مطالعات، د ملي پیوستون په برنامو کې ګډون ، بلخ کې د اوبو منابعو ملاتړ، د کابل د اوبو تامین مطالعه او فاضله اوبو لپاره تدابیر نیول، او د ده سبز سیمې د اوبو تامین او فاضله لپاره ترتیبات برابرول |
| ۹ | یونسکو | د اوبو پیژندنې نړیوالې برنامې له طریقه د اوبو ملي منابعو د پراختیا په برنامه کې ونډه اخیستل، د پراختیا لپاره یې هڅې کول او د ظرفیت لوړولو برنامو ملاتړ |
| ۱۰ | د هند حکومت | د سلما بند جوړول، د امیرغازي او قرغې بندونو بیارغونه او د ظرفیت لوړولو برنامو ملاتړ |
| ۱۱ | ایران دولت | د ظرفیت لوړولو برنامې ملاتړ او د اوبو او انرژۍ وزارت په چوکاټ کې د تحقیقاتي موسسې رامنځته کول |
| ۱۲ | د کانادا نړیواله پراختیایي اداره | د دهله بند مالي لګښت د ملي پیوستون په چوکاټ کې د کلیوالي اوبو مدیریت تامین |
| ۱۳ | د امریکا د ځمکپېژندنې تحقیقاتي اداره | د کانونو وزارت په چوکاټ کې د ځمکې لاندې اوبو د کیفیت ارزول او څارنه |

Jalil Dadman


| | | |
|---|---|---|
| ۱۴ | ملګري ملتونه - هیئتات | د بناري پراختیا وزارت په چوکاټ کې د بناري اوبو برنامو ملاتړ |
| ۱۵ | د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام | د اوبو په اړه د کوچینو برنامو ملاتړ او هغو برخو ته یې پاملرنه چې بین المللي مسایلو سره کار لري |
| ۱۶ | د غرنیو سیمو د پراختیا نړیوال مرکز | له پولې په اخوا برنامو کې ګډون، تجربو ، د سیمه ییزو نهادونو شریکول او د سیمه ییزو اړیکو یو مرکز جوړول[81] |
| ۱۷ | د بریتانیې نړیواله پراختیایې اداره | د ملي پیوستون په چوکاټ کې د کلیوالي اوبو مدیریت ملاتړ |
| ۱۸ | ډنمارک | د ملي پیوستون په چوکاټ کې د کلیوالي اوبو مدیریت ملاتړ |
| ۱۹ | ناروې | د ملي پیوستون په چوکاټ کې د کلیوالي اوبو مدیریت ملاتړ |

دران تحقیقاتي مؤسسه، مخکینی،۲۲مخ

## د - له پولې د اخوا اوبو په اړه علمي او تحقیقاتي بنسټونه:

په نړۍ کې د پولې اخوا اوبو په اړه تخنیکي او مطالعاتي کارونه کم نه دي. په څینو کې مشخصا د افغانستان د پولې هاخوا اوبو یادونه هم شوې، د افغانستان

[81] د دي برنامي غړي هیوادونه عبارت دي له افغانستان، بوتان، بنګلادیش، چین، هند، میانمار، نیپال او پاکستان

اوبیز اطلس، چې د نړیوالې تولنې او اوبو لګولو وزارت، چاپیریال ساتنې اداري او نورو اړوندو ارګانونو په ګډه همغږۍ او همکارۍ جوړ شوی په تېره یوه لسیزه کې د فني اطلاعاتو لاسته راوړلو تر ټولو لویه او غني وسیله ده. په ۲۰۱۱ کې د ملګروملتونو پراختیایي برنامې، د انساني پراختیا ملي راپور تر عنوان لاندې بله مهمه څېړنه ده، چې په دې برخه کې ترسره شوې. د دې سره، سره په افغانستان کې دا کارونه کم تر سترګو کیږي. د افغان کارپوهانو او لیکوالانو لخوا په دې برخه کې ډېرې کمې لیکنې شوې دي او د هلمند اوبو په اړه نجیب آقا فهیم چې دمګړۍ(۱۳۹۶) د بهرنیو چارو وزارت د پالیسۍ رئیس دی، لیکنې کړې دي او نورو څېړونکو په دې اړه کومه خاصه پاملرنه نه ده کړې."

د افغانستان د علومو اکاډمۍ د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز په ۲۰۱۴ کې د افغانستان له پولې ها خوا اوبو په اړه کنفرانس را وغوښت، چې موخه یې د تحلیلګرانو او کارپوهانو د نظریاتو تبادله او تخنیکي مسایلو څېړل وه.

د هشت صبح ورځپاڼې په 1393کې د دې موضوع په اړه درې ورځې پرلپسې مقاله نشر کړه او په کې پر چاپېریال، اقلیم او کرنیزو برخو اغېزې څېړل شوی دی. په دې مقاله کې د اوبو منابعو د بهبود او پراختیا باندې ټینګار شوی، خو په دې اړه یې د سیمه ییزو همکاریو په اړه څه نه دي ویلي."

د افغانستان دیپلوماسۍ انستیتیوت چې د بهرنیو چارو وزارت په چوکاټ کې فعالیت کوي، د دې موضوع په اړه د کارپوهانو ګډه ناسته رابللې وه. کارپوهان

---

[82] د پروفیسور نجیب آقا فهیم لیکنه د افغان زریزي په نوم مجله کې په ۱۲ جون ۲۰۱۴ کې خپره شوه په ۲۰ آګست، می ۲۷ او جولای په ۱۶ د نبیله هورخش په نوم یو چا مقالي لیکلې چې نومونه یې هم دي، «منابع آبی افغانستان نیاز به مدیریت سالم دارد»، « محیط زیست قربانی جنګ آب»او «نبود ذخیره آب یک چالش عمده محیط زیست»او د لاندې لینکونو څخه لاسته راتلای شي:

http//8am.af/1393/03/7enviroment-afghanistan-water-war-http://8am.af.1395/05/29/environment-afghanistan-water-victims/and[83] http://8am.af/1393/05/25/enviroment-afghanistan-wather/

کولای شي د تمایل په صورت کې له جاري هڅو سره یو ځای شي، که څه هم په دې برخه کې د افغان دیپلوماتانو ګام مهم ښکاري.»

## ۵ - د افغانستان د اوبو د مدیریت په اړه د سیاسي ګوندونو لیدلوری

سیاسي ګوندونه او استازي یې د دې موضوع د حساسیت په نظر کې نیولو سره رسمي څرګندونې نه کوي. دا واضح اظهارات یواځې د اشرف غني لخوا د کمپاینې شعار په ترڅ کې وشو، چې د تحول او تداوم منشور مهمه برخه جوړوي د اوبو مدیریت په اړه د واضح میکانیزم پر درلودلو، ګاونډیو هېوادونو سره پر همکارۍ او نړیوالو قوانینو په کې ټینګار شوی دی.»

له دې سره سره په دې سند کې د عمومي افکارو خوښ کړای شویو پالیسیو په څنګ کې ، ګاونډیو په ځانګړي ډول ایران او پاکستان سره د هریرود، مرغاب او کابل -ایندوس په اړه د هیڅ ډول هوکړو یادونه نه ده کړې.

جمهوري ریاست مقام ته له رسیدو وروسته غني په ۲۰۱۴ د سپتمبر په ۲۱ له بي بي سي سره په مرکه کې د افغانستان د اوبو مسلې پر نقش ټینګار وکړ او پر دې یې تاکید وکړ چې دغه سکتور ته به لومړیتوب ورکوي.» دغه روحیه او خبرې یې د سوګند کولو مراسمو کې هم مشهودې وې.»

## ۴ - د اوبو د سرچینو د مدیریت هر اړخیزه تګلاره

د اوبو د سکتور د ستراتیژۍ په شان، د اوبو قانون، د سیندنیو حوزو پرمختیا ته د

---

[84] دران تحقیقاتي موسسه، مخکینی، ۲۷ مخ

د «تحول اوتداوم» منشور، د اشرف غني احمدزي انتخاباتي کمپاین لخوا خپور شوی کتاب، ۲۰۱۴، ۱۹۳، ۱۹۴[85]، ۱۹۸ مخونه

له بي بي سي سره د جمهور ریس مرکه، د لاندې لینک څخه کولای شی ترلاسه کړی:
http;//www.facebook.com/video.php/=10152476464538292&set=34246523291&type=2&theater[86]

[87] د تحلیف په مراسمو کې د جمهور ریس د وینا متن، ۲۰۱۴، میزان، کابل - افغانستان

اوښتو او د ځايي شريکبانو د پياوړي ګډون پر بنسټ د اوبو د سرچينو مديريت يوه هراړخېزه تګلاره خپله کړې ده. د مثال په توګه، د اوبو دسکتور ستراتيژي، د اوبو د سرچينو د مديريت، فعاليت او د اوبو د برابرولو او د سيستمونو د ساتنې سربيره له اوبو د استفادې د ويش په اړه پرېکړو کې، د نهايي ګټه اخيستونکي د ګډون پر اړتيا ټينګار کوي.

همدا راز د اوبو قانون، د اوبو دسرچينو مديريت او پلانونو په ټولو چارو کې د شريکبانو ګډون هڅوي او پر دې باور دی چې دا شان ګډون په ځانګړې توګه په ځايي کچه ډېر اهميت لري."

د اوبو قانون، د اوبو ساتنې، کنټرول او ادارې د ځانګړو اړخونو اصلي او حمايوي مسوليتونه، لاندينيو يوولسو وزارتونو او ادارو ته سپارلي دي:

- ✓ د انرژۍ او اوبو وزارت
- ✓ د کانونو وزارت
- ✓ د عامې روغتيا وزارت
- ✓ د چاپېريال ساتنې ملي اداره
- ✓ د سرحدونو او قبايلو چارو وزارت
- ✓ د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت
- ✓ د ښارجوړولو وزارت
- ✓ د کليو د پراختيا او بيارغونې وزارت
- ✓ د ترانسپورت او ملکي هوايي چلند وزارت
- ✓ د بهرنيو چارو وزارت

---

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو سازمان دمرستي ماموريت( يوناما) د قانون حاکميت څانګه، د اوبو حقوق

[88] د افغانستان پر کرنيزو اوبو د حاکم قانوني چوکاټ ارزونه، ۲۰۱۶، کابل اکتوبر.ص ۷

✓ د کورنیو چارو وزارت[۳۱]

د دغه هدف ترلاسه کولو لپاره، د اوبو قانون د سیندنیو حوزو شوراګانې او اداري جوړې کړي، چې د تصمیم نیولو په بهیر کې د اوبو د ځایي ګټه اخیستونکو او نورو شریکبانو ګډون او ونډه تشویق کړي.

ټاکل شوې چې د سیندنیو حوزو دا شوراګانې د افغانستان په پنځو حوزو کې جوړې شي.

د سیندنیو حوزو شوراګانې، د نورو موضوعاتو ترڅنګ په خپلو سیندنیو حوزو کې دغه مسؤلیتونه په غاړه لري:

- د اوبو ملي تګلارې ته پام سره، د اوبو د سهمیې ټاکل.
- د اوبو د حقونو( حقابو) د تامینولو د چارو تنظیم او څارنه.
- له اوبو د ګټې اخیستنې د اجازه لیک ارزونې، تنظیم او ردولو په اړه د معیارونو رامنځته کول.
- له اوبو د ګټې اخیستنې د اجازه لیک صادرول، بدلون او یا لغوه کول.
- د سیندنیو حوزو د فرعي شوراګانو د چارو څارنه او د هغوی د پرېکړو بیاکتنه.
- د اوبو د وېش او ګټه اخیستنې پر سر د شخړو هوارول.

د سیندنیو حوزو پر شوراګانو او ادارو سربېره د اوبو قانون د انرژۍ او اوبو وزارت مکلف کوي، چې له اوبو د ځایي ګټه اخیستونکو اړونده دولتي بنسټونو او شریکانو په ګډون د سیندنیو حوزو فرعي شوراګانې جوړې کړي. د سیندنیو حوزو فرعي شوراګانې د شخړو د حلولو هغه صلاحیتونه لري، چې د سیندنیو حوزو شوراګانې یې لري، خو فرعي شوراګانې د اوبو د ګټه اخیستنې اجازه لیک د صادرولو او

---

[۳۱] د اوبو قانون، ۱۲ تر ۱۴ مادې

Jalil Dadman



تعدیلولو واک نه لري.

څرنګه چې وړاندې وویل شو، د سیندنیو حوزو د فرعي شوراګانو چارې او پریکړې د اړوندو سیندنیو حوزو د شوراګانو تر څارنې او ارزونې لاندې وي.

د اوبو د سرچینو د مدیریت هراړخیزې تګلارې سره سم، د اوبو قانون وړاندوینه کوي، چې د اوبو د سرچینو په ساتنه او اداره کې له اوبو د ځایي ګټه اخیستونکو ټولنې مهمه ونډه اخلي. دغه قانون دوه بیلابیلې ټولنې جوړوي: له اوبو د ګټه اخیستونکو ټولنې او د اوبو لګولو ټولنې. د یاد قانون د لسمې مادې ۱۲ جز د انرژۍ او اوبو وزارت مکلفوي، چې د اوبو ګټه اخیستونکې ټولنې جوړې کړي؛ دغه ټولنې د حقیقي او حکمي اشخاصو داوطلبه ډلې دي، چې په خپلو ټولنو کې له اوبو ټولنیزه، اقتصادي او حرفوي ګټه اخیستنه تر غور لاندې نیسي.

د یاد قانون ۱۱ مادې پنځم جز د کرنې او اوبولګولو وزارت مکلفوي ،چې د اوبو لګولو ټولنې جوړې کړي. د اوبو لګولو د ټولنو د ونډې په اړه د همدې قانون په ۲۳ ماده کې راغلي، چې د کرنې او مالدارۍ وزارت کولای شي په ځانګړو سیمو کې د اوبو لګولو شبکو کې د اوبو د ویش مسولیت د اوبو لګولو ثبت شویو ټولنو ته وسپاري. د اوبو قانون ۲۳ ماده د اوبو لګولو ټولنې د اوبو لګولو دودیزو سیستمونو سره تړي او دغو ټولنو ته اجازه ورکوي چې د حقابو، اداره او مسولیت خپلو ټاکل شویو میرآب باشیانو او میرآبانو ته وسپاري.[۳۰]

## ۴ - د اوبو د سکتور حقوقي او سیاسي چوکاټ

د اوبیزې انرژۍ ظرفیت ته په کتو او دا چې دا انرژۍ ارزانه او د تغیر وړ ده او په ورځني ژوند کې یې د اهمیت په ډېرېدو سره سره افغانستان د اوبو مدیریت او

---

[۳۰] په افغانستان کې د ملګرو ملتونو سازمان د مرستي دفتر، مخکینی ص ۹

Jalil Dadman



پراختیا لپاره د اوبو لګولو په برخه کې ډیر تمرکز کړی دی.

د اوبو سکتور اوسنی بنیاد په ۲۰۰۲ کې د نړیوال کنفرانس په ترڅ کې کېښودل شو او په پایله کې د کابل هوکړه لیک لمخې د اوبو سکتور په برخه کې د اوبو عالي شورا پر اساس په ۲۰۰۶ کې د « اوبو سکتور ستراتیژیک چوکاټ» تر عنوان لاندې قوانین، مقررات او پالیسي رامنځته شوې.

تر دې وروسته د اوبو سکتور مدیریت پروژه ای بنه خپله کړه او له کمي او کیفي نظره یو جامع سیستم چې د ښځو ونډه هم پکې ښکاره وه، طرح شو.

د « اوبو سکتور ستراتیژیک چوکاټ» د پولې هاخوا اوبو څخه د مناسبې او دوه اړخیزو ګټو په نظر کې نیولو سره تدوین شو، چې په هغه کې د پولې هاخوا سیندونو د انکشاف او پراختیا لپاره د نهادونو همکاریو او په دې اړه د یو کُلي چوکاټ نه شتون یې د کمزوری ټکي دي. په دې سند کې د ګاونډیو هېوادونو پر اړتیا او متقابل اعتماد او څو اړخیزې پراختیا لپاره پر همکاری ټینګار شوی دی.

د افغانستان د اوبو سکتور پراختیا ته د ملي پراختیایې ستراتیژۍ په دریمه برخه کې نغوته شوې. دا سند په سیمه ایزه او نړیواله کچه د هېوادونو همکاریو ته اشاره کوي او د انرژی تولید په برخه کې د زیربناو جوړولو یادونه پکې شوي ده.

د پولې هاخوا اوبو اړوند ستراتیژي، چې د یو ماستر پلان په شکل په ۲۰۰۴ کې وړاندې شوه، په فرعي څانګو او د انرژی تولید په برخه کې د اړونده بنسټونو همغږی او همکاری ته اړتیا لري.

د اوبو او برېښنا وزارت دنده لري، چې د ګاونډیو هېوادونو سره د پولې هاخوا اوبو پر سر د بحث لپاره د اوبو منابعو ملي انکشافي برنامه تر لاس لاندې ونیسي.

---

[91] Government of Afghanistan, Afghanistan national development strategy, water resources management, Kabul, 2008, p.24

[92] هماغه اثر، ۲۱ مخ

Jalil Dadman



د قانون ابرخه د اساسي قانون ۹ ماده د اوبو محافظت او مدیریت لپاره اړونده اداري او نهادونو ته دنده سپاري، همدا راز د اوبو قانون (۲۰۰۹) د اړونده نهادونو او وزارتونو نقش په روښانه توګه بیان کړی او هغوی ته دندې سپاري، چې د فرعي برخو مدیریت لپاره اساسي کامونه واخلي او فني اداره په دې برخه کې د همغږي کونکې اداري په توګه رول ولوبوي.

د اوبو قانون ۸ ماده د اوبو او برښنا وزارت مکلفوي چې د پولي هاخوا اوبو په اړه د بهرنیو چارو او سرحدونو او قبایلو چارو وزارت سره تر همغږۍ وروسته لازم کامونه پورته کړي.

د لومړیتوبونو ملي برنامو څخه یې د اوبو او طبیعي منابعو انکشاف برنامه کې د سیمه ایزه منابعو تونل برنامه او همداراز د انرژۍ وړاندې کولو ملي برنامه هم په توله کې هغه پروګرامونه دي چې په دې برخه کې اخیستل شوي دي.

د نوموړو پروګرامونو اصلي موخه د پولي هاخوا اوبو سم مدیریت او ساتنه ده او په زراعتي، صنعتي، او انرژۍ تولید برخه کې یې د اوبو پر اهمیت ټینګار کړی.

په دې برنامو کې وړاندوینه شوې چې د پولي هاخوا اوبو سالم مدیریت او سمې ګټې اخیستنې په پار لازمه ده د ګاونډیو هېوادونو سره پروتوکولونه او هوکړه لیکونه رامنځته او د زیان نه رسولو لوظنامې له یو بل سره لاسلیک شي.

د اوبو او انرژۍ وزارت په دې وروستیو کې د پولې هاخوا اوبو په اړه د پالیسي طرح جوړه کړې چې دم ګړی د جمهور رئیس د میز پر سر پرته ده. په اوسمهال

---

Government of Afghanistan, agriculture and rural development cluster, national priority program 1, national water and national resources development program, Kabul, 2013, p.38

Government of Afghanistan, infrastructure development cluster, nation priority program3, national energy supply program, Kabul, 2011, p.29

د اوبو او برښنا وزارت د هایدروپولیک کمیټې غړي کاوه صاحب سره مرکه.

مورډې پالیسي ته لاسرسي نلرو خو توقع داده ،چې دا سند به د« ملي انکشافي ستراتیژۍ »او همداراز د «لومړیتوبونو ملي برنامو» سره په همغږۍ په دې اړوند د بنسټونو دندې مشخص کړي او دې مسالې سره د افغانستان د چلند ډول واضح کړي او په نهایت کې دا هېواد د اوبو مؤثر او سالم مدیریت خواته بوځي.

## ۵ - د ملي وحدت حکومت او د اوبو د سرچینو مدیریت

د ملي وحدت حکومت د خپل کار د پیل راهیسې د اوبو مدیریت او د دې ثروت بدلول پر سرمایه باندې، هم د مقررو او پالیسیو د جوړولو په برخه کې او هم د اجرایې او تخنیکي برخه کې مهم ګامونه اخیستي دي. په دې برخه کې د اوبو او انرژۍ وزارت سربیره، د کلیو او پراختیا، کرنې او اوبو لګولو وزارتونو هم د اوبو مدیریت په اړه مهمې چارې تر سره کړي دي."

د ملي وحدت حکومت، د اوبو مسلې ته د بنسټیزې پانګې په توګه ګوري او خپلو ستراتیژیو کې یې د اوبو سرچینو مدیریت او په افغانستان کې د روانو اوبو مهارول له لومړیتوبونو څخه شمېرل کیږي. ځکه چې د اوبود مناسب مهار او مدیریت له لارې کېدای شي هېواد دوامداره سولې، ټیکاو او همدا راز د مشترک المنافع هېوادونو د مناسبې ګټې اخیستنې لپاره یوې هوکړې ته ورسیږي.

ولسمشر اشرف غني ، په بیلا بیلو اقتصادي او پراختیایي ناستو کې ټینګار کړی چې د اوبو مهار او مدیریت ته به جدي پاملرنه وکړي او د همدې موضوع د اهمیت په پام کې نیولو سره یې په ۱۳۹۴ کال کې د اوبو او اراضی عالي شورا

---

ضیا دانش، حکومت و مدیریت منابع آبی کشور، وبسایت ریاست جمهوری ۲۰۱۷. د لا ډېرو معلوماتو لپاره لاندې سایت وګورئ:

Aop.gov.af/dari/4134/ حکومت+ و+ مدیریت+ منابع+ آبی+ کشور

رامنځته کړه چې په سر کې یې خپله ولسمشر قرار لري او د اوبو مدیریت په اړه یې ځانګړې او ډېرې ناستې کړې دي."

## الف - د پالیسی تدوین او پلان جوړونه

د اوبو حیاتي پانګې د مدیریت او ګټې اخیستنې لپاره د اوبو سکتور ستراتیژي رامنځته شوې، چې لمخې یې تخنیکي مطالعات، د ۳۲ پروژو تفصیلي ساختمان ډیزاین تر لاس لاندې دي. د دې ترڅنګ ځینې نورې ډېرې پروژې لکه د صحي اوبو، کرنې او برېښنا د تولید لپاره په نظر کې نیول شوي دي. دا پروژې به په لنډمهال، منځ مهال او اوږد مهال کې د پام وړ محسوس نتایج ولري.

افغانستان تیرې یوه نیمې لسیزه کې د ۱۱۱ بندونو مثمریت او نظرسنجي کړې ده چې ځینې یې تر څېړنې لاندې، ځینې یې بشپړې او ځینې یې تر کار لاندې دي."

د افغانستان حکومت د اوبو منابعو په اړه ملي انکشافي پلان لري چې په هغې کې د اوبو ذخیره کولو بندونه، د بیارغونې ملي برنامه، د کانالونو او سربندونو د بیارغولو په موخه د اوبو تاسیساتو سمون او د هېواد د ساحلي سیندونو تحکیم پلان لري، څو د اوبو منابعو د مدیریت او په دې برخه کې د ستونزو د حل لپاره بنستیز ګام پورته کړي.

## ب - اقدامات او کړنې

افغان حکومت د مطالعاتو تر سره کولو او په دې برخه کې د لا ډېرو چارو پر مخ بیولو لپاره لاندې اساسي ګامونه اخیستي دي:

- د اوبو د ښه مدیریت لپاره هېواد په پنځو برخو ویشل چې په لاندې توګه ورته اشاره کوو:

---

97 هماغه

98 هماغه

- ✓ د آمو رود حوزه( واخان، کوکچه، کندز،اندراب او خنجان)
- ✓ د شمال رود حوزه( بلخاب او سرپل)
- ✓ د لوېدیز رود حوزه( هریرود، مرغاب، شرین تگاب، کشک، ادرسکن، کوشان، قیصار، گلران او خاشرود)
- ✓ د هلمند حوزه( ارغنداب، غزني، ترنگ، ارغستان او موسی کلا)
- ✓ د کابل حوزه( گلبهار، پنجشېر، کابل، لوگر، کونړ، علیشنگ او علینگار)

- په ۳۲ بندونو د ۲،۳۳ ملیارده ډالره په لگښت کار پیل شوی، چې تخنیکي مطالعات، ډېزاین او ساختماني او تفصیلي پلان پکې شامل دي. د دې بندونو د گټې سپارلو څخه وروسته به افغانستان مهمې پایلې ترلاسه کړي:

- ✓ شاوخوا ۳۶۶ زره هکتاره ځمکې خړوبېدل؛
- ✓ د شاوخوا ۲۳۰ زره هکتاره ځمکې د اوبو لگونې سیستم ښه کېدل
- ✓ د ۲۰،۳ ملیونه متر مکعب څخه د ډېرو اوبو زېرمونه

دا چاره به زرگونو کورنیو ته روزي پیداکولو وسیله شي او خلکو ته به د کار زمینه برابره شي، همداراز به د ملي عوایدو په لوړېدو او فقر په کمیدو کې مهمه ونډه ولري.

## ج - د اوبو د سکتور انکشافي پروژې

د اوبو سکتور اړوند مهمې زیربنایي پروژې په کار اچول کېږي، چې د نړیوالو همکارانو او ډونرانو سره په گډه، د لاندې انکشافي پروژو ملاتړ کیږي.

- د اوبو سکتور د اوبو سرچینو پېژندلو ته شاملېږي لکه: د ذخیروي اوبو لپاره د بندونو جوړول او د اوبو نور تاسیسات
- ښاري اوبه رسونه ذخیروي بندونو ته اړتیا لري،څو سطحي اوبه تر لاسه شي
- کلیوالي او ښاري اوبه رسونه، د څاگانو کېندلو، تجهیزاتو او سروې ته اړتیا لري
- د اوبو انتقال بخشونه د اوبو بندونو جوړولو، کانالونو او پایپ لاینونو ته شاملېږي
- د اوبو استفاده کولو برخه د اوبیزې برېښنا تولید، د اوبو پمپ دستگاه، اوبو رسولو دستگاه، اوبو تصفیه کول او د اوبو توزیع مراکزو ته شاملیږي

- د زیربنا حمایوي اړخ د اوبځرخ( آبگردان) مراکزو اعمار ته اړتیا لري چې دا بیا د اوبو بندونو، سرکونو، د کارگرانو لپاره مؤقت کمپ جوړولو لپاره اړین دي.
- د ځمکې لاندې اوبه باید د ذخیروي حوزو او اوبو بندونو په واسطه بیاځلي پوره شي.
- د اوبو ذخیره کولو داسې چاره ولټول شي چې کافي اوبه په لاس راشي او د مالداری لپاره په کافي اندازه اوبه ترلاسه شي.
- د سیندونو ساحل د ورانیدو څخه باید کلک مخنیوی وشي.
- د ځنگلاتو احیا، کب نیونې محلات، ټولنیز ملاحظات او د حیات تنوع باید په پام کې ونیول شي.
- د سیلابونو کمښت اداره مکلفه ده چې ساختماني او مدیریتي تدابیر په پام کې ولري.
- د ده سبز او باریکاب اوبو اړتیا باید په جدي ډول په پام کې ونیول شي.
- د اوبو پر ذخایرو سربېره باید د وچکالۍ مخنیوي او مبارزې لپاره جدي پام وشي.
- د اوبو څخه په مؤثره او اقتصادي توگه د استفادې لپاره د نوې تکنالوژۍ څخه گټه پورت شي.
- د ځمکې لاندې اوبو کنټرول او ساتنه او په معقول ډول ترې گټه اخیستل.

دا هغه پروژې دي چې د اوبو په سکتور کې ورته لومړیتوب ورکړل شوی دی.[99]

## د - لاسته راوړنې

د ټاکلو موخو تر لاسه کولو لپاره په ۱۳۹۴ او ۱۳۹۵ کال کې اساسي گامونه اخیستل شوي دي او په ۱۳۹۶ کال کې هم په دې برخه کې ښه فعالیتونه د اجرا په حال کې دي، چې له دې جملې څخه لاندې مواردو ته اشاره کوو:

- د هېواد په گوټ، گوټ کې د هایدرولوجیکي نقشو د تهیې او ارقامو اخیستلو په اړه

---

[99] استراتیژی انکشاف ملی، اداره منابع آب، ۱۳۹۱، جلد دوم، رکن سوم زیربنا ۲ مخ

د هایدرو میتیورو لوجیکي، میتیورو لوجیکي او واوري اندازه کونکو نصبولو چارو پیلیدل.

- د سربند، کانالونو او د ساحلي اوبو تحکیم په موخه په لسګونه انکشافي پروژې په کار اچول، د اوبو ضایعاتو څخه مخنیوی او سالمه ګټه اخیستل.
- په پنځو حوزو کې د ماستر پلان کار پیلیدل.
- د هېواد په پنځو اوبیزو حوزو کې د ۱۹۵۳ کیلومتره اوبو لګولو پروژې په نظر کې نیول، چې د اوبو ډیریدو کې به مهمه ونډه ولري او د ۵۲۰۰ زره هکتاره ځمکه به خړوبه کړي.
- د ننګرهار ولایت ګمبیري پروژې د ډیزاین چارې بشپړېدل، چې په ترڅ کې به یې ۳۵ زره زراعتي ځمکه خړوبه شي.
- د افغانستان د اوبو دیپلوماسي سند طرح نهایي کیدل.
- د پولې ها خوا اوبو د پالیسی مسوده نهایي کیدل.
- د ځمکې لاندې اوبو په اړه د مسودې نهایي کیدل.
- د اوبو سکتور ظرفیت جوړونې پالیسي او استراتیژی نهایي کیدل.
- د اوبو مدیریت او یا اداره کولو د پالیسی ترتیب.
- د سیند د سواحلو استحکام لپاره د طرحې جوړیدل.
- د کاریزونو د بیارغونې طرح نهایي کیدل.[100]

---

[100] ضیا دانش،حکومت ومنابع آبی کشور، وبسایت ریاست جمهوری، ۱۳۹۶
حکومت+ و+ مدیریت+ منابع+ آبی+ کشور /Aop.gov.af/dari/4134

Jalil Dadman



# دریمه برخه

## د افغان دولت لخوا د اوبیزو منابعو مدیریت او سیمه ییزې کشالې

افغانستان د پنځو سیندنیو حوزو، کابل، هلمند، آمو، شمال سیندونو او د هریرود درلودونکی دی او د دې پنځو څخه یې څلور حوزې د ګاونډیو هېوادونه سره ګډ جریان لري. ایران، پاکستان، تاجکستان او ازبکستان هغه هېوادونه دي، چې افغان سیندنۍ حوزې ورسره ګډ جریان لري.

هڅه کوو د افغان دولت لخوا د اوبو مدیریت په هکله د ټولو ګاونډیو اندیښنې وڅېړو:

### ۱ - افغانستان او ایران

#### الف - افغانستان او ایران ( تاریخي لیدلوری)

د اوبو د منابعو تخصیص د ۲۰ مي پېړۍ راهیسې د افغانانو د ناخوښۍ سبب شوی او پر دې باور وو، چې د ایران سیاستونو او اقداماتو د دوی ګټې په نامناسبه توګه تر اغېزې لاندې راوستې. له دې سره سره په رسمي دول د افغان حکومت له لوري دې موضوع ته چندان پام نه دی شوی، په داسې حال کې، چې بې ثباتي، د تخصصي ظرفیتونو نه شتون او پراخ فساد د لازمي سیاسي غوښتنو پر مخ پراته خنډونه دي.

دا دوه هېوادونه په دوه نقطو کې د هلمند او هریرود په اوبو کې سره شریکه نقطه لري او همداراز د سیستاناوبېزه حوزه کې، د هلمند پر سر په لومړي ځل په ۱۸۷۱

کې منازعه رامنځته شوه؛ کله چې ګولدسمیت د افغانستان او ایران سرحد تثبیتاوه، د اوبو د ویش په اړه یې هیڅ ترتیبات ونه نیول. د ګولدسمیت په پریکړه کې د هر راز اختلافاتو حل لپاره یواځې یو پرګراف شتون درلود چې په دې ډول دی:« د سرحد په دواړو خواوو کې باید هیڅ ځوک دا صلاحیت ونه لري چې د هلمند سیند دواړو غاړو ته د کرنیزو ځمکو په اوبو کې لاسوهنه او تصرف وکړي».[101]

د هلمند سیند د کلونو تیریدو وروسته خپل لوری بدل کړ او د ۱۹۰۰ کلونو په لومړیو کې برتانیې یوځل بیا مداخله وکړه، په ۱۹۰۵ کې انګلیسي استازي مک ماهن کابو هماغه ډول ویش وکړ، چې ګولدسمیت کړی وه، یواځې د اوبو په اړه ویش یې اضافي کار و.

هغه دوه پر درې برخه اوبه افغانستان او یو پر درې برخه یې ایران ته ورکړې. دغه هوکړې تر ۱۹۳۰ کال پورې عملي و، له دې کال وروسته د وچکالۍ او اوبو ته د دواړو لورو د تقاضا په ډیریدو یو ځل بیا دغه مسله په جدي اندیښنه بدله شوه، دواړو هېوادونو په ۱۹۳۵ کې دیپلوماتیکې اړیکې جوړې کړې او په ۱۹۳۹ کې د ایران او افغانستان ترمنځ په کابل کې ځیني هوکړې وشوې، چې د هغې پر اساس دواړه خواوې د هلمند له اوبو مساویانه استفاده کوي.

اما د حُسن نیت او اعتماد نه شتون له امله دا هوکړه هم د ستونزو سره مخ شوه او هرې خوا بل لوری تورناوه، چې ګواکې د کانال او نورو تاسیساتو د جوړولو په لټه کې دي او د هوکړې د تطبیق له مفاد سره په ټکر کې دی.

تر ۱۹۷۰ پورې دې مسلې د دواړو هېوادونو د اړیکو پر خرنګوالې ژور اغیز درلود او د ۱۹۷۳ په مارچ کې د افغانستان د وخت صدراعظم موسی شفیق او د ایراني سیال عباس هویدا تر منځ هوکړه وشوه، چې د دې هوکړې لمخې ایران ۲۶ متره

---

.: [101] pirouzmojtahed-zadeh, boundary politics and international boundaries of iran: A study of the origin, evolution, and implication of the boundaries of modern iran( universal publisher: 2007) p.226

مکعبه اوبه په هره ثانیه کې ترلاسه کولې.

له دې سره سره اختلافات پر ځای وو او ایران په افغانستان کې د اوبو بند جوړول د خپل ځان په زیان او د خپلې اقتصادي پراختیا په لار کې خنډ بولي، په داسې حال کې ،چې افغانستان بیا د ایران لخوا د اوبو حفر کول او ذخیرې جوړول د نړیوالو اصولو خلاف ګڼي او ادعا لري چې ایران له خپله سهمه ډیرې اوبه ترلاسه کوي.

د دواړو خواوو له خوا دغه تورونه او انتقادونه دوام لري او افغان مقامات په خصوصي ډول نغوته کوي چې ایران افغانستان کې د بندونو د جوړولو پروسه سبوتاژ کړې. افغانستان تېنګار کوي ،چې د کافي اوبو نه شتون د دې سبب کیږي چې د دوی بزګران د خشخاشو کښت ته مخه کړي.[102]

## الف ۱. : - هامونونه او ګودزره، چاپیریال ته تازه ګواښونه او د دواړو خواوو همکارۍ ته اړتیا

د هامون ( جهیل) چې د هلمند، خاشرود، خسپاس رود، ادرسکن رود او فراه رود څخه رامنځته کیږي؛ مساحت یې ۵۶۶۰ کیلومتره مربع دی، چې ۳۸۲۰ کیلومتره مربع یې د ایران په خاوره او پاتې نور یې په افغانستان کې موقعیت لري.[103]

د فراه ولایت له رودخانو څخه په کلني ډول نږدې ۲۷۶۰ ملیون مترمکعبه اوبه د هلمند هامون ته بهیږي. د هامون سیمې اقلیم صحرایي دی، ډیره توده او وچه هوا

---

[102] به گذارش موسسه جنگ و صلح، ایران با ادعاهای تازه ای مواجه است حاکی از آن که این کشور در قسمت ساخت بند در افغانستان دست به خرابکاری میزند. د ډیرو مالوماتو لپآره لاندې لینک وګوری
http//reliefweb.int/report/Afghanistan/iran-faces-renewed-afghan-dam-sabotage-claims

[103] تاریخ شفاهی افغانستان(۱۹۰۰- ۱۹۹۲)(۱۳۸۰)، گردآورنده صفا، اخوان، تهران: وزارت امور خارجه، مرکز چاپ و انتشارات، ص ۱۳۷

لري، د کلني ورښت کچه يې هم ۵۰ ملي متر ته رسيږي. همدا لامل دی چې ورښت د دې درياچې د اتکا وړ منبع نه شي کېدای.[104]

د دې سيمې بله ځانګړنه داده چې د تبخير[105] اندازه په کې ډېره ده او په کال کې ۴۸۰۰ ملي متر ته رسيږي، موسمي ۱۲۰ ورځني بادونه يې بله ځانګړنه ده، چې د ثور اخر کې پيلېږي او په منځنۍ توګه ۲۸ کيلومتره سرعت لري.

په دې جهيل کې بيلابيل بوټي شنه کيږي، چې د سيمې د سمسورتيا لامل کيږي او د بيلابيلو کډوالو مرغانو پام ځانته اړوي. دغه سيمه د کبان روزنې مناسب ځای دی.[106]

د دې سيند په ګاونډ کې کلي جوړ شوي وو او خلکو به يې د کرنې، کب نيونې او د مرغانو په روزلو سره خپل روزګار مخ ته بېوه. د خوړو اوبو شتون په دې سيمه کې چې ګاونډ ته يې وچه دښته شتون لري، د توريستانو خاصه توجه ځانته را اړولې وه.[107] که څه هم ګودزره په افغان خاوره کې موقعيت لري خو اوبه يې د هلمند سيند څخه سرچېنه اخلي. د دې درياچې مساحت ۱۵۰۰ کيلو متر مربع او عمق يې ۱۰ مترو ته رسيږي، د هامون په خير دا سيند هم يو وخت د کډوالو مرغانو تمځای، د کبانو روزنځای او د کلېوالو خلکو د روزګار منبع وه او د اکوسيستم په جوړولو کې يې مهمه ونډه درلوده،ګودزرده په ۱۳۷۰ کې د دوه عواملو لمخې وچه شوه: لومړی يې د هلمند په سيند کې د اوبو کمښت او دويم لامل يې د ايران په سيستان او بلوچستان کې د دې سيند اوبو څخه په غيرعادلانه او غير منصفانه توګه ګټه اخيستل و.

---

[104] پوهنمل نجيب آقا فهيم، آب، صلح و امنيت براى همه، کابل، چاپ اول، ۱۳۹۵، ۱۹

[105] د حرارت له وجهې د مايع تبديل په ګاز باندې تبخير څخه عبارت دی.

[106] پوهنمل، نجيب آقا فهيم، مخکينی، ص۱۹

[107] هماغه

ایراني مقامات او رسنۍ د دې سیند وچېدو پړه پر افغانستان اچوي،[108] دا په داسي حال کې ده ،چې د ځینو سرچېنو په وینا ایران ان د وچکالی په کلونو کې هم د معاهدې له اوبو څخه څو چنده ډیرې اوبه ترلاسه کوي. له بلې په ایران کې ځینې کړې د سیمې د ککړېدو پړه پر افغان حکومت اچوي، دا په داسي حال کې چې افغانستان هم د دې پدیدې قرباني دی او ایران دا چاره د خپل تقصیر د پټولو لپاره کوي.[109]

## الف . ۲: - هرېرود د دوه هېوادونو ترمنځ بالقوه اختلاف

هرېرود ۸۵۰ کیلومتره اوږدوالی لري، چې ۵۶۰ کیلومتره یې په افغان خاوره کې بهیږي.[110] د ایران او افغانستان ترمنځ ۱۳۰ کیلومتره او د ترکمنستان سره یې۱۱۰ کیلو متره ګډه پوله جوړه کړې. په تېرو وختونو کې هرېرود د ډیرو اوبو په درلودلو ترکمنستان ته بهیدي او د قراقرم شګو کې جذبیدې، د هرات پخواني نومونه ( هری او هریوا) هم له همدې سیند څخه اخیستل کیږي.

په وروستیو کلونو کې دوه ګاونډیو ( ایران او ترکمنستان) د افغانانو اساسي اړتیاوو ته او د افغان حکومت له هر ډول اندېښنو په پام کې نیولو پرته یې په ګډه د دوستۍ بند په نوم پرانیستی.[111]

دغه بند چې د سرخس ولایت( د ترکمنستان سره په پوله پروت د ایران یو ایالت دی) په ۷۵ کیلومترۍ کې موقعیت لري او دواړو خواوو ددې پروژې د اجرا لپاره ۱۶۸ ملیونه ډالر ولګول.

دواړه خواوې په ډیره لویه پیمانه ګټه تري اخلي، په دي وروستیو کې ،چې افغان

---

[108] هماغه ۲۱ مخ

[109] هماغه

[110] پوهاند غلام جیلانی عارض، **دریاهای افغانستان**، اداره کتابخانه سیار اریک، ۱۳۸۳، ۳۵ مخ

[111] پوهنمل نجیب آقا فهیم، مخکینی، ۲۲ مخ

حکومت د سلما بند جوړولو کار ګړندی کړی، ایران په پرلپسي ډول افغان حکومت سره اړیکې نیسي، چې د هریرود حقوقي نظام تدوین کړي.[112]

که لږ ژور فکر وکړو، دې نتیجې ته رسیږو چې د لاندې دلایلو پر اساس د ایران حقابه غوښتنه د نړیوال عرف او نړیوالو حقوقو لمخې مؤجه نه ده:

- د هریرود اوبه د سیند ها خوا د ایران خاورې ته یې هم پراختیا موندلې ده، په داسې ډول چې ۲۱۴۰۰ کیلومتره مربع د ایران په خاوره کې موقعیت لري او په ایران کې د سرخس، کشف رود، ګنبدلی، صالح آباد- جنت آباد، فریمان، تربت جام، شهرنو، باخزر، تاباد او کرات فرعي برخو اوبه هم همدې سیند ته بهیږي، چې په کال کې ۳۰۰ ملیونه متره مکعب اوبه تشکیلوي، دا په داسې حال کې ده چې د ایران دولت د دې اوبو مدیریت خپل انحصاري حق ګڼي او حتی د اوبو څخه ګټې اخیستنې ډول او اندازې په اړه د معلوماتو نه نشرولو حق خبره هم کوي.

  که چیرې هریرود یو سرحدي سیند وبولو، نو بې له شکه ټولې برخې یې د یو حقوقي نظام تر چتر لاندې ګنل کیږي.[113]
- ایران په خپله خاوره کې پر ډیریو فرعي برخو مانع او بندونه جوړ کړي دي او نه پریږدي، چې اوبه یې هریرود ته وبهیږي لکه طرق بندونه، ګلستان، چالی دره، فریمان او شوریجه دي، نو د همدې لپاره افغانستان هم په بالمثل ډول دا حق لري چې په خپله خاوره کې هم د هریرود اوبه مهار کړي.
- هریرود موسمي سیند دی، په اوړي او ژمي کې یې د اوبو مقدار توپیر کوي او دا اوبه کله دومره کمیږي چې حتی د غوریان، زنده جان، کهسان

---

[112] هماغه
[113] هماغه، ۲۴ مخ

او اسلام کلا والسوالۍ چې د دې سیمې په ګاونډ کې قرار لري، په ډېرو فصلونو کې په خپله د اوبو له کموالي سره مخ کیږي؛ نو له دې کبله هم په هریرود باندې د سرحدي سیند اطلاق نه شي کیدای.

- ایران په وروستیو کلونو کې د دوستی بند جوړولو څخه مخکې د هریرود اوبو څخه ډیره کمه ګټه پورته کوله او په هریرود پورې یې تړاو ډېر محدود وه او په کلیوالې سیمو پوري منحصر وو، په همدې سبب د افغانستان په خاوره کې ۱۳۵۰ قمري کې د سلما بند جوړول یو معمولي عمل دی او هیڅ کله هغه مهال د ایران مخالفت سره مخ نه شو.
- د دوستۍ او نورو اړوندو بندونو په جوړولو افغان دولت رسمي اعتراض کړی او د کار په جریان کې یې هم افغان دولت د ۳۷۱ نمبر یادښت ۲۱/۴/۱۳۷۵ نیټې سره خپل رسمي دریځ څرګند کړ او د دې کار بندولو غوښتنه یې وکړه.

نو له همدې کبله د ایران دولت لخوا یو اړخیز عمل او د افغان دولت د اندیښنو په پام کې نیولو پرته د نړیوال عرف او حقوقو خلاف عمل دی چې د افغانستان لپاره هیڅ مسولیت نه ایجادوي.

په پای کې ویلای شو، چې د پورتنیو دلایلو لمخې د ایران دولت تقاضا د نړیوالو حقونو او عرف خلاف ده او په یو ډول د خپل حق څخه ډیره غوښتنه حسابیدای شي چې پر دې موضوع ډېر تاکید کیدای شي د طرفینو اړیکې زیانمنې کړي.[۱۱۴]

## ب - د سیستان او د هلمند د اوبو تاریخي مخینه

د تاریخ په اوږدو کې ایرانیانو پر افغاني سیستان ارضي ادعا وکړه، کله یې چې د

---

[۱۱۴] هماغه، ۲۵ مخ

انګرېزانو په مرسته د سیستان ځمکه ونیوه، بیا یې د هلمند اوبو کې حق وغوښت، په تیرو کلونو کې ایران څو واره د هلمند د اوبو په هکله له افغاني مقاماتو سره خبرې او هوکړې لاسلیک کړې دي،چې هر ځل پرې پښېمانه شوي او د لا زیاتو امتیازاتو غوښتنه یې کړې ده.

د سیستان سیمه د خپل لرغوني روښانه تاریخي سوابقو په لحاظ د افغانستان یو مهم ولایت دی، څرنګه چې دغه سیمه د افغانستان، ایران او بلوچستان په تقاطع کې پرته ده، نو په ۱۹ مه پیړۍ کې دغه سیمه د روسیې او انګریزي استعمارګرو د توجه وړ وګرځیده. په ۱۸۶۶ کې ایرانیانو د سیستان ولایت ته لاس اوږد کړ، چې د افغانستان او ایران ترمنځ خونړي جنګونه پیښ شول.

انګریزانو د هغې معاهدې لمخې چې په ۱۸۵۷ کې یې له ایران سره تړون کړی و، دوی د افغانستان او ایران ترمنځ د اختلافاتو د حل لپاره ځان د حکم په توګه ګانه.
انګریزانو په ۱۸۷۲ کې د ګولد سمیت په مشرۍ یو حکم هیات وټاکه چې د افغانستان لخوا سید نورمحمد شاه خان او د ایران لخوا میرزا معصوم خان د دواړو هېوادونو استازولي کوله. ګولد سمیت د ۱۸۷۲ کال د آګست د میاشتې پر ۱۷ نېټه خپله پرېکړه اعلان کړه چې یوه برخه یې داسي وه:

په دې کې شک نشته ،چې په ۱۰۸ کلونو کې سیستان په ټوله مانا د افغانستان د خاوري یوه برخه وه، البته په ډېرو پخوانیو وختونو کې سیستان د ایران خاوري یوه برخه هم وه، په اوسني عصر کې باید د دواړو خواوو ادعاګانې په نظر کې ونیول شي او د دواړو خواو ملکیت باید تثبیت کړای شي.

ګولد سمیت د سیستان هغه اباده سیمه چې درې خواو ته یې دهامون جهیل واقع دی او بلې خواته یې د هلمند رود بهیږي او د یوې جزیرې شکل لري ایران ته ورکړه،چې دسیستان سیمې ډیرې نفوس هلته ژوند کوي. د څخاسور نفوس لږه برخه او د هلمند د پورته غاړې ځمکې، د سیستان دښتې د کوهک تر بند پورې

افغانستان ته پاتې شول. گولدسمیت د سید نورمحمد شاه د اعتراض سربیره دا پریکړه وکړه.
د سیستان لانجه پر دغه ځای پای ته ونه رسیده ، د هلمند رود چې پخوا د نادعلي ترځنګ تیردیده، په ۱۸۹۶ کې د سختو سیلابونو په وجه، خپل لوری بدل او د پریانو په نامه په نوي لوري وبهیده، چې تر دې وروسته د اوبو ویش د افغانستان او ایران تر منځ د اختلاف ټکی شو."

مګر ښاغلی غلام رضا فخاري په خپل کتاب( د هیرمند سیند په اړه د افغانستان او ایران دولتونو اختلاف) کې داسي لیکي: د ګولډ سمیټ د مسافرت، څېړنو او رای بهیر، چې یوه برخه یې د سیستان د برید پولو او هیرمند سیند په اړه ده، په دوه ټوکه کې راغونډ شوی او په خپله ګولډ سمیټ هم مفصله سریزه کښلې ده.چې ځانته یو ځانګړی کتاب کیدای شي. دا کتاب چې د « ایران ختیځ» نومېږي په ۱۸۷۶ کې په لندن کې چاپ شوی دی او هغه پیښې رانغاړي چې د ماژورسنت جان لوویت او ایوان سمیت په قلم لیکل شوې دي.

د دې حکمیت په راپور کې د دواړو خواوو دعواوو شرح د ایران او افغانستان د اساسي مدارکو او د دواړو دولتونو د بیا توضیحاتو، سیمه ییزو څېړنو، شفاهي اطلاعاتو، تاریخي حقونو او سوابقو، د افغانستان پرحقانیت د انګلستان د کمیشر دلایل، د سیستان د تصرف موضوع، د کلیاتو، رایه او حکم لنډیز شامل دي. د حکمیت د رایې په لنډیز کې ګولد سمیت په عدالت، انصاف او امثالو د ډېرې لګولو په ترځ کې داسې حکم کوي:

کله چې په یوه مسله کې تاریخي حقونه او اوسنی تصرف د یوه سیمه ییز مشر په شپږ اووه کاله پخواني نظامي اشغال ولاړ وي او په هغو حقونو او اړیکو برتري پیدا

---

عبدالغفار فراهی، افغانستان د دیموکراسی او جمهوریت په کلونو کې، ۲۰۰۲، دانش کتابتون قصه خوانی
[115] بازار پیښور، دویم چاپ ۲۰۷ مخ

کړي، چې لږ وړ ډېر د سلو کالو په شاوخوا کې په ټول هېواد کې عمومیت ولري او د حکمیت رایه د سیستان ایالت د کلابندۍ برخې تر ټولو ښه، له وګړیو ډک او ښیرازه ځای وړپرېږدي، په هر صورت په روښانه ډول د دې غوښتنه کوي او مناسب دي، چې د جبران کونکي لخوا زیانمن لوري ته له دې درکه ګټه ورسیږي.

له دې امله له شک پرته د ایران دولت ساحلي لښکرې باید د نادعلي کلا پرېږدي او د هلمند سیند دواړه غاړې د کوهک بند پورې افغانستان ته تسلیم کړي.

دا پریکړه هم مناسبه او هم عادلانه ده په ځانګړي ډول هغه مهال چې د سیند غاړو د سکوهه سیستانیانو، دشتک او اصلي سیستان له اوسیدونکو سره پرتله شي. په داسې صورت کې د هیرمند سیند اصلي ناوه به له کوهکه تر ښکته ځایه د ایراني سیستان تر لویدیځو غونډیو پورې چې د کرکیلې ځمکې رانغاړي د افغاني سیستان حدود ګڼل کیږي؛ نو ملک سیاه غر مناسبه نقطه ښکاري، چې سیستان له کرمان څخه جلا کوي.

نوموړی زیاتوي چې د سیستان شمال یانې دایران سویلي برید هم دلاش جوین پوله ده، جایزه نه ده، چې د ایران له هامون څخه ورتیر او هاخواته متوجه شي. همداراز کرښه له جبې تر سیاه کوه( تور غره) پورې بندان ته نږدې ده، دا کرښه په څرګند ډول د ایران متصرفات ټاکي. دا موضوع هم باید په پام کې ونیول شي، چې له دواړه خواوې په هیڅ ډول شرایطو کې حق نه لري چې د هیرمند سیند دواړو غاړو د کرنیزو ځمکو په اوبو کې لاسوهنه او تصرف وکړي.[116]

## ج - د هلمند د اوبو په اړه د ایران او افغانستان ترمنځ اختلافات

د هلمند اوبو څخه ګټه اخیستنه د ایران او افغانستان تر منځ په اړیکو کې یوه

---

[116] غلام رضا فخاري؛ **د هیرمند سیند په اړه د افغانستان او ایران دولتونو اختلاف**، ژباړن: عبدالقیوم مشوانی، ۱۳۸۹، همدرد کتابپلورنځی جلال آباد، ۳۹ مخ

جنجالي موضوع پاتې شوې ده او شاوخوا ۱۰۰ کاله يې د دواړو خواو پر اړيکو اغېز بښندلی، تر هغو چې د ۱۳۲۶ کال وچکالی د دواړو خواوو ترمنځ د بې باوری او سوتفاهم زمينه برابره کړه. د دې خواوو ترمنځ شديد اختلافات سبب شول چې امريکا د منځګړيتوب وړانديز وکړي. په ۱۳۲۷ کې د دواړو خواوو متخصصينو چې د امريکا له لوري مشخص شوي وو، په کار پيل وکړ، د ياد کال په اوړي کې د دواړو خواوو استازو په واشنګټن کې مذاکرات وکړل او د دې مذاکراتو په پای کې يو بيطرفه کميسون د ۱۹۵۰ کال اکتوبر مياشت کې دواړو هېوادونو ته سفر وکړ او خپل راپور يې د فبروری په ۲۸ په کال ۱۹۵۱ کې په واشنګټن کې خپور کړ.[117]

د افغانستان دولت د مختلفو ناستو په ترڅ کې د ناپيليې کميسون راپور وارزووه او بالاخره په ۱۳۳۱ د سنبلې په ۲۹ مه يې پريکړه وکړه ،چې ددغه راپور مونږ منې او له ايران سره به په دې اړه هوکړې ته ورسيږي.

د ايران دولت د بيلابيلو دلايلو لمخې د کميسيون راپور خوښ نه کړ او ياد مذاکرات وځنډول، تر هغې چې بالاخره په ۱۳۵۱ کې د حوت په ۲۲ مه د موسی شفيق او عباس هويدا کابل کې هوکړه ليک لاسليک او دې اختلاف ته ظاهرا د پای ټکی کېښودل شو.

د لومړنيو مخالفتونو سره ،سره د افغانستان پارلمان هم په ۱۳۵۲ د جوزا په ۹ مه تصويب او ضمايم يې تصديق کړل او ۴ ورځې وروسته د افغانستان د شاه لخوا توشيح شول، لږه موده وروسته( د سرطان په ۲۶) کودتا وشوه او په هېواد کې سلطنتي رژيم له منځه لاړ.[118]

د ايران لخوا دا تړون په ۱۳۵۲ د ايران اسلامي شورا مجلس لخوا د ډېرو اوږدو مخالفتونو وروسته تصويب شو. د څو کلن ځنډ وروسته په ۱۳۵۶ کال جوزا په ۱۵

[117] پوهنمل نجيب آقا فهيم، آب، صلح و امنيت برای همه، کابل، چاپ اول، ۱۳۹۵، ص۱۸
[118] وحيد مژده، روابط سياسی ايران وافغانستان در قرن بيستم، کابل، ۱۳۸۹، بنګاه انتشارات ميوند، ص ۲۲

مه د ټرون اسناد د سردار محمد داودخان د صدرات په وخت کې مبادله شول.
داودخان په خپله یوه بیانیه کې دې موضوع ته دا ډول اشاره کوي:« د افغانستان او ایران دولتونو تر منځ اړیکې د دیني علایقو پر اساس ولاړې دي، د هلمند اوبه یوائینی موضوع وه چې د دواړو خواوو اړیکې یې خړې کړې وي، له کله راهیسي چې ټرون امضا، تصویب، توشیح او اسناد یې مبادله شول، هیڅ داسي بل خنډ نشته چې زموږ د اړیکو پراختیا مخه ونیسي.»[119]

## د - د افغانستان او ایران تر منځ د هیرمند سیند په اړه د اختلاف ټکي

### الف: هیرمند، داخلي او که نړیوال سیند؟

تر ټولو مهم ټکی دا دی چې دواړه هېوادونه پر دې سره جوړ نه دي چې هیرمند، نړیوال او که ملي سیند دی. افغان دولت د ۲۰ مې پېړۍ په لومړیو کې دا سیند داخلي بللی او ظاهرا د هماغه راهیسې اختلاف له همدې ځایه پیلیږي.[120] د افغان دولت لخوا د انحصاري کولو ادعا د مک ماهون د حکمیت څخه په ۱۹۰۴ میلادي کې معلومیږي ، نوموړی لیکی:« د افغانستان دولت دا نه مني چې د اوبو په اړه اختلاف موجود دی، ځکه چې د دې هېواد جغرافیوي موقعیت، یواځې دوی د هیرمند سیند مالک ګڼي».[121]

په نړیوالو حقوقو کې سیندونه په دوه ډوله ملي او نړیوال سیندونو باندې ویشل کیږي.

بیلا بیلو نړیوالو بنسټونو، نړیوال سیندونه تعریف کړي دي،موږ یې یو څو تعریفونه

---

[119] پوهنمل نجیب آقا فهیم، مخکینی، ص۱۹

[120] رضا موسی زاده او مرتضی عباسزاده، مخکینی، ۱۶۹ مخ

[121] پیروز مجتهدزاده (۱۳۷۴)، هیرمند و هامون در چشم انداز هیدروپولتیک خاور ایران، مجله اطلاعات سیاسی و اقتصادی، شماره ۱۰۱و ۱۰۲

را اخلو:

د نړیوالو حقوقو موسسې د اکتوبر په ۱۹ کال ۱۹۳۴ پاریس کې د نړیوالو سیندونو او اوبو لپاره لاندې شرایط لازم بولي.

هغه سیندونه چې نړیوال بلل کیږي، عبارت دي له هغې اوبیزې لارې چې یوه برخه یې په طبیعي ډول د کشتۍ چلولو وړ وي او د دوه یا څو هېوادونو څخه تیریږي او یا هم یاد هېوادونه سره جلا کړي او همدا ډول نورې د سر برخې یې همدا ځانګړنې ولري.[122]

د 1958 نیویارک قطعنامه نړیوال سیندونه دا ډول تعریفوي:« په دوه یا څو هېوادونو کې د سطحې اوبو جریان چې په طبیعي او هم په مصنوعي شکل سره وي».

د هغو نړیوالو اوبو کنوانسیون چې د کشتۍ چلولو وړ نه وي، د دویمې مادې وروستی بند وایي چې نړیوال اوبلارې هغه دي چې یوه برخه یې په بل یا نورو هېوادونو کې واقع وي.

د پورتنیو توضیحاتو په نظر کې نیولو سره دا ویلای شو چې د هیرمند سیند نړیوال دی.[123]

## ب) د افغان دولت لخوا پر مطلق ساحوي حاکمیت ضمني تاکید

د ایران دولت او مبصرینو په حواله چې ګواکې افغان دولت ادعا لري چې د هلمند سیند د دوی په خاوره کې دی، نو ځکه دوی صلاحیت لري چې دا اوبه هر ډول استعمال کړي. د ویانا کنګرې ۱۹۱۹ څخه پخوا د نړیوالو سیندونو په اړه دا

---

[122] Institute of international law( IIL) 1934, Regulation governing navigation on international rivers, resolution of paris, 19 october

[123] رضا موسی زاده و عباس مرتضی زاده، مخکیني، ۱۷۳ مخ

دود وه چې هېوادونو به متوالي نړیوالې اوبه خپلې ګڼلې او هر ډول تصرف به یې پکې کاوه، یانې په واقعیت کې د مطلق حاکمیت اصل حاکم وه.

مګر افغان دولت وايي چې دوی د ۱۹۷۳ کال هوکړې سره سم رفتار کوي او د موسی شفیق هوکړې ته ملزم دي.[124]

## ج) د دوه هېوادونو لخوا د اوبو انحراف

د اوبو انحراف د هلسینکی ۱۹۶۶ کال کنوانسیون د موادو خلاف ده او د مشترکې او منصفانه ګټې اخیستنې په لار کې لوی خنډ دی. ایراني مقاماتو په وار، وار دا خبره کړې چې افغان دولت د بندونو په جوړولو سره هڅه کوي د اوبو لوری بدل کړي، دوی وايي د ګولد سمیت په حکمیت کې هم دا خبره شامله ده چې هیڅ یو اړخ دا حق نه لري د هیرمند دواړه خوا کرنیزې ځمکې تصرف کړي او د دوی په وینا افغان حکومت د ګولد سمیت حکمیت سره، سره د اوبو مسیر بدل کړ، دغه چاره په وروسته کلونو کې هم تکرار شوه. د کجکي، کمال خان، بقرا او داسي نورو بندونو په جوړولو هڅه کوي، ایران دولت ته زیان واړوي او په دې اوبو د مطلق حاکمیت غوښتنه کوي او د برېښنا تولید هم د افغان حکومت لخوا د اوبو د لوري بدلولو هڅه ده.[125]

مګر افغان حکومت بل روایت لري. افغان چارواکي وايي چې د افغانستان په داخل کې د اوبو کنټرول د ګاونډیو لپاره تهدید نه بلکه فرصت دی، دوی باور لري چې د افغان حکومت له لوري دا چاره د سیمه ییزو همکاریو لپاره اړینه ده او باید ګاونډیان یې هرکلی وکړي.

د اوبو او برېښنا وزارت ویاند، بصیر عظیمي وايي« افغانستان یو کرنیز هېواد دی

[124] مرتضی عباسزاده او موسی رضا زاده، مخکینی، ۱۷۳ مخ

[125] هماغه، ۱۷۵ مخ

او د اوبو کنټرول او مدیریت د اقتصادي ودې، د کډوالۍ او نشه يي توکو د کموالي سبب کيږي، د افغانستان ګاونډي که چيرې د متقابل احترام پر بنسټ، د اباد او سوکاله افغانستان غوښتونکي وي، نبايد دوی دا تهديد وګڼي، بلکې د دې چارې هرکلی وکړي».

يواځې ايران نه ، بلکې کابل هم په ايران کې د نړيوالو اوبو مديريت او کنټرول په اړه جدي انديښنه لري. په ايران کې د بندونو جوړول، د افغانستان په سرحدي سيمو بدې محيطي اغيزې کړې دي. د بصير عظيمي په وينا هغه ځمکې چې په غوريان او نيمروز کې کرل کېدې، د ايران حکومت لخوا د بندونو جوړولو له امله تولې وچې شوې او خلک يې کډوالۍ ته مجبور شوي دي.

ياد دولتي مقام وايي چې د افغانستان لويديځې سيمې په خپله د اوبو بحران سره مخ دي او که دې سيمو ته د اوبو کنټرول او مديريت کې جدي پام و نه شي؛ دې سيمو کې به هم د وچکالۍناورين راشي.[126]

## د) د افغانستان لخوا د اوبو ذخيره کول

د ګولد سميت حکميت په ۱۹۰۳ کې ترسره شو او د اوبو پر لار د موانعو جوړولو او کانالونو ايستلو په اړه وايي« دواړو خواوو ځخه هيڅ يو يې دا حق نه لري چې په اوبو باندې موانع، بند يا نهر جوړ کړي په داسي توګه چې د دواړو خواو کرنيزو ځمکو ته زيان واړوي، دواړه لوري حق لري چې په خپله خاوره کې پخواني نهرونه جاري وساتي او د هيرمند خوا نوي نهرونه جوړ کړي؛ په دې شرط چې د دواړو خواوو زراعتي ځمکو لپاره اوبه کمې نه شي.

---

[126] الياس نوانديش، سدسازی کابل؛ نگرانی های تهران و پيامدهای ستراتيزی مديريت آب، خبرنامه، ۱۵ سرطان ۱۳۹۶ د نورو جزياتو لپاره لاندې لينک وګورئ: http://khabarnama.net/blog/2017/07/06/iran-concerns-over-afghanistan-dam-constructions/

سره له دې چې دهیلمند دلتا ګډ کمیسون چې په ۱۹۴۷ کې رامنځته او د امریکا، چیلي، ایران او افغانستان استازي پکې شامل وو ،داسي نظر څرګند کړ:

کجکي بند مخزني مانع ده او اضافي اوبه راجمع کوي، له همدې امله د سیند پاسنۍ برخه کې د پراختیا لامل کيږي، پرته له دې چې د ایران اوبو سهم ته کوم نقصان پيښ شي. همداراز د ارغنداب بند د هیرمند په دلتا کوم تاثیر نه لري، په دویم پړاو کې د کجکي او بقرا بندونو د ساختمانی چارو بشپړيدو څخه وروسته عمراني نقشې پراختیا ومومي، پرته له دې چې د سیستان او چخانسور خړوبولو باندې کومه اغیزه وکړي.[127] په همدې حال کې نن ورځ د کمال خان بند په اړه د دواړو خواوو ترمنځ جدي اختلاف موجود دی او هغه هم د ایران حقآبه په اړه دی. ایرانیان وایي چې د ۱۳۵۱ قرارداد پر خلاف افغان حکومت د سیند په پورتنۍ برخه کې د وچکالی پرمهال اوبه اخلي او په دې ډول تاوان یې د ایران خوا( ښکتنی) برخې ته رسیږي او په نتیجه کې ضرر یواځې ایراني سیستان ته متوجه دی.[128]

د دواړو خواوو کمیشنرانو په غونډه کې یو ستونزه هم د نارمل او غیرنارمل(وچکالی) کال اوبو تعینول دي. ځکه ایران ادعا کوي چې د دوی حقابه د ذخیره شویو اوبو په پرتله حسابیږي. په دې وروستیو کلونو کې دواړه خواوې د ذخیره شویو اوبو مقدار په اړه هم سره یوه خوله نه دي.

د دوی په وینا افغان حکومت په ځینو میاشتو کې د ذخیره شویو اوبو مقدار کم ښيې او ایراني سلاکاران هم د امنیتی ملحوظاتو له کبله سیمې ته نشي تللای. دا په داسې حال کې چې افغان حکومت هم په وار وار اعلان کړی چې د وچکالی له امله د ډیری سیمو خلک کډوالی ته اړ شوي او ځمکې یې شاړې شوي، هغه څه

---

[127] منوچهرامامی(۱۳۸۱)، « سیاسي: رودخانه مرزی هیرمند و اثرات امنیتی آن»، فصلنامه مطالعات دفاعی استراتیژیک، شماره ۱۳ و ۱۴، تابستان، ص ۹۷.

[128] رضا موسی زاده او مرتضی عباسزاده، مخکینی، ۱۷۷ مخ

چې ایران یې تش بهانه بولي.[129]

## ه: د اوبو تحویلولو دول

سره له دې چې د هلمند سیند په اړه د ګټې اخیستنې هوکړه لیک د دواړو خواو له لوري په ۱۳۵۱ کې رامنځته شو، خو د دې قرارداد د اجرا لپاره د کمیشنرانو لومړنۍ غونډه په ۲۰۰۴ کال تهران کې جوړه شوه. په دې غونډه کې د اختلاف یو دا ټکی مطرح شو چې اوبه څرنګه د افغان دولت لخوا ایران ته تحویلې شي.

په همدې غونډه کې پریکړه وشوه چې ایران به اوبه په لاندې دریوو محلونو کې تسلمېږي.

- په هغه ځای کې چې د سرحد کرښه د سیستان رود قطع کوي.
- په دوه نورو ځایونو کې چې د دواړو خواو کمیشنرانو لخوا ټاکل کیږي او د هلمند پر سیند پراته موقعیتونه دي.

د پورتنیو دوه محلونو ټاکل د هېوادونو له تصویب وروسته نافذیږي. له همدې کبله د تحویلولو څخه مراد دا کیږي چې افغان دولت به په ګډ سرحد کې د ایران حقابه تحویلوي. د ایرانیانو په وینا له همدې کبله د افغانستان دولت د عمدي او غیر عمدي موانعو په ایجادولو مسؤل دی.[130]

## ذ) د ایران او افغانستان ترمنځ د اوبو پرسر د اختلاف سوالونه

د هیرمند اوبو نوسان د کومو عواملو له امله پیداکیږي؟

د هیرمند اوبو نوسان د دواړو هېوادونو پر اړیکو څه اغیز کوي؟

د افغانستان او ایران جیوپولیتیک لیدلوری د هیرمند په اړه څنګه دی؟

[129] هماغه، ۱۷۹ مخ

[130] هماغه ۱۸۰ مخ

**لومړی فرضیه**: د هیرمند اوبو نوسان او د ایران په خوا یې د جریان کمیدل د یو سلسله طبیعي او سیاسي عواملو لمخې ترسره کیږي. که د دوه هېوادونو رژیمونه متعارض لیدلوری ولري، د دواړو هېوادونو پر اړیکو بده اغیزه کوي او هر کله چې وچکالي د هیرمند اوبو کمېدو سبب شي، په ښکته خوا کې د اوبو جریان کمیږي. په باالعکس شرایطو ( د اوبو ډیریدو) کې په سیمه کې مطلوبې اوبه شتون لري. په واقعیت کې د هیرمند سیند اوبو نوسان د ټول سیند په جریان او د سیستان په طرف د اوبو کمیدنه د یو سلسله سیاسي عواملو لمخې تشدید کیږي. د سیند په پورتنۍ برخه کې د وچکالۍ او ورښت کمیدل د دې باعث کیږي چې د سیند په ښکتنۍ ( دلتا) برخه کې د اوبو جریان کمیږي. په ځینو کلونو کې چې د ورښت کچه کمه وي د چخانسور او سیستان او د افغانستان منځنۍ برخې له وچکالۍ او د اوبو له کمښت سره مخ وي. د افغانستان دولت په هیرمند سیند پورې ډیر تړلی دی، صنعت، کرنه او د سیاسي او اقتصادي شرایطو لپاره حیاتي ارزښت لري. که څه هم د هیرمند په پورتنۍبرخه کې افغانستان د کانالونو احداث او د اوبو انحراف حق لري، خو که دا اقدامات د سیستان په لوري اوبه کمې کړي، د ایران لپاره د پام وړ مسله وه او ده."[131]

**دویمه فرضیه:**

د اوبو نوسان او د ایران په لوري یې کموالي تل د هېوادونو پر اړیکو بده اغیزه کړې ده. د هیرمند د اوبو نوسان تاثیرات د دواړو هېوادونو پر اړیکو کولای شو په دوه ملي او محلي سطحه وڅیړو. په محلي سطحه د سیستان او چخانسور خلک دې اوبو ته شدیده اړتیا لري، د دې سیمې د اوبو یواځینۍ منبع ده او د وچکالۍ په وخت کې د دې سیمو خلک له سختو ستونزو سره مخ وي او کوښښ کوي چې د

---

[131] هماغه ۶۶مخ

موانعو په تخریب سره اوبه خپل لور واړوي او په نتیجه کې منازعات او شخړه رامنځته کیږي. دې شخړو تر ۱۳۱۵ وچکالۍ کلونو پورې دوام درلود چې په همدې کال کې د طرفینو لخوا د اوبو ویشنې قرارداد په رامنځته کیدو یو څه کمې شوې.
په ملي کچه هم ایران د اوبو د کمښت له وجهې همیش افغان دولت ته اعتراض کړی او د افغانستان له لوري د اوبو پر ډیریدو ټینګار کوي.
له نیکه مرغه تر اوسه کومه جدي شخړه او منازعه د دې اوبو پر سر د دواړو هېوادونو ترمنځ نه ده رامنځته شوې. حتی په ۱۳۱۵ کې د ایراني سیستانیانو او افغان چخانسوارنو ترمنځ له اخ وډب وروسته نظامي قوتونه یو بل ته سره په مورچې کې کېناستل خو سره وانه وښتل.
د دواړو هېوادونو اړیکو ترینګلیتا عوامل د هیرمند اوبو نوسان په اړه د مختلفو داخلي، سیمه ییزو او نړیوالو عواملو څخه متاثره دي.

## درېیمه فرضیه:

د جیوپولیتیک له پلوه د هیرمند رود افغانستان لپاره مثبت او د ایران لپاره منفي رول اداکوي او افغانستان کولای شي د دې سیند څخه د سیاسي وسیلې په توګه ګټه پورته کړي. ټولې سرچینې يې په په افغانستان کې دي. د دې سیند ۹۵ سلنه مسیر د افغانستان په فضا کې جاري دی. د افغانستان لپاره دا وضعیت موکه په لاس ورکوي چې بندونه او کانالونه جوړ کړي، اوبه انحراف کړي او په یو ډول اوبه په اختیار کې ولري.
له بله اړخه د دې سیند په ښکتنۍ برخه کې د سیستان موقعیت هم د دې سبب کیږي چې د وچکالۍ په وخت کې دا سیمه شدیده زیانمنه شي، د دې سیمې خلک د زراعتي محصولاتو په له لاسه ورکولو سره دا سیمه پرېږدي. د افغانستان جنوبي او جنوب غرب ولایتونو شدید تړل کېدل په هیرمند پورې هغه څه دي چې

د دې سيمې په اقتصادي او کرنيز وضعيت کې مهمه ونډه لري. په افغانستان کې د هيرمند سيند څخه ګټه اخيستنه د خلکو له ملي ملاتړ څخه برخورداره ده.[132]

نيمګړ تياوې:

- د سيمه ييزو اوبو څخه د ګټې اخيستنې لپاره د همکاريو په منظور د يو مشخص او معين حقوقي چوکاټ نه شتون.
- د هېوادونو په قلمرو او د پولې د باندې اوبو په اړه د دوی لخوا يو اړخيز اقدامات او کړنې چې د بي اعتمادۍ سبب کيږي.
- په مطالعاتي او تحقيقاتي مراکزو کې د افکارو تحول ورو بهير، چې د پخواني تفکر پر بنسټ ملي امنيت ته نظامي ماهيت ورکوي او په ګاونډيو هېوادونو کې د نظامي او امنيتي ابزارو په واسطه د ستراتيژيک عمق په لټه کې دي.
- د هايدرولوژيکي او متروپولوژيکی اطلاعاتو د جمع کولو، تحليل او مبادلې نه شتون او همداراز د اوبو منابعو د مديريت په اړه د جوړښتونو کمزور تيا.
- د هايدرولوژي او د ملي اوبو ساختار په اړه د ملي او جزيره ای تفکر ترمنځ د تضاد شتون.
- د ګاونډيو هېوادونو لخوا د کرنې لپاره شاو خوا ۹۰ سلنه اوبه اختصاصول.
- په سيمه ييزو پکتونو او سازمانونو کې د دې حياتي موضوع په اړه د مذاکراتو نه شتون.

## د هيرمند سيند په اړه وړانديزونه

د دواړو هېوادونو لپاره د هيرمند سيند اقتصادي ارزښت او د دې سيند د نوسان اغېزې د طرفينو پر سياسي اړيکو ،د دواړو خواوو سياستونو پورې تړلي دي. د دې

---

[132] داکتر جعفر مهدوی، مخکینی، ۶۹ مخ

لارې کیدای شي د طرفینو اړیکې ښې او یا باالعکس خرابې شي. نو د همدې لپاره د مطالعاتو په نظر کې نیولو سره په دې برخه کې لاندې وړاندیزونه اړین بولم.

- ✓ د هیرمند اوبو د تقسیم مسله یوه سرحدي موضوع ده، سیاسي باید نه شي او هڅه وشي هغه عوامل چې دا موضوع سیاسي کوي، له منځه ولاړ شي؛ ځکه د دې موضوع سیاسي کول د دواړه خواو په ضرر دي.
- ✓ د هیرمند سیند د منابعو مدیریت په اړه د دواړو هېوادونو ګډه پانګونه حیاتي رول لوبولی شي او په دې برخه کې باید هڅه وشي چې د خړوبولو نوی سیستم پراختیا، د وچکالۍ لپاره د اوبو ذخیره کول او د سیلابونو کنترول تر سره شي.
- ✓ په تجارتي، اقتصادي، ارتباطي او فرهنګي برخو کې همکاري د دې باعث کیږي چې دواړه لوري په دې مسله کې هم ګډ لیدلوري ته ورسیږي.
- ✓ د طرفینو ترمنځ د موجودې هوکړې تطبیق کیدل.

# ۲ - افغانستان او پاکستان

## له کابل سینده د پاکستان ګټه اخیستنه

د کابل- اندوس سیند د هېواد له مهمو اوبیزو حوزو څخه یوه ده، چې د بیلابیلو فرعي سیندونو درلودونکې ده. مبدا یې په کابل پغمان کې ( اونۍ دره) کې ده، د کابل ښار له منځ څخه تیریږي او د افغانستان په خاوره کې د لوګر، پنجشیر، علي شنګ او علینګار،کنړ او چترال اوبو په یوځای کېدو سره پښتونخوا او تر هغې وروسته پاکستان ته بهیږي.[133]

دا سیند په سرطان میاشت کې حد اکثر ته رسیږي او په حوت میاشت کې یې

[133] نجیب آقا فهیم، هایدروپولتیک افغانستان عامل بالقوه برای صلح، ۱۳۹۱، کابل، سلسله نشرات گفتگوی سبز منطقه یی، چاپ اول، ۲۶ مخ

حداقل اوبه ثبت شوي دي او حد اوسط يې په ۱۹۶۰ -۱۹۷۴ کلونو کې د تورخم د اوبو اندازه کولو آلې څخه په ګټه اخيستنه په ثانيه کې ۳۰۰۰ متره مکعبه ثبت شوي دي.[134]

په افغانستان کې د اوبو اخيستلو اندازه يې ۷۶۹۰۸ کيلومتره مربع مساحت ده او د اوبو ورکولو اندازه يې ۲۱۶۵۰۰۰۰۰۰ متر مکعب اوبه دي چې د هېواد ۲۶ سلنه رواني اوبه تشکيلوي. ددې حوزې اوبه د پنجشير، کاپيسا، پروان، کابل، ميدان، لوګر، پغمان، ننګرهار، کنړ او نورستان د سيمو ۷۱۸۴۹۷۴ تنو اړتياوې پوره کوي.[135]

د ملګرو ملتونو له هغو خبرداريو سره ،سره چې په راتلونکې يوه نيمه لسيزه کې به د نړۍ ۴۰ سلنه اوبه کمې شي، د پاکستان د سړي سر اوبو سهم خواوشاه ۱۰۰۰ متره مکعبه دی او د هغو هېوادونو په قطار کې حسابيږي چې شديدا د اوبو له کمښت سره مخ دي. دا هغه څه دي چې د پاکستان پر صنعتي، توليداتي او کرنيز وضعيت بدې اغېزې کولای شي.

د جمعيت زياتوالی، د ځمکې لاندې اوبو څخه نامعقوله ګټه اخيستنه، چاپيريالي تغيرات او د ورښت کمښت هغه لاملونه دي چې په پاکستان کې يې د اوبو منابع زيانمنې کړې دي.[136]

د پاکستان د پلان جوړونې او پراختيا ادارې راپور ورکړ چې په پاکستان کې د اوبو منابع د ۱۲۹۹ مترمکعب څخه په ۱۹۹۷ کال کې ۱۱۰۱ مترمکعب ته راکمې شوي دي.

د پاکستان ښاري سيمو اوسيدونکي د اسلام آباد ځينو سيمو، کراچی او

---

[134] غلام جيلانی عارض، درياهای افغانستان، اداره کتابخانه سيار اريک، ۱۳۸۳، ۷۵مخ

[135] Watershed atlas of Afghanistan, book2, watershed maps,part IV, RAPHY FAVRE, water shed consultant, golam monowar kamal, AIMS filed coordinator, January 2004, Kabul, and p37

[136] بحران کم آبی؛ چالش بزرگ ايران و نگرانی های جهانی، دويچه ويله فارسی، محيط زيست،۲۲/۳/۲۰۱۵

حیدرآباد پرته نور ټول د ځمکې لاندې اوبو څخه د ښناک لپاره کار اخلي. د پاکستان ۹۶ سلنه اوبه په کرنه لګول کېږي چې په ۲۰۰۱ کې کرنه د دې هېواد ۲۵ سلنه ناخالص ملي عوايدو برخه جوړوله. دا هېواد اوس هم په نړۍ کې د اوبو لګولو لوی سیستم درلودونکی دی چې په ۲۰۰۰ کال کې د پاکستان د کر ځمکې مساحت خواوشاه ۱۸۱۰۰۰ کیلومتره مربع ته رسیږي. د پاکستان د جمعیت زیاتوالي په نظر کې نیولو سره پاکستان شدیدا اوبو پورې تړلی دی او د غذا، برېښنا او کورني مصرف لپاره تر ټولو شدیده اړتیا اوبو ته لري.[137]

د اندوس حوزې مساحت په پاکستان کې ۲۵ سلنه خاوره تر پوښښ لاندې راولي او د دې هېواد ډېری کرکېلې په همدې سیمه کې موقعیت لري او د پاکستان ۸۰ تر ۸۵ سلنه خلک هم په همدې سیمه کې میشت دي. په پاکستان کې د اندوس حوزې او فرعي څانګو اوبو ورکولو اندازه په کال کې ۱۵۲ ملیونه اکرفت[138] ته رسیږي. د دې مقدار څخه یې ۱۴۳ ملیون اکرفته د افغانستان او ۸،۴ ملیون اکرفته یې د هند فرعي څانګو څخه ترلاسه کیږي.[139]

په ۲۰۰۴ کې ډیلي ټایمز ورځپانه په خپله ۲۸ مه ګڼه کې د پاکستاني سرچینو له قوله لیکي چې: د کابل او کنړ سیندونه د اندوس مهمې فرعي څانګې تشکیلوي او د افغانستان ۱۵ سلنه د مشروع ګټې اخیستني کچه به کمه کړي. یوې بلې پاکستانۍ ورځپاڼې the nation په همدې کال کې راپور ورکړی وو چې د کابل، کنړ او د افغانستان له نورو فرعي شعبو څخه ۱۸ ملیونه اکرفته اوبه پاکستان ته بهیږي، په داسي حال کې چې د پاکستان د اوبو اړتیا په کال کې ۱۱۶ ملیونه اکرفته ده.

---

[137] نجیب آقا فهیم، مخکینی، ۲۷ مخ

[138] د اوبو د انداره کولو واحد دی

[139139] Pakistan water source strategy, executive summery, volume1 , October 2002, p5``

د پاکستان د اوبو او بریښنا وزارت په رسمي سایت کې د پاکستان د اوبو منابعو نقشه کښل شوې چې د کابل سیند هم پکې شامل دی، دې جدول ته په کتو د پاکستان زیاته کچه اوبه له همدې سیند څخه پوره کیږي په داسې ډول چې په لومړۍ مرحله کې د پاکستان د ټولو ۱۸۹ ملیونه کرفته اوبو څخه ۲۶ ملیونه، په دویمې مرحلې کې د ۱۴۸،۸ ملیون اکرفته څخه ۲۳،۴ ملیون اکرفته او په دریمه مرحله کې له ۹۲،۶۲ ملیونه څخه ۱۸،۹ ملیون اکرفته اوبه له افغانستان څخه تامینیږي او د پاکستان ۲۰ سلنه اړتیاوې پوره کوي.[140] پاکستان ته ۳۶ سلنه د اړتیا وړ اوبه له بهره ورځې چې ۲۰ سلنه یې د افغانستان څخه دي. دا په داسې حال کې ده چې ملګرو ملتونو په دې وروستیو کې د لسو هغو هېوادونو لیست خپور کړ چې شدیدا د اوبو منابعو له کمښت سره مخ دي او پاکستان د سومالیې، موریتانیې،سودان، نایجریا،عراق او ازبکستان څخه وروسته په کې اووم ځای لري، مصر، ترکمنستان او سوریه وروسته له پاکستانه په دې جدول کې قرار لري.[141]

## ۳ - افغانستان او د مرکزي اسیا هېوادونه

د مرکزي آسیا درې هېوادونه تاجکستان(۱۲۰۶ کیلومتر)، ازبکستان ( ۱۳۷ کیلومتر) او ترکمنستان(۷۴۴ کیلومتر) د افغانستان په شمال او شمال لوېدیځ کې موقعیت لري.

د شمال لوري په لویه پیمانه د کرنې او اوبو لګولو ظرفیت په درلودلو سره، د ګاونډیو سره د ګډو اوبو په اړه هوکړې ته رسیدل ډیر مهم دي. د افغانستان او دې جمهوریتونو ترمنځ سیاسي او اقتصادي پیوندونه په تیر کې مستحکم ول او په

---

[140] فصلنامه مطالعات ستراتیژیک، شماره های یازدهم و دوازدهم، نشر وزارت امور خارجه، کابل زمستان و بهار، ۱۳۸۶ ۹۵ مخ

[141] ناصر، کرمی، ایران و خطر آمیختگی خشکسالی و خشونت، ۶ بی بی سی فارسی، اظهار نظر، اکتوبر ۲۰۱۴

پایله کې د لاندې طرحو په تعقیب تمام شوي دي: د ترکمنستان نه افغانستان ته د ریل ګاډي پټلۍ او د انرژۍ لېږد خطوطو جوړول، په پنج سیند د امریکا په مالي ملاتړ د بند جوړول، د افغانستان، ایران، تاجکستان لخوا د فارسي ژبو هېوادونو اتحادیه رامنځته کول او د افغانستان، ترکمنستان، پاکستان او هند ترمنځ د تاپي پروژې طرح کول.

خو سره له دې د اوبو په برخه کې( د اوبو ویش او یا په دې اړه د یو خاص میکانیزم رامنځته کولو) د دې هېوادونو ترمنځ ډېر پرمختګ نه دی شوی چې ښکاره بېلګه یې د شوروي اتحاد په وخت کې د مرکزي اسیا هېوادونو ترمنځ د اوبو وېش موضوع کې د افغانستان نه شریکېدل دي.[142]

## ۴ - د سیمه ییزو همکاریو د پراختیا لپاره متقابل تړاو او اړتیا

اوبه داسې منبع ده چې د اجازې پرته د مختلفو هیواونو پر سیاسي پولو اوړي او د سیندونو، بحرونو او جهیلونو شکل غوره کوي. د پولې ها خوا اوبه د هېوادونو ترمنځ مشترکې اړتیا او تړاو سبب ګرځي او په دې ترتیب د ګډ اجماعي اقدام غوښتنه کوي. د سړې جګړې وروسته د اوبو کمښت په نړۍ کې په یوه جدي اندېښنه واوښته چې دا پخپله په نړۍ کې د ځینو اختلافاتو راټوکیدو لامل شو او د بحران پر حل ستراتیژۍ یې خاص سیوری غوړولی دی. د اوبو مدیریت د امنیت له معما(کیسی) سره تړلی ګڼل کیږي او دا امر د دې سبب شوی چې د رایجو فني اړخ ووځي او د محرمو او امنیتي مسایلو له جملې څخه وګڼل شي. په دې ټکي

---

دغه ابتکارات لاندې مواردو ته شاملېږي: د اوبو د مدیریت په عرصه کې د بین الدول کمیسیون رامنځته کول، دآرال سیند بین المللي صندوق، د آرال سیندنېزې حوزې بین الدول شورا، د مرکزي آسیا هېوادونو لخوا د ۱۹۹۵ مارچ قطعنامه. د آرال سیند ته د ګډې رسیده ګی په برخه کې پرمختګ او وروسره ګاونډ سیمه. همداراز د دې کړنو اغیزې په چاپیریال باندې او په ټولنیزه او اقتصادي برخه کې پراختیا رامنځته کول.[142]

تاکید د اهمیت وړ دی چې اوبه اوس د نړیوال امنیت مسلې پورې اړوند دي او د نورو مسایلو څخه یې اهمیت ډیر دی چې د ژوند او مرگ مطلق حکم لري. د دې سربیره یواځې د مخاطبانو د تایید په صورت کې ویلی شو چې د امنیت مسلې پورې تړاو لري.[143]

د اوبو پر سر د شدیدو رقابتونو موجودیت چې په پایله کې عمومي مناقشه رامنځته کیږي، د نظر خاوندان یې په دوه برخو ویشلي دي. په دې اړه تخصصي کتابونه کښل شوي دي چې اوبه د فوري او آني جگړو سبب کیږي. د مثال په ډول گلیک په دې اړه وایي چې اوبه او د اوبو دتامین سیستم به احتمالا د نظامي موخو او جنگي ابزارو څخه وکنل شي.[144] په همدې ډول homer Dixon د اردن او اوبو په اړه د نورو قضیو په تذکر سره وایي چې اوبه هغه منبع ده چې په ترخ کې یې هیوادونه د شخړو لمبو ته په ډیر احتمال کشکاږي. د اوبو پر سر شخړه او منازعه هغه وخت رامنځته کیږي چې ساحلي هیواد احساس کړي چې د خپلو ملي اهدافو په ترلاسه کولو کې له خنډ سره مخ دی او عموما د خو هیوادونو لخوا د گډو اوبو د گټي اخیستنې له امله دی.[145] تارتون هم په دې نظر دی چې د اوبو اړوند مسایل به د جنگ خطر زیات کړي.[146]

د اسلو نړیوالې موسسی(PRIO) وروستی څیړنې ښیې چې د اوبو کمښت او شخړې ترمنځ اړیکه شتون لري. نوموړې څیړنه زیاتوي هغه وخت چې اوبه پولې تشکیلوي او یا د دوه یا څو هیوادونو گډې اخیستنې په منظور وي، د جگړې احتمال لا ډیریږي. لیکن ځیني د چارو پوهان په دې باور دي چې اوبه او مدیریت

---

[143] نجیب آقا فهیم، مخکینی، ۲۹ مخ

[144] Peter,H.gleick, fresh water resource and international security, water and conflict, 1993, p.79.

[145] Homer, Dixon, 1994, p.19

[146] Turton, 2003, p.75

يې هغه مسايل دي چې هېوادونه د خپلو نوښتګرو کړنو په ترسره کولو سره جنګ منتفي کوي. وولف او هامنر د پورتنۍ نظريې طرفدران ګڼل کيږي.[147]

کله چې د اوبو مديريت موخه د چاپيريال ساتنه وټاکل شي، د هېوادونو ترمنځ د همکارۍ روحيه ډيريږي. نو له همدې کبله د اوبو منابعو په اړه همکاري احتمالا پراخ تاثيرات لري، په بل عبارت، د هېوادونو ترمنځ د اړيکو نورو برخو ته هم د همکارۍ روحيه غزيږي او په پايله کې اقتصادي پراختيا رامنځته کيږي.[148] بيلابيلو پوهانو په اوبو منابعو کې پراته بالقوه د همکارۍ روحيې پاملرنه کړې او د مثال په توګه يې په دې برخه کې د سيمه ييزو او نړيوالو موسساتو شتون مهم ګڼلی. د ۱۹۹۷ کال کنوانسيون هم په دې اړه د هېوادونو له خوا پر منصفانه او عادلانه توګه د اوبو ګټه اخيستنه باندې ټينګار کوي.

پورتنی تحليل او شننه د دې ښکارندويې کوي چې اوبه په بالقوه توګه د جنګ رامنځته کېدو سبب کيدای شي او همداراز د اړيکو پاللو سبب هم کيدای شي. د پولې ها خوا اوبه کابو هميشه د هېوادونو ترمنځ د شخړو او منازعو سبب ګرځيدلې دي. اوبه د ځينو داسې عواملو په اساس سره اوبدل شوي چې د اړيکو څخه پراخ بحث پورې اړوند دي، د ملي امنيت، اقتصادي فرصتونو او د چاپيريال ساتنې موارد هم پکې شامليږي.

د UNDP يو راپور په ۲۰۰۶ کې ښيې چې د هېوادونو ترمنځ د اوبو پر سر لفظي شخړې هم له دې کبله دي چې د هېوادونو پاملرنه د اساسي ارزښت( انساني امنيت) څخه بهر ده. په حقيقت کې د اوبو منابعو پر سر خبرو اترو کې انساني مسايل د ډير اهميت درلودونکي دي. اوبو ته بايد د متقابلې وابستګۍ( تړاو) په سترګه وکتل شي، چې د يو لوري ګټه د بل لوري په تاوان تمام نه شي، بلکه دواړه

[147] Wolf and hamner, 2000, p.25

[148] نجيب آقا فهيم، مخکينی، ۳۱ مخ

ګټه وکړي

که د اوبو پر سر متقابله همکاري او وابستګي ډېره نه شي، د چاپېريال، ټولنيزو عواقبو سربېره به د هېوادونو په امنيتي او سياسي وضعيت بده اغيزه وکړي چې ښه بېلګه يې د آورال د منابعو پر سر د هېوادونو ترمنځ شخړې او منازعې دي.[**]

[**] هماغه، ۳۳ مخ

Jalil Dadman



# پایله

افغانستان یو له هغو هېوادونو څخه شمېرل کېږي چې سمندر سره پوله او لار نه لري، مګر سره لدې د کال په اوږدو کې د افغانستان په غرونو کې دومره واوره ورېږي چې لوی سیندونه او ډنډونه ترې جوړېږي.

د مختلفو سیاسي او اقتصادي عواملو او ستونزو له امله تر اوسه پورې د دې سیندونو د اوبو څخه په کافي اندازه ګټه نه ده اخیستل شوې.

طبیعي منابع، که د ځمکې پر سر او یا د ځمکې لاندې وي، په مجموع کې د یوه هېواد ملي پانګه بلل کېږي او د هېواد په اقتصادي او فرهنګي برخه کې د ټولنو مهم عنصر بلل کیږي. سیندونه او د ځمکې لاندې اوبه د یو هېواد د طبیعي منابعو اساسي او قیمتي برخه جوړوي او د نړۍ لومړنی اقتصاد بلل کیږي او اوس هم یو با ارزښته او حیاتي ماده حسابیږي. په ۲۱ مه پیړۍ کې اوبه په نړۍ کې د هېوادونو ترمنځ په ستراتیژیک معضل بدل شوی دی، چې کیدای شي هېوادونه د خپلو همنوعو په وړاندې ورڅخه د سیاسي آلې په توګه ګټه واخلي.

هغه اوبه چې د هېوادونو ترمنځ مشترکې وي او یا ګډه پوله جوړوي، د هېوادونو ترمنځ په تازه او مهمو منازعاتو بدل شوې دي. په اوس وخت کې د ۵۰ هېوادونو په شاوخوا کې که چیرې د اوبو منابعو په اړه توافق ته ونه رسیږي، کیدای شي په جدي منازعاتو کې ښکېل شي. ځکه په نړۍ کې د اوبو څخه په لوړه کچه ګټه اخیستنه او د هوا کثافت ډیروالی له بله اړخه د دې مادې ارزښت څو چنده کړی او په اصطلاح رانه تیل ورته ویل کیږي. د دې حقیقت په نظر کې نیولو سره چې کابو

۲۰۰ اوبیزې منابع د دوه یا څو هېوادونو ترمنځ مشترکې دي، نو لېږي نه ده چې د هېوادونو ترمنځ منازعات پېښ شي.

د نړیوالو حقونو لمخې داخلي اوبه د یو هېواد هغه واړه سیندونه او کانالونو څخه عبارت دي چې د یو هېواد په قلمرو کې موقعیت لري.[1] یانې هغه اوبه چې له سرچینې څخه تر دهنې ( ) پورې د یوه هېواد په قلمرو کې بهیږي او د همدې هېواد په داخل کې لویه مسافه طی کړي، له همدي کبله هېواد خودمختار دی چې له دې اوبو څخه په هره اندازه او هر ډول چې گټه ترې اخیستلای شي، واخلي.

د دې ترڅنگ داسې سیندونه هم شته چې د څو هېوادونو څخه تیریږي او کله، کله د هېوادونو ترمنځ په شخړه او منازعه اوړي. د هېوادونو عمومي رویه او دوکتورین په دې سره یو خوله دي چې په طبیعي ډول د کشتی چلولو وړ وي او د دوه یا څو هېوادونو قلمرو سره جلا کوي او یا د څو هېوادونو څخه تیریږي.[2] له بده مرغه نن ورځ په نړۍ کې هیڅ حقوقي نورمونه او قواعد نه شته چې په یواځې توگه د دوه یا څو اړخیزه معاهداتو پرته د سیندونو اړوند چارې تنظیم کړي.

افغانستان هم د مرکزي آسیا هېوادونو، پاکستان او ایران سره د اوبو منابعو مدیریت په اړه ستونزې او کشالې لري او په دې برخه کې له ایران پرته د هیڅ گاونډي سره هوکړه لیک نه لري.

دا هغه څه دي چې په دې وروستیو کې د افغان دولت اړیکې له گاونډیو سره ترینگلې کړې دي.

د افغان دولت لخوا په دې وروستیو کې د اوبو منابعو مدیریت په اړه اقدام یو نیک او پر ځای گام دی، خو، په هیڅ ډول بسنه نه کوي، ځکه دغه پالیسي او اقدامات د یو واضح او روښانه جهت او لوري څخه برخوردار نه دي او په دې اړه د

---

[1] رضا ضیا بیکدلی، حقوق بین الملل عمومی، گنج دانش، ۱۳۵۷، ۲۹۱ مخ

[2] هماغه، ۳۳۰ مخ

بیلابیلو بنسټونو مسولیت په شفافه توګه روښانه نه دی.

په تیره لسیزه کې بې د اوبو سکتور ته په پروژه یي شکل لیدلي دي او د اوبو منابعو په سالم مدیریت یې منفي اغېز کړی. په ډیری کلیوالي او ښاري سیمو کې د اوبو انکشافي پروژې په مؤقتي توګه د نړیوالو سازمانونو او افغان حکومت لخوا پرمخ بېول شوي دي او په هغې کې د څښاک اوبو ته دلاسرسي په منظور په زرګونه ژورې څاګانې کېندل شوي دي. دغه کړنې سره له دې چې د کم وخت لپاره مفیدي دي او د خلکو د هرکلي سره مخ شوي، اما د اوبو منابعو څخه په بې باکه توګه ګټې اخیستنې ته یې لار هواره کړې ده. دا په داسې حال کې ده چې د اوبو حفظ لپاره نه په کلیوالي او نه هم په ښاري سطحه مؤثر او قوي میکانیزم شتون لري. باید د اړونده نهادونو نقش او ماموریت روښانه شي، د وزارتونو ترمنځ په دې برخه کې همکاري او همغږي زیاته شي، د نړیوالې ټولنې سهمګیری په مورد ستراتیژي رامنځته شي، په دې اړوند عامه پوهاوی او د بین المللي مدیریت موجوده میکانیزم زیاتوالی ومومي او د افغان دولت لخوا د پولې هاخوا اوبو په اړه، واضح، مؤثر او روښانه تګلوری وړاندې شي.

په دې مسله کې باید د ملي سیاست او قانوني چوکاټ په برخه کې ښه والی رامنځته شي، هر اړخیز چلند ته چې په کې مدني ټولنې، رسنی، علمي نهادونه، خصوصي او تحقیقاتي سازمانونه دخیل وي، اړتیا ده، په دې برخه کې اوږدمهاله ستراتیژي رامنځته شي، نه د اوسنیو پروژو په بنه. د سیمه ییزې همکاری ګټې واضح شي، د اوبو پر ډیپلماسی تمرکز وشي او د اوبو منابعو مدیریت په اړه د نړیوالو کنوانسیونونو غړیتوب ته لار هواره شي.

افغان دولت ته ښایي چې راتلونکې کې د اوبو سکتور په اقتصادي اړخ ډیر تمرکز وکړي، تر څو دې سکتور ته اولویت ورکړي.

سره له دې چې پورتنی څېړنه په هېواد کې د اوبو په سکتور کې د ټولو اړخونو د بیان وس نه لري او د دې اړخونو څېړل، ډېر کار او حوصله غواړي، نو هیله ده چې په راتلونکي کې د چارو کارپوهان او څېړنیز مرکزونه دا مسایل په دقیق او جدي ډول وڅېړي او په دې اړه روښانه حللارې ولټوي.